# د عمرې او حج مکمل لارښود

إعداد و ترتیب:

الحاج سیّد نور الله آغا (مدني)

(يُوَزَّعُ مَجَانًا وَلا يُبَاعُ)

نوموړی کتاب د خرڅېدو لپاره نه دی

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| ☜ د کتاب نوم: | د عمرې او حج مکمل لارښود |
| ☜ مؤلف: | الحاج سید نورالله آغا (مدني) |
| ☜ تصحیح کوونکی: | مولوي عبدالحی (عابد) |
| ☜ نظر ثاني: | حافظ شیخ محمد آغا (مدني) |
| ☜ د کمپوز چاري: | مولوي صدیق الله (مشال) |
| ☜ د چاپ کال: | ۱۵ د شوال ۱۴۴۷هـ ق / الموافق ۲۰۲۶ م |
| ☜ د چاپ شمېر: | (۵۰۰۰) |
| ☜ د چاپ وار: | پنځم |
| ☜ صفحې: | ۳۵۱ |
| ☜ ISBN | 978-9936-1-0644-4 |
| ☜ خپروونکی: | سید محمود آغا (مدني) او سید حامد آغا (مدني) |
| ☜ د اړیکې شمېرې: | (00923333905095) (0093700603054) |


یادونه: د چاپ ټول حقوق په خپروونکي پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلىٰ إِبْرَاهِيْمَ وَعَلىٰ آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلىٰ إِبْرَاهِيْمَ وَعَلىٰ آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ. (بُخَارِي: ۳۳۷۰)

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (شيخ الحديث حضرت مولانا انوار الحق الحقاني عفي عنه)

**الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ جُعِلَ كَافَةً لِلنَّاسِ بَشِيْرًا وَنَذِيْراً قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ﴿فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ﴾ (الآية)، صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ أما بعد!**

حج او عمره د الله سبحانه و تعالی د عبديت او محبت يو لويه بې مثاله نمونه ده او په اسلام کې ضروري او لوی مهم عبادت دی، هر مهم عبادت په زده کولو سره تکميل ته رسيږي، نو د داسي لوی عبادت په صحيح طريقه سره د ادا کولو له پاره علمائې کرامو د حج او عمرې د مسائلو په اړه مختلف کتابونه ليکلي دي؛

خو په پښتو ژبه کې مشهور کتاب د الحاج سيد نور الله آغا صاحب (مدني) "دعمرې او حج مکمل لارښود" په ټولو

ketabton.com - The Digital Library



کتابونو کې خاص امتياز لري، په دې کتاب کې مؤلف د عمرې او حج مکمل مستند مسائل په ډير سهل او اسان ډول بيان کړي دي؛

الله ﷻ دې د مؤلف همدغه سعي په خپل عالي دربار کې مقبول وګرځوي آمين يا رب العالمين.

شيخ الحديث حضرت مولانا انوار الحق الحقاني عفي عنه

مهتمم جامعة دار العلوم حقانية اکوړه خټک ضلع نوشهره صوبه خيبر پختونخواه پاکستان

نائب رئيس: وفاق المدارس العربية باکستان

PH : ۰۹۲۳۶۳۰۴۳۵

Fax : ۰۹۲۳۶۳۰۹۲۲

۱۶/ شعبان المعظم/ ۱۴۴۳ هـ ق

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (استاذ العلماء شيخ المشائخ پير طريقت شيخ الحديث والتفسير الحاج حضرت مولانا حبيب الله الحقاني حفظه الله تعالى)

**الحمد لله بكرة وأصيلا والصلوة والسلام على سيدنا ونبينا ومولانا واولانا محمد المصطفى صلى الله تعالى عليه وعلى آله وأصحاب وأتباعه أجمعين وبعد!**

فإن مكمل لاربنود لمناسک العمرة والحج مشتمل على جميع جزئيات مناسک العمرة والحج المستخرجة من جميع العمرة والحج المذكورة في القرآن والأحاديث وأقوال الفقهاء والصلحاء والعلماء الصالحين.

فالحاصل إن هذا المناسک باسم مكمل لاربنود لمناسک العمرة والحج قابل اعتبار واعتماد ويلتمس من كل أحد أن

ketabton.com - The Digital Library



يستفيد من هذا الكتاب في كل وقت من الأوقات ولا يفارق من نفسه خصوصا في وقت العمرة والحج.

اللهم ارحم مؤلف هذا المناسک في الدنيا والآخرة.

أستاذ العلماء شيخ المشايخ پير طريقت شيخ الحديث والتفسير الحاج حضرت مولانا حبيب الله الحقاني حفظه الله تعالى

خطيب جامع مسجد جامعة عمر قندهار أفغانستان

شيخ الحديث الجامعة المركزية الجهادية، شهر نو، قندهار،أفغانستان

سابق مهتمم جامعة إسلامية محمدية كوئته پشتون آباد

٢٥/ شوال/١۴۴۴هـق: الموافق ٢٠٢٣م

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (أستاذ العلماء شيخ الحديث والتفسير حضرت مولانا نظر محمد الأفغاني عفى الله عنه)

**الحمد لله الذى أنزل في محكم كتابه فريضة الحج، وأمرنا باتباع الملة الابراهيمية بالعج والثج، والصلوة والسلام على من أسس نسكه وبين المنهج محمد وعلى آله وصحبه وأتباعه الذين حموا بيت الغر من كل أفحج فهذه شجرة الكعبة على ساقها يأوي إليها الناس من كل فج، وبعد!**

د عمرې او حج مکمل لارښود کوم چي تصنيف يي محترم الحاج سيد نور الله آغا (مدني) (أطال الله عز وجل في ظله) کړي دی تر ډيره حده زما تر نظر ووتی الحمد لله لاندي ځانګړتياوي لري:

۱– د عمرې او حج د اداء کولو کيفيت د من ښخه تر إلى پوري

ketabton.com - The Digital Library



۲- د دواړو اهم مناسک چان سوي دي

۳- نفس د حج اړینتیا او ترغیب

۴- ځني هغه مسائل چي په نني عصر کي اختلاف وهلي وي ښه بیان سوي دي

د حرمینو شریفینو لنډه پیژندنه او هلته د تبرک او اتباع ځیني ځایونه او نوموړي حاجي آغا صاحب په مدینة منورة کي د ډیره وخته تقریباً (۴۴) کالو څخه هستوګن دی ځکه یې عملي علم زیات دی، متعال رب دي یې زیار او ستړیا قبوله کړي آمین.

شیخ الحدیث والتفسیر الحاج حضرت مولانا نظر محمد الافغاني

مهتمم مدرسة محمدیة خرقه مطهرة

خطیب جامع مسجد خرقه مطهرة قندهار افغانستان

۷/ ذو الحجة/ ۱۴۴۴ هق الموافق ۲۰۲۳ م

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (فضيلة الشيخ الحاج مولوي محمد رسول صاحب حفظه الله)

الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ وَنُسَلِّمُ عَلىَ رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَعَلىَ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ أما بعد!

ډېر حمد او ثناء دي وي و مهربانه الله جل جلاله لره چي موږ ته الله جل جلاله دومره توفيق راکړی چی دا مدلل «د عمرې او حج مکمل لارښود» سرترپايه په پوره غور په ډير دقيق نظر او سالم عقل سره مطالعه کړی او د عمرې او حج په مسائلو کي يې ډېره ښه توضيح او تشريح کړې ده د الحاج سيد نور الله آغا (مدني) په اجازه مو ټولي هغه نيمګړتياوي په حسب قدرت صحيح او پوره کړې، ځکه صحيح او سالم خو صرف قرآن کريم دی، نو موږ د خپلو حنفي مذهبو عمره کوونکو او حج کوونکو ورونو ته دا مشوره ورکوو چي دغه د عمرې او حج مکمل لارښود

ketabton.com - The Digital Library



دي د يو ښه عالم ملګري په توګه له ځان سره حرمينو شريفينو ته يوسي ډېر ګټور دی او ښه تحفه ده.

د جامعة اشرفية د تاليف او ژباړي د څانګي د لوري څخه وکتل سو.

نسأل الله العلي القيوم أن ينفع بها المسلمين وأن يجعل عمله هذا خالصا لوجهه الكريم وأن يجعله في ميزان حسناته إنه نعم المولى ونعم النصير آمين!

۲۵/ ذو القعدة/ ۱۴۴۲ هـ ق

جامعة إسلامية أشرفية، قندهار، افغانستان

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (أستاذ الحديث مولوي محمد حسن جان «مدني» عفا الله عنه)

**الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْناً وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ جُعِلَ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ وَإِمَاماً وَبَعْدُ!**

درنو او معززو وروڼو!

حج او عمره د مينې، محبت او د الله سبحانه وتعالی د عبديت د ښکاره کېدو يوه بې مثاله ننداره ده.

کله چې حاجي صاحب خپل اهل اولاد دوستان عزيزان هيواد، کاروبار او هر څه پرېږدي، په ډېر عاجزانه ډول په مينه ناک زړه په نمناکو سترګو د محبوب امر پر ځای کوي په شوق د عاجزي په جامه کې د خپل رب تبارک وتعالی د غفران او بخښنې له

ketabton.com - The Digital Library



پاره یوې او بلې خوا ته په لپولپو لاسونه زارۍ کوي، د ابراهیم خلیل الرحمن او اسمعیل علیه السلام د لاسونو یادګار د خپل محبوب او خوږ نبي د ټاټوبي او دیار زیارت کوي تر هر څه مهم دا چې حج او عمره په اسلام کې مهم او ضروري عبادت دی او هر مهم عبادت زده کړې ته اړتیا لري، نو بناء د دغه ستر عبادت زده کول یو لازمي کار دی.

په پښتو ژبه کې د حج او عمرې اړوند ډېر کتابونه لیکل سوي دي خو د حضرت ښاغلي الحاج سید نور الله آغا صاحب مدني حفظه الله د "عمرې او حج مکمل لارښود" کتاب زما له آنده په ټولو کې خاص امتیاز لري چې مسائل یې د حنفي معتمدو فتاوی څخه راچاڼ سوي دي، هر اړخ یې په ښکلي ترتیب سوي دی نو د آغا صاحب دغه خدمت د ټولو پښتنو ورونو سره نه خلاصیدونکی احسان دی او د ټولو محترمو حاجیانو او

ketabton.com - The Digital Library



معتمرينو څخه جدي غوښتنه کيږي چي همدغه کتاب د دغه مبارک سفر پر مهال د ځان سره ولري.

مؤلف ته يې دعاء کوم چي الله سبحانه و تعالی يې دغه عرق ريزي او محنت قبول کړي، د ده او د ده د کورنۍ له پاره يې ذريعه د دخول جنت وګرځوي.

استاذ الحديث مولوي محمد حسن "مدني" عفا الله عنه

خادم بجامعة العلوم الاسلامية العثمانية

دوهمه ناحيه، قندهار، افغانستان ۸/ ربيع الثاني/ ۱۴۴۳هـ ق

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## (تقریظ)

## (فضیلة الشیخ مفتي عبدالهادي «حماد»)

**الْحَمْدُ لِأَهْلِهِ وَالصَّلٰوةُ عَلَىٰ أَهْلِهَا؛**

درنو لوستونکو معلومه خبره ده چي بیت الله الحرام د الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه بیته ده چي پر مخ د ځمکي الله جَلَّ جَلَالُهُ پر ټولو ودانیو فضیلت ورکړی دی او هر مسلمان یې د لیدلو شوق لري بناء د نړی د کونج کونج څخه مسلمانان د همدې بیتې د لیدلو له پاره د حج او عمرې د اداینې له پاره ورځي خصوصاً په دې ورستیو کي د افغانستان د خلکو له پاره د عمرې او حج د اداء له پاره فرصتونه زیات سوي دي، الله جَلَّ جَلَالُهُ دي د مسلمانانو دغه شوق نور هم زیات کړي او د دي شوق د پوره کېدو له پاره دي نور هم لاري اسانه کړي.

ketabton.com - The Digital Library



داچې د افغانستان د پښتو ژبې مسلمانان عمرې او حج ته ځې هیله یې همدا وي چې عمره او حج په صحیح توګه اداء کړي، د همدې مقصد له پاره متدین ورور الحاج سید نور الله آغا (مدني) حفظه الله په پښتو ژبه د عمرې او حج د ادایني صحیح طریقه او اړوند احکام په یوه رساله کې را جمع کړي دي دغه رساله موږ ځو ځایه وکتله د حنفي مذهب مطابق د عمرې او حج اړوند احکام په کښې جمع وه ځکه نو د تائید تر څنګ هیله لرو چې الله ﷻ د قبولیت مقام ورته ورکړي تر څو مسلمانان ښه استفاده ځنې وکړي الله ﷻ دې د مؤلف سعي قبوله کړي.

په درنښت ستاسو ورور: مولوي عبد الهادي (حماد)

۶ /ربیع الاول/ ۱۴۴۳ هـ ق

جامعة دار العلوم حمادیة، قندهار، افغانستان

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (شيخ الحديث والتفسير حضرت مولانا عبد الصمد صاحب عفى الله عنه)

الحمد لله الذي أنزل القرآن المبين يرفع به أقواماً ويضع به آخرين وبعث محمد رسولاً أميناً في الأميين فجعله أعلم الاولين والآخرين وخاتم النبيين وسيد المرسلين يتلو عليهم آياته ويزكيهم ويعلمهم الكتاب والحكمة وإن كانوأ من قبل لفي ضلال المبين اللهم صل وسلم وبارك عليه صلوات زاكية وتسليمات عالية وبركات إلى يوم الدين وبعد!

أنا العبد الحقير عبد الصمد المفتقر إلى الله الأحد قد طالعت كتاب المناسک الذي ألفه الحاج سيد نور الله آغا مدني فهو جامع لأحكام الحج والعمرة وغيره جزاه الله خير الجزاء في الدنيا والآخرة آمين يا رب العالمين.

مهتمم مدرسه سعد بن وقاص رضي الله تعالى عنه، قندهار، أفغانستان

۹/ ذو الحجة/ ۱۴۴۴هـق الموافق ۲۰۲۳م

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقريظ)

## (پير طريقت رهبر شريعت شيخ الحديث والتفسير حضرت مولانا خليفه دين محمد حفظه الله تعالى)

**الحمد لله وكفى والصلوة والسلام على سيد الأنبياء وعلى آله وأصحابه الأتقياء أما بعد:** حضرت نبي أكرم ﷺ فرمايي: ﴿بُنِيَ الإِسْلامُ علىٰ خَمْسٍ: شَهادَةِ أَنَّ لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ، وأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللّٰهِ، وَإقامِ الصَّلاةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ﴾ رواه البخاري.

د اسلام بناء په پنځو شيانو ده: (۱) شهادتين (۲) لمونځ، (۳) روژه، (۴) زکات (۵) حج

داجر او ثواب په لحاظ سره د حج رکن ډير زيات اهميت لرونکی دی لمونځ او روژه يوائې بدني عبادات دي زکات صرف مالي عبادت حج يو داسي رکن دی چې بدني او مالي

ketabton.com - The Digital Library



دواړه عبادات په کښې يو ځای سوي دي د حج په اړه د رسول الله ﷺ فرمان دی:

﴿الحَجُّ المَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الجَنَّةُ﴾

یعني د مبرور او مقبول حج جزاء یوازې جنت دی، لکن حج چونکه په ټول عمر کې یو واري فرض دی، ځکه ورسره ډېر خلق نا اشنا دي او د ډېرو مصارفو سره بیا هم په ښه طریقه حج نسي ادا کولای، لهذا د حج تعلیم او د مسائلو زده کړې ته زیاته اړتیا او ضرورت سته، د دې ضرورت احساس جناب الحاج سید نور الله آغا صاحب (مدني) کړی دی او په دې موضوع کې یې ښه کتاب لیکلی دی، الله تعالی دې د آغا صاحب سعي په خپل دربار کې قبوله کړي او مسلمانانو ته دې یې د زده کړې او عمل توفیق په نصیب کړي. والسلام!

دافغانستان اسلامي امارت د کابل ولایت د علماء کرامو د شورا رئیس شیخ الحدیث والتفسیر خلیفه دین محمد حفظه الله تعالی

۲۰/ رمضان المبارک ۱۴۴۵هـ ق الموافق ۲۰۲۴م

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## (تقریظ)

## (شيخ الحديث والتفسير پير طريقت حضرت مولانا مفتي نجيب الله «المنيب» صاحب حفظه الله تعالى)

**الحمد لله الذي أنزل في كتابه المجيد فريضة الحج حيث قال:**

**﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾.**

**والصلاة والسلام على سيد العرب والعجم محمد ﷺ وعلى آله وأصحابه ينابع العلم والعمل وبعد!**

د عمرې او حج مکمل لارښود چي د الحاج سید نور الله آغا (مدني) حفظه الله ورعاه تالیف دی، دا په پښتو ژبه کي د عمرې او حج په باره کي آسان او ښه په مدلل انداز لیکل سوی دی او د دې کتاب قابل ذکر امتیاز دا دی چي مسائل یې د حنفي مذهب د معتمدو کتابونو او فتاواوو څخه انتخاب کړه سوي دي.

ketabton.com - The Digital Library



نو محترمو حاجیانو او عمره کوونکو ته په کار ده چې دا کتاب د عمرې او حج په مبارک سفر کې د ځان سره ولري.

أسأل الله العزيز الحكيم أن ينفع به المسلمين والمسلمات وأن يجعل عمله هذا لوجهه الكريم وأن يجعله في ميزان حسناته أنه على ذلک القدير.

شیخ الحدیث والتفسیر پیر طریقت حضرت مولانا مفتي نجیب الله (المنیب) صاحب حفظه الله تعالی

سابق استاذ الحدیث جامعه اشرف المدارس کراچی

سابق شیخ الحدیث و رئیس دار الافتاء جامعه دار العلوم الهاشمیة کوئټه

خادم الحدیث النبوي ﷺ و رئیس دارالافتاء جامعه دار العلوم الهاشمیة کندهار

۱۴/ ذو القعدة/ ۱۴۴۵هـق الموافق ۲۰۲۴

ketabton.com - The Digital Library



# لومړۍ برخه

## د عمرې مدلل مسائل

ketabton.com - The Digital Library



# فهرست

(تقريظ) (شيخ الحديث حضرت مولانا انوارالحق الحقاني عفي عنه) ......... أ

(تقريظ) (استاذ العلماء شيخ المشائخ پيرطريقت شيخ الحديث والتفسير الحاج حضرت مولانا حبيب الله الحقاني حفظه الله تعالى)......................... ج

(تقريظ) (أستاذ العلماء شيخ الحديث والتفسيرحضرت مولانا نظرمحمد الأفغاني عفى الله عنه) ........................................................................ ه

(تقريظ) (فضيلة الشيخ الحاج مولوي محمد رسول صاحب حفظه الله)..... ز

(تقريظ) (أستاذ الحديث مولوي محمد حسن جان «مدني» عفا الله عنه) .ط

(تقريظ) (فضيلة الشيخ مفتي عبدالهادي «حماد») ................................ ل

(تقريظ) (شيخ الحديث والتفسيرحضرت مولانا عبد الصمد صاحب عفى الله عنه) .......................................................................................... ن

(تقريظ) (پيرطريقت رهبرشريعت شيخ الحديث والتفسيرحضرت مولانا خليفه دين محمد حفظه الله تعالى) ......................................................... س

(تقريظ) (شيخ الحديث والتفسيرپيرطريقت حضرت مولانا مفتي نجيب الله «المنيب» صاحب حفظه الله تعالى)........................................................ ف

لومړی برخه ............................................................................ق

د عمرې مدلل مسائل ....................................................................ق

ketabton.com - The Digital Library



(د عمرې شرعي حیثیت او فضیلت) ........................................ ٣
(دعمرى افعال «کارونه»)() ........................................ ١١
(د عمرې فرضونه) ........................................ ١٣
(د احرام فرضونه) ........................................ ١٣
(د عمرې واجبات) ........................................ ١٣
(د عمرې سنت او واجب شرطونه) ........................................ ١٤
(دعمرې ثواب) ........................................ ١٦
(د عمرې کولو طریقه) ........................................ ١٨
(دمیقات تعریف او مسائل) ........................................ ١٩
(داحرام تړلو میقاتونه «ځایونه» پنځه دي) ........................................ ١٩
(د احرام په نیت دوه رکعته لمونځ کول) ........................................ ٢٥
(د عمرې نیت او تلبیه) ........................................ ٢٧
(تلبیه) ........................................ ٢٨
(د احرام مسائل) ........................................ ٣٠
(په احرام کې د خوشبویي د استعمالولو مسائل) ........................................ ٣٦
(پرکعبه شریفه د طواف کولو فضیلت) ........................................ ٥١

ketabton.com - The Digital Library



(طواف) ........ ٥٣
(دطواف ډولونه) ........ ٥٣
(د طواف نیت او مسائل) ........ ٥٤
(د حجر أسود مسائل) ........ ٥٦
(د اضطباع مسائل) ........ ٦٠
(د رمل مسائل) ........ ٦٢
(د حطیم شریف مسائل) ........ ٦٥
(د ملتزم شریف بیان) ........ ٧٣
(د طواف د دوه رکعته لمانځه مسائل) ........ ٧٤
(د مقام ابراهیم بیان) ........ ٧٨
(د زم زم د اوبو بیان) ........ ٧٩
(د صفا او مروا د سعي بیان او مسائل) ........ ٨٤
(د حلق «سر خرېیلو یا کوچنی کولو» بیان او مسائل) ........ ٩٧
(د خنثی «نرښځي» د احرام بیان) ........ ١٠٤
(مسجد تنعیم) ........ ١٠٤
(مسجد جعرانه) ........ ١٠٥

ketabton.com - The Digital Library



(د ښځو اړوند مسائل)................................................ ۱۰۶
(د ښځو او نارینه ووپه لمانځه کې فرق)..................................... ۱۲۰
(د مختلفو مسئلو بیان) ................................................ ۱۲۲
(د دم او صدقې بیان) ................................................... ۱۳٤
(د دعاء آداب او د قبولیت اسباب) ...................................... ۱۳۵
(د دعاء د قبلیدو ځایونه) ............................................... ۱۳۵
(د مدینې منورې بیان) .................................................. ۱٤۲
(افضل ذکر)............................................................. ۱٤۵
(د مدینې منورې فضائل)................................................ ۱٤۵
(د مدینې منورې نومونه) ................................................ ۱٤۸
(ریاض الجنة).......................................................... ۱۵۹
(د جماعت د لمانځه بیان) ............................................... ۱۸۰
(ځلوېښت لمونځونه په مسجد نبوي شریف کې)............................. ۱۸۲
(پای جامه) ............................................................ ۱۸۸
(د رخصتیدلو درود او سلام) ............................................ ۱۸۹
(دعاء) ................................................................. ۱۹۰

ketabton.com - The Digital Library



(مکة مکرمة او مدینة منورة) ........................................ ۱۹۱
(په مسجد نبوي شریف کې د لمانځه فضیلت) ........................................ ۱۹۳
(اصحاب الصفة) ........................................ ۱۹۵
(د جنة البقیع «هدیري» زیارت) ........................................ ۱۹۶
(د مسجد قباء بیان) ........................................ ۲۰۲
(د سید الشهداء سیدنا حمزه رضي الله عنه بیان) ........................................ ۲۰۵
(د سبعة المساجد «اووه مسجدونو» بیان) ........................................ ۲۰۹
(د خندق اندازه) ........................................ ۲۱۱
(د مسجد قبلتین بیان) ........................................ ۲۱۲
(د مسجد الجمعة بیان) ........................................ ۲۱۵
(د مسجد غمامة بیان) ........................................ ۲۱۵
(د مسجد الإجابة بیان) ........................................ ۲۱۶
(د مسجد ابي ذررضي الله عنه بیان) ........................................ ۲۱۶
(د مسجد المستراح بیان) ........................................ ۲۱۷
(د مسجد سقیا بیان) ........................................ ۲۱۸
(د مسجد المیقات بیان) ........................................ ۲۱۸

ketabton.com - The Digital Library



(د مسجد علي رضي الله تعالى عنه بیان)........................................ ۲۱۹

(د مسجد ابوبکر الصدیق رضي الله تعالى عنه بیان)............................. ۲۱۹

(د بئرحا بیان) ........................................................................ ۲۲۰

(د بئرغرس بیان) .................................................................... ۲۲۰

(د بئررومة بیان) ..................................................................... ۲۲۱

(د بدرغزا) ............................................................................... ۲۲۲

(د توبې بیان)............................................................................ ۲۲۳

(د اووه ویشتم د عمرې بیان)...................................................... ۲۲٤

(ابي قبیس غر)........................................................................ ۲۲٦

دوهمه برخه ........................................................................... ۲۲۸

د حج مدلل مسائل.................................................................. ۲۲۸

(د حج فضلیت)........................................................................ ۲۲۹

(حج څه وخت فرض سو؟) ......................................................... ۲۳۳

(د حج فرضیت)........................................................................ ۲۳٤

(په حرام مال سره حج نه فرض کیږي) ........................................... ۲۳٦

(د حج لغوي او شرعي معنی)....................................................... ۲۳۷

ketabton.com - The Digital Library



(اخلاص) ........................................................................................ ۲۳۸

(د حج د پرېښودلو سزا)............................................................................ ۲۳۹

(د حج اقسام او د کولو طریقه) .................................................................. ۲٤۰

(د حج فرائض)........................................................................................ ۲٤۳

(د حج واجبات) ....................................................................................... ۲٤٤

(د حج سنت افعال).................................................................................. ۲٤٤

(د حج کولو نیت)..................................................................................... ۲٤٦

(د اوومې «۷» ورځې د طواف قدوم بیان)...................................................... ۲٤۷

(د اتمې د ورځې او منی بیان) ...................................................................... ۲٤۹

(د نهم د ورځې وظیفه او د عرفات مسائل)...................................................... ۲۵۱

(د عرفات درېدل په حج کې فرض دي)()........................................................ ۲۵۲

(د عرفات د درېدو د صحت شرطونه دوه دي) .................................................. ۲۵۳

(مسجد نَمِره «د عرفات مسجد» ته د تللو حکم)................................................ ۲۵٦

(د مزدلفې شریفې د وقوف «درېدلو» بیان)...................................................... ۲٦۱

(د مشعر الحرام غر)................................................................................... ۲٦۸

(د لسم د ورځې وظیفه او بیان) ..................................................................... ۲٦۹

ketabton.com - The Digital Library



(په شیطانانوکي د وکالت بیان)........................................................ ۲۷۳

(د شکرېي «قرباني» مسائل)............................................................ ۲۸۱

(د طواف زيارت مسائل) .......................................................... ۲۹۰

(مسجد خيف او غار مرسلات) ........................................................۲۹۸

(د طواف وداع «د رخصتي د طواف» مسائل) ..................................... ۳۰۰

(د عبادت ډولونه)............................................................................ ۳۰٦

(د حج بدل «د بل له پاره حج کول» اړوند مسائل)................................ ۳۰۷

(د احصار بيان) .............................................................................. ۳۱۷

(اول جبل ثور«غارثور») .......................................................... ۳۲۵

(دوهم غار حراء)............................................................................ ۳۲۷

(د مقبرة المعلی بيان) ...................................................................... ۳۲۸

(تکبيرات التشريق)........................................................................ ۳۳۰

(د ذوالحجي د لسو ورځو بيان).............................................................. ۳۳۰

(عجوه خورما)................................................................................ ۳۳۱

(د عمرې او حج له پاره مکمل لارښود).............................................. ۳۳۳

(خبرتيا) ........................................................................................ ۳۳٤

ketabton.com - The Digital Library



(د عمرې اوحج د مکمل لارښود مراجع او ماخذونه): ............................ ۳۳۹
(یادونه) ..................................................................................... ۳٤٥
(د مساجدو د آبادولو فضیلت) ....................................................... ۳٤٦
(د عمرې اوحج مکمل لارښود د ترتیب کوونکي لنډه پېژندنه) ................. ۳٤۹
(د دې کتاب د چاپ د لګښت په اړه یادونه) ......................................... ۳٥۲

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

**نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ أَمَّا بَعْدُ!**

قال اللّٰه تبارک وتعالی: ﴿وَأَتِمُّوْا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ﴾(١)

ژباړه: حج او عمره خاص د اللّٰه تعالی له پاره پوره کړئ.

رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿كُنْ عَالِماً أَوْ مُتَعَلِّمَا أَوْ مُسْتَمِعًا أَوْ مُحِبًّا وَ لَا تَكُنِ الْخَامِسَ فَتَهْلِكَ﴾ (٢)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي چي عالم جوړ سه يا زده کوونکی يا اورېدونکی او يا د همدوی سره محبت کوونکی، پنځم مه جوړېږه چي بيا به ته هلاک سې.

---

(١) سورة البقرة آية (١٩٦)

(٢) رواه الطبراني في الثلاثة والبزار ورجاله موثقون قال الهيثمي في مجمع الزوائد: ج ٣ ص ٢٦٥

ketabton.com - The Digital Library



محترمو مسلمانانو وروڼو د علم په زده کړه کښې ډيرې زياتې فائدې دي د دين د هرې مسئلې پوښتنه حسنه ده او طلب د علم عبادت دی او په شرعي مسئله کې بحث کول د جهاد غوندې فضيلت لري او خلکوته يې بيانول (نشرول) د هغه خلکو په شمېر تاته ثواب رسيږي او د شريعت په مسئلو کښې فکر کول د روژې او قيام الليل ثواب لري، دخوش نصيبه انسان په قسمت به علم وي او د بدبخته انسان په قسمت به جهل (ناپوهي) او شرم وي.(١)

کوم انسان چې د عمرې او حج کولو قصد او اراده لري نو دهغه انسان له پاره دا خبره لازم ده چې بايد عمره او حج ښه زده کړي د عمرې او حج په احکامو او مسائلو باندې ځان ښه خبر کړي او ښه ځان مطمئن کړي، د هغه څخه وروسته دې د عمرې او حج سفر شروع کړي او کوښښ دې وکړي چې په دې مبارک سفر کې دې د داسې شيانو څخه ځان وساتي چې د هغه په کولو سره عمرې او حج ته تاوان رسيږي.

---

(١) سنن دارمی باب مذاکرة العلم رقم الحديث ٦٣٨.

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې شرعي حیثیت او فضیلت)

عمره په لغت کښې زیارت کولو ته وایي او د شرعي په اصطلاح کښې د میقات یا حل څخه احرام تړل پر بیت الله باندې طواف کول او د صفا او مروا تر منځ ته را تګ کولو ته عمره وایي.(۱)

کوم انسان چې د عمرې کولو توان او طاقت ولري، پر هغه انسان باندې په ټول عمر کښې یو ځل عمره کول سنت مؤکد ده او د یوې عمرې څخه زیاتې عمرې کول مستحب دي او نبي کریم ﷺ څلور عمرې کړې دي او څلور سره یې په ذو القعدة کې اداء کړې دي.(۲)

د عمرې په فضیلت او ښه والي کې د رسول الله ﷺ څخه ډېر حدیثونه را نقل سوي دي البته دهغه حدیثو څخه یو څو حدیثونه درته دمتن او ژباړې سره بیانوو.

(۱) منهاج السنن : ص ۱٤۲ والهندية: ج ۱ ص ۲۳۷

(۲) رد المحتار: ج ۲ ص ۱٦٤ (مکتبه رشيديه)

ketabton.com - The Digital Library



١–﴿مَنْ خَرَجَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِيْ طَرِيقِهِ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِيِ وَ الْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ﴾.(١)

ژباړه: څوک چي د کور څخه د حج عمرې يا د غزا په اراده ووځي او په لاره کښې مړ سي الله تعالی د غازي او د حاجي او عمره کوونکي ثواب ورکوي.

٢– حديث: ﴿تَابِعُوْا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَ الذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خُبْثَ الْحَدِيْدِ وَ الذَّهَبِ وَ الْفِضَّةِ وَ لَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةَ﴾.(٢)

ژباړه: حج او عمره پر له پسې اداء کړئ ځکه دغه دواړه فقر او ګناهونه داسي له منځه وړي لکه د اور بټۍ چي د اوسپني، سرو او سپينو زرو کچرې له منځه وړي او د قبول سوي حج ثواب بې له جنت څخه بل شی نه دی.

---

(١) رواه البيهقي: : رقم الحديث ٣٨٠٦

(٢) رواه ترمذي: عن عبدالله بن مسعود: : رقم الحديث ٨١٠ والنسائي: ج٢ ص٣ : رقم الحديث ٢٦٣١

ketabton.com - The Digital Library



په دې حدیث شریف کې د حج او عمرې دواړو فضیلتونه ذکر سوي دي یو فضیلت یې دادی چې حج او عمره چې څوک اداء کړي نو هغه به الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د فقر او مسکنت څخه وساتي او په حدیث شریف کې ټولو مسلمانانو ته ډاډ او اطمنان ورکول سوي دی چې د فقر او مسکنت څخه مه بېرېږئ الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ مو لوړه او فقر له منځه څخه وړي.

۳- حدیث: ﴿الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنِهِمَا وَ الْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءً إِلَّا الْجَنَّةُ﴾.(۱)

ژباړه: یوه عمره تر بلې عمرې پورې د دوی دواړو تر منځ ګناهونه له منځه وړي او د قبول سوي حج ثواب بېله جنته بل څه نه دی.

۴- ﴿وَفْدُ اللّٰهِ ثَلَاثَةٌ، اَلْغَازِيْ، وَ الْحَاجُ، وَالْمُعْتَمِرُ﴾.(۲)

(۱) رواه البخاري: : رقم الحدیث ۱۷۷۳، مسلم: ج۱ ص ۴۳۶: : رقم الحدیث ۱۳۴۹، النسائي: : رقم الحدیث ۲۶۲۹

(۲) رواه النسائي رقم الحدیث ۲۶۲۵

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: د الله جَلَّ جَلَالُهُ مېلمانه درې نفره دي غازي، حاجي او عمره کوونکی.

۵-﴿مَا مِنْ مُحْرِمٍ يُضَحِّيْ لِلّٰهِ يَوْمَهُ يُلَبِّيْ حَتَّى تَغِيْبَ الشَّمْسُ إِلَّا غَابَتْ بِذُنُوبِهِ فَعَادَ كَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾.(۱)

ژباړه: په کومه ورځ چي محرم احرام وتړي د دغي ورځي لمر به پر ده باندي په داسي حال کي لویږي چي پر ده به ګناه نه وي او د ګناهونو څخه به داسي پاک سي لکه څرنګه چي د مور څخه پیدا سوی وي.

۶- ﴿الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللّٰهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنِ اسْتَغْفَرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ﴾.(۲)

---

(۱) رواه أحمد و ابن ماجه واللفظ له الترغيب والترهيب: ج ۲ ص ۱۲۰ .

(۲) السنن الكبرى للبيهقي: ج ۵ ص ۲٦۲ رقم الحديث ۲٦۲۵، النسائي/ ابن ماجة رقم الحديث ۲۸۹۲ شرح اللباب ص ۳۱/ الترغيب والترهيب: ج ۲ ص ۱۰۸.

ketabton.com - The Digital Library



همدارنګه په حدیث شریف کښې دا هم فرمایل سوي دي:

ژباړه: چي حاجیان او عمره کوونکي د الله ﷻ مېلمانه دي دوی که د الله ﷻ څخه کومه دعاء وغواړي الله ﷻ یې دعاء قبلوي او که د خطاء بخښنه ځني وغواړي الله ﷻ بخښنه ورته کوي.

خو په روژه کښې د اعمالو ثواب او یا (۷۰) چنده زیاتیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: د روژې عمره د پوره حج سره برابره ده.(۱)

په یو بل روایت کښې راځي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په روژه کښې د عمرې ثواب د هغه حج سره برابر دی چي زما سره یې کړی وي.(۲)

---

(۱) ﴿عمرة في رمضان تعدل حجة وفي رواية حجة معي﴾، رواه البخاري (۱۸٦۳) غنية الناسك: ص ۱۹۹ فتح القدير: ج ۳ ص ٦۱/ الشامي: ج ۲ ص ۱٦٤.

(۲) ﴿فعمرة في رمضان تقضي حجة او حجة معي﴾، رواه البخاري: ج ۱ ص ۲۳۹ رقم الحديث (۱۸٦۳) رواه مسلم: ج ۱ ص ۳۰۹ رقم الحديث ۱۲٥٦.

ketabton.com - The Digital Library



دا چي په حج او عمره کښي دنياوي او اخروي ګټې دي ځکه رسول الله ﷺ فرمايي

٧- ﴿تَابِعُوْا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ﴾.(١)

ژباړه: تاسو کله حج او عمره يو په بل پسې اداء کوئ.

په شريعت کښي چي ثوک د عمرې طاقت ولري د هغه له پاره سنت ده.(٢) د احنافو په نزد عمره سنت مؤکده ده فرض نه ده ځکه چي د محمد رسول الله ﷺ ارشاد دی: ﴿الحَجُّ مَكْتُوْبٌ، وَالعُمْرَةُ تَطَوُّعٌ﴾(٣)

يعني حج فرض دی او عمره د خپلي خوښي نفلي عبادت دی.

او د هر عبادت د قبوليت له پاره درې شيان ضروري دي

---

(١) اخرجه الترمذي: (٨١٠) والنسائي: (٢٦٣١) واللفظ له ، وأحمد (٣٦٦٩).

(٢) العمرة عندنا ليست بواجبة... الشامي: ج ٢ ص ١٦٤/ الهندية: ج ١ ص ٢٣٧/ الخانية على هامش الهنديه: ج ١ ص ٣١٠.

(٣) الام للشافعي: ج ١ ص ٢٨١ كتاب الحج، سنن البيهقي: ج ص ٣٤٨ رد المحتار: ج ١ ص ١٥١ احكام العمرة والحج/ الفتاوى الهندية: ج ٣ ص ١٣٧ الباب السادس في العمرة.

ketabton.com - The Digital Library



اول – ایمان لرل.

دوهم – د اسلام په طريقه عمل کول

دريم – اخلاص لرل.

او هر نفلي عبادت په شروع کولو سره واجبيږي.

پر کوم چا چي حج فرض وي د هغه له پاره حج کول ضروري دی په عمره کولو سره فرض نه اداء کيږي.(۱)

څوک چي د حج د اداء کولو توان ولري او حج اداء نه کړي مړ سي د دا ډول کس مرګ رسول الله ﷺ په حديث شريف کي د يهوديت او نصرانيت د مرګ سره برابر بللی دی.(۲)

او کوم څوک چي د حج توان و طاقت لري او حج ونه کړي الله تبارک وتعالی په قرآن کريم کي دهغوی حج نه کول مبالغة کفر

---

(۱) وهكذا أحسن الفتاوى: ج ٢ ص ١٥٩.

(۲) ﴿مَن مَلَكَ زادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ، فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذَلِكَ أَنَّ اللَّهَ يَقُولُ فِي كِتَابِهِ: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾﴾.

هذا الحديث رواه الترمذي رقم ٨١٢/ والبزار رقم ٨٦١.

ketabton.com - The Digital Library



بللې دی.(۱) لکه څنګه چې الحمد لله د عمره کوونکو عدد یا شمېر ډېرېږي نو په کار ده چې عمره او حج کوونکي د سفر د پیل څخه وړاندې باید په مفصل ډول پر شرعی طریقه او د نبوي احادیثو په رڼا کښې په مناسکو ځانونه ښه خبر او عمره زده کړي، ځکه علم تر عمل مخکې دی، له خپله ځانه به عبادت نه جوړه وي، الله ﷻ د عبادت د ښوونې له پاره کتابونه او رسولان رالېږلي دي په کوم عبادت کښې چې اخلاص او د الله تعالی رضاء نه وي، په هغه کښې ثواب نشته نو باید په پاک زړه پاکه نفقه د بیت الله شریفی پر لور روان سي او د علماوو څخه پوښتنې وکړي او په حرمینو کښې خپل طلايي وخت په عبادت تېر کړي، تقوا مختاره کړي د الله ﷻ ذکر وکړي پر رسول الله ﷺ درود شریف ووایي او بې ځایه خبرې غیبتونه شخړې، په بازارو کې بې ځایه وخت تېرول عکسونه اخستل او نامحرمو ښځو ته کتل دا ټول ناجائز دي نو باید د دې شیانو څخه توبه وباسي، د ګناهو د کارو څخه د بیا نه کولو عزم

(۱) ﴿وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾. (سورة آل عمران، ۹۷).

ketabton.com - The Digital Library



وکړي چي په دې مقدس سفر کي لا هم د ګناهونو څخه ځان ونه ساتي نو څه مهال به توبه کاږي دا خبره دي واضحه وي، چي په حرمينو کي اوس تر نارينوو ښځي ډيري عمرې او حج ته راځي نو بايد چي څوک مالي طاقت ولري د هغه له پاره دا ښه خبره ده چي هر کشر ځوان خپله د ژوند ملګرې د ځان سره راولي نو عمره او حج به يې کامل سي.

## (دعمرى افعال «کارونه»)(۱)

۱- د ميقات څخه د عمرې په نيت احرام تړل، تلبيه ويل (شرط).(۲)

۲- پر بيت الله شريفه دعمرې طواف کول (رکن).(۳)

---

(۱) وهي إحرام وطواف وسعي وحلق أو تقصير فالاحرام شرط ومعظم الطواف ركن وغيرهما واجب هو المختار، الشامي: ج ۲ ص ۱٦٤/ شرح النقاية: ج ۲ ص ۲۱۷.

(۲) الدر المختار: ج۳ ص٦٥٨

(۳) الدرا المختار: ج۳ ص ٦٥٨

ketabton.com - The Digital Library



۳- د طواف څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کول (واجب).(۱)

۴- د طواف څخه وروسته د صفا او مروا ترمنځ سعي کول (واجب).(۲)

۵- د سر وربېښتان خرییل یا کوچني کول (واجب).(۳)

۶ - د دې تېولو شیانو د کولو څخه وروسته عمره مکمله سوه بیا نو د احرام څخه وځي.(۴)

---

(۱) البدائع: ج ۲ ص ۲٤۳/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۲٥۸

(۲) بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۳٤۰

(۳) بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۳٤۰

(٤) الملا علي القاري ص ٤٦٦

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې فرضونه)

په عمره کښې دوه فرضونه دي: اول: د میقات یا حل څخه احرام تړل.

دوهم: بیت الله شریفي ته په رسېدلو سره پر بیت الله طواف کول.

## (د احرام فرضونه)

د احرام له پاره تلبیه ویل او نیت یعني اراده کول په زړه کي دواړه فرض دي خو د طواف له پاره صرف نیت فرض دی په زړه سره خو که په ژبه سره وویل سي ښه دی.

## (د عمرې واجبات)

په عمره کي دوه افعال واجب دي:

۱- د طواف څخه وروسته د صفاء او مروا سعي کول.

۲- د سعي څخه وروسته د سر وریښتان خرییل یا کمول.

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې سنت او واجب شرطونه)

د عمرې سنت او واجب شرطونه د حج په څېر دي او د احرام احکام يې هم د حج د احرام په مثل دي کوم شيان چي هلته مکروه مسنون او مباح دي هغه شيان دلته هم داسي دي خو په دغو ځينو شيانو کي د حج او عمرې تر منځ فرق سته مثلاً:

۱- عمره فرض نه ده البته حج فرض دئ.

۲- په عمره کي د عرفات درېدل د مزدلفې درېدل، د شيطانانو ويشتل او دوه لمونځونه پر يوه ځای کول او خطبه ويل يو هم نسته البته په حج کي دا ټول سته.

۳- په عمره کي طواف قدوم نسته او په حج کي سته.

۴- په عمره کي طواف صدر واجب نه دی او په حج کي واجب دی.

۵- د حج له پاره ځانګړی وخت معلوم دی خو عمره په ټول کال کي کېدلای سي د شپې او د ورځي هره مياشت او هره ورځ

ketabton.com - The Digital Library



لکن په دغو پنځو ورځو کي د عمرې له پاره نوی احرام تړل مکروه تحريمي دی لکه د عرفات په ورځ عمره کول مکروه تحريمي عمل دی او همدارنګه د اختر په ورځ او درې ورځي وروسته يعني ۹ د ذو الحجة څخه تر ۱۳ ذوالحجه پوري مکروه تحريمي ده او عمره د قارن حاجي له پاره د عرفات په ورځ مکروه تحريمي نه ده.(۱)

که يو چا د عمرې احرام تړلی وو په ناخبرتيا سره او يا د خارج څخه راتلی په دغه ورځو کي چي عمره مکروه تحريمي ده دغه عمره کوونکی چي کله مکې مکرمې ته راورسيږي د عمرې افعال دي نه اداء کوي د اخترتر پنځمي ورځي پوري دي په احرام کي وګرځي چي د اختر پنځمه ورځ سوه نو بيا دي عمره اداء کړي هيڅ شی نه پر لازميږي او که د اختر په ورځو کي يې عمره اداء کړه نو مکروه تحريمي کاريې وکړی په کوم عبادت

(۱) تصح العمرة في كل سنة و يكره تحريما إنشاء الاحرام للعمرة يوم عرفة وأربعة أيام بعده، فقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۴۶۷/ الموسوعة الفقهية: ج ۳ ص ۳۱۹/ فتح القدير: ج ۳ ص ۶۱./ قاضي خان على حاشية الهندية ج ۱ ص ۳۰۱

ketabton.com - The Digital Library



کي چي ثواب نه وي ښه به نه پر وايو عمره يې صحيح ده او دم نه پر لازميږي.

نو احتياط په کار دی بايد د عمرې او حج په مناسکو باندي ځانونه ښه خبر کړي او عمره زده کړي ځکه علم تر عمل مخکي دی له خپل ځانه به عبادت نه جوړوي او که يې احرام د عمرې تر اداء کولو مخکي خلاص کړی دم پر لازميږي.(١)

## (د عمرې ثواب)

دوي عمرې د يوه حج ثواب لري او يوه عمره د اوو ٧ طوافو ثواب لري او عمره تر طواف افضل ده او عمره کوچنی حج بلل کيږي، ځکه دا عمره يو مستقل عبادت دی.(٢) ډيري عمرې کول ښه کار دی که څه هم په يوه ورځ کي وي او د عمرو د تعداد تعيين يې نه دی کړی، هر څومره عمرې چي په ورځ کي کولای سي صحيح دي او کوم چا چي د حج په مياشتو کي

(١) قاضي خان: ج ١ ص ٢٦٥/ الهندية: ج ١ ص ٢٣٧ وص/ ٢٦١ رد المحتار: ج ٢ ص ٢٠٨ الاختيار التعليل المختار: ج ١ ص ١٥٧/ مناسک ملا علي قاري: ص ٣٠٨.

(٢) مناسک الحج (جديد کامل)، الشيخ ملا عبدالغني رحمه الله: ص ٩٥.

ketabton.com - The Digital Library



عمرې ګناه بللي دي دغه خبره يې د قرآن او سنت څخه مخالفه ده.(۱)

نو محترمو ورونو! خپلې عمرې کوئ اختيار لرئ که يې د ځان له پاره کوئ او که يې د بل له پاره کوئ هغه که مړ وي او که ژوندی وي، که يې اجازه وي او که نه وي که غني وي که مسکين وي، قريب وي او که نه وي.

نو بايد د ټولو آنبياوو عليهم الصلوة والسلام پر نامه او د ټول امت پر نامه عمره وکړئ، د ټولو په شمار تاسو ته ثواب رسيږي، ان شاء الله.(۲)

که څوک د حج يا عمرې په سفر ځي دا واجب ده چي خالص د الله ﷻ د رضاء له پاره به يې کوي، ځکه الله ﷻ يوائې هغه عمل قبلوي چي دده د رضاء له پاره وي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي د اعمالو ثواب په نيت سره معتبر دی او دا

(۱) قاضی خان: ج ۱ ص ۲۰۱/ إرشاد الساري: ص ۲۸۹/ فقه الاسلامي: ج ۳ ص ۸۷/ العلاج في أمراض الحجاج: ص ۱۹۲.

(۲)مناسک الحج (جديد کامل)، الشيخ ملا عبدالغني رحمه الله: ص ۹٦.

ketabton.com - The Digital Library



ضروري ده چي د عمرې او حج تر سفر مخکي هغه مسئلې زده کړي چي د ده ورته ضرورت وي، مثلاً سفريانه لمونځ په طياره کي په حرمينو کي، د جنازې لمونځ، سجده سهوه د امام سره په لمانځه کي سجده تلاوت د امام سره په لمانځه کي.

عمره او حج کوونکی بايد د ځان سره د عمرې او د حج په احکامو کي يو ښه جامع لارښود کتاب يوسي او د يو ښه پرهيزګاره ملګري طلب وکړي، که عالم وي ډير ښه دی او د خپل کور د قريبانو دوستانو او همسايه ګانو څخه به رخصت واخلي معافي او دعاء به ورڅخه وغواړي، تر هغه وروسته به روان سي.(١)

## (د عمرې کولو طريقه)

د غسل او صفايي کولو وروسته د ميقات يا حل څخه احرام تړل، د احرام څخه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ کول بيا و

---

(١) ويجب أولًا على من أراد الحج والعمرة إخلاصه لله تعالى، فإنه سبحانه لا يقبل إلا الخالص لوجهه الكريم. والإخلاص شرط في جميع العبادات، قال ﷺ: ﴿إنما الأعمال بالنيات﴾ مجامع المناسك: ص ٣ إلى ص ٢٥/ الهندية: ج ١ ص ٢٤٣ (بيروت).

ketabton.com - The Digital Library



میقات ته تر رسېدلو مخکي د عمرې نیت کول تلبیه ویل د مسجد حرام پر لوري تلل او په لاره کښي تر کعبې شریفي پوري تلبیه ویل او کعبې شریفي ته تر رسېدلو وروسته طواف کول وروسته بیا د طواف دوه رکعته لمونځ کول، سعي د صفا د غونډۍ څخه پیلول د سعي وروسته د سر وریښتان خرییل یا کمول او د احرام څخه ځان خلاصول

## (دمیقات تعریف او مسائل)

میقات هغه ځای ته ویل کیږي چي پر خلګو باندي دا لازمه وي چي د هغه ځای څخه احرام وتړي.(۱)

## (داحرام تړلو میقاتونه «ځایونه» پنځه دي)

۱- د مدینې منورې د خلګو او د هغه طرف څخه د راتلونکو خلګو له پاره ذو الحلیفة میقات دی چي اوس د (ابیار علی) په نامه یادیږي.(۲)

(۱) التاتارخانیة: ج ۲ ص ۱۷۴/ المحیط البرهاني: ج ۳ ص ۴۱۲.

(۲) معلم دار الهجرت ص ۱۵۷.

ketabton.com - The Digital Library



۲– د شام د خلکو او د هغه طرف څخه د راتلونکو خلکو له پاره الجحفة میقات دی.(۱)

۳– د اهل نجد د خلکو له پاره قرن منازل دی چې اوس د (السیل) په نامه سره مشهور دی.

۴– د یمن د خلکو له پاره یلملم میقات دی.

۵– د عراق د خلکو له پاره او د مشرق د طرف څخه د راتلونکو خلکو له پاره میقات تهامه، هند، او ذاتُ العِرق دی.(۲)

۱– تر میقات دباندي خلک لکه د افغانستان او پاکستان حج کوونکي که اول ځلي مکې مکرمې ته نه ځي بلکي مدینې

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۳۰ ص ۳۱۹/ التاتارخانية: ج ۳ ص ٥٤٩/ المحيط البرهاني: ج ۳ ص ۴۱۲.

(۲) الهداية: ج ۱ ص ٢١٦/ المحيط البرهاني في الفقه النعماني: ج ۳ ص ٤١٢.

ketabton.com - The Digital Library



منورې ته ځي نو دغه خلک که بې له احرامه تر میقات تېر سي یعني جدې ته ولاړ سي دا روا دي شی نه پر لازمیږي.(۱)

۲- آفاقي یعني هغه څوک چي له مواقیتو څخه دباندي استوګن وي، په ټوله نړۍ کي په اصطلاح کي د آفاقي په نوم یادیږي، او دغو خلکو ته افاقیان ویل کیږي، دوی به د حج او عمرې احرام له میقات څخه یا تر میقات مخکي تړي بې له احرامه تر میقات تېرېدل حرام دي.(۲)

۳- هغه څوک چي په مکه مکرمه یعني د حرم په حدودو کي وي که د دغه ځای وي او که د بل ځای څخه راغلی وي هغه به د حج احرام د حرم څخه تړي او د عمرې احرام به د حل څخه

(۱) المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۸۷/ البدائع: ج ۲ ص ۳۷۵.

(۲) البدائع: ج ۲ ص ۳۷۱/ الهدایة مع الفتح: ج ۲ ص ۳۳۴.

ketabton.com - The Digital Library



ترې، لکه مسجد عائشة رضي الله عنها يعني تنعيم او جعرانه يا د حل نور ځايونه، خو تنعيم افضل دی.(۱)

۴- کوم سړی چې په حرم کې دی که د عمرې احرام په حرم کې وتړي دم پر لازم دی او که د حجر اسود تر استلام مخکې حل ته يعني تنعيم ته ولاړ سي او د هغه ځای څخه تلبيه ووايي يوازې په دغه صورت کې د دم څخه خلاصيږي.(۲)

۵- کوم څوک چې په مکه معظمه کښې وي هغه دې د عمرې احرام تنعيم، جعرانة يا د حرم د بل حد څخه وتړي.

۶- که څوک د ميقات څخه بې له احرامه تېر سي، نو پر ده باندې لازمه ده چې دغه ميقات يا بل ميقات ته ور وګرځي او د ميقات څخه تلبيه ووايي، که نه وروګرځېدی او يا يې پر

---

(۱) البدائع: ج ۲ ص ۳۷۶/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۱/ الحاوي القدسي: ج ۱ ص ۳۲۴.

(۲) و اذا أراد العمرة الحل فاذا أحرم بها من الحرم لزمه دم، البحر: ج ۲ ص ۵۶۰/ المبسوط للسرخي: ج ۴ ص ۱۹۱/ الزيلعي: ج ۲ ص ۳۹۹.

ketabton.com - The Digital Library



میقات باندي تلبیه نه وویل نو دم پر لازمیږي.(۱) د دم څخه مراد پسه یا بزه یا د غوایي یا اوښ اوومه برخه قرباني کول دي. په قرباني کې نر یا ماده هر یو صحیح کیږي، البته دا قرباني به د حرم په حدودو کې دننه کیږي.

۷- د مدینې منورې خلک که تر ذوالحلیفې تېر سي او د جحفې د میقات څخه احرام وتړي شی نه پر لازمیږي خو د اول میقات څخه احرام ترل افضل دي.(۲)

(۱) اللباب: ص ۹۴/ غنية الناسك: ص ۶۰/ و إن لم يعد فعليه دم فإن رجع إلى الميقات ولبي إن رجع قبل أن يحرم فلا شئ عليه بالاتفاق/ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۸۹/ المیحط البرهاني: ج۳ ص ۴۱۴/ البحر: ج ۳ ص ۸۵/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۱/ غنية الناسك: ص ۶۰.

(۲) غنية الناسك: ص ۵۳ الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۴۸/ إرشاد الساري ص ۹۱.

ketabton.com - The Digital Library



۸- که څوک پر یوه میقات باندي تیرېږي او وروسته بیا د بل میقات پر برابر باندي احرام وتړي دغه د دوهم میقات پر برابر احرام نه دی معتبر او دم پر لازمیږي.(۱)

۹- هغه څوک چي تر میقات دباندي وي د حج او عمرې احرام به د میقات څخه او یا د میقات څخه مخکي تړي او بې له احرامه تر میقات تېریدل حرام دي.(۲)

۱۰- که یو څوک د کعبې شریفي څخه جعراني، حدیبیي، تنعیم، عرفات او یا دحل بل ځای ته د لیدلو له پاره ولاړ سي نو بیرته بې له احرامه کعبې شریفي ته راتلای سي او شی نه پر لازمیږي البته په دې شرط چي تر میقات تېر سوی نه وي.(۳)

---

(۱) الشامي: ج ۲ ص ۱۶۷/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۶۰/ غنية الناسك: ص ۵۳.

(۲) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۴۷/ البدائع: ج ۲ ص ۳۷۱/ الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۳۴.

(۳) المكي إذا خرج إلى الحل لحاجة له أن يدخل مكة بغير إحرام بشرط أن لا يكون جاوز ميقات الافاقي، غنية الناسك: ص ٦٤/ البدائع: ج ص ۳۷٦/ المبسوط للسرخسي: ج ص ۱۸۷.

ketabton.com - The Digital Library



## (د احرام په نیت دوه رکعته لمونځ کول)

د احرام په نیت د دوو رکعتو په لمانځه کښې باید د ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ څخه وروسته په اول رکعت کښې ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ او په دوهم رکعت کښې د ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ څخه وروسته باید ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ وويل سي.(۱)

د احرام دوه رکعته لمونځ مستحب دی.(۲)

د احرام دوه رکعته لمونځ به په مکروه وخت کي نه کوي، بلکي پرېږدي به يې او وروسته يې راګرځول هم نسته.(۳)

---

(۱) التاتارخانية: ج ۲ ص ۲۲۳۱۵٤/ المحيط البرهاني: ج ۳ ص ۱٤/ الفتاوى الهندية: ج ۱ ص ۲۲۳.

(۲) الدر المختار: ج ۲ ص ۱۷۱/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۶۹.

(۳) ولا يصليها في الوقت المكروه، الدر المختار: ج ۲ ص ۱۷۱/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۳/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۶۳/ مجمع الأنهار في شرح ملتقى الأبحار: ج ۱ ص ۳۲۷ دار الاحياء بيروت).

ketabton.com - The Digital Library



که یو څوک فرض لمونځ وکړي او بیا احرام وتړي وروسته د احرام دوه رکعته لمونځ کول نه غواړي دغه فرض لمونځ کفایت کوي.(۱)

د احرام دوه رکعته لمونځ به په پټ سر کوي، اول دي احرام وتړي او سر دي هم پټ کړي بیا دي دوه رکعته نفل لمونځ اداء کړي ځکه په دغه وخت کې لا دی محرم نه دی او د غیر محرم له پاره په لڅ سر لمونځ کول مکروه دی چې د عاجزۍ په وجه نه وي او رخچینه (خولی) پر سرول سنت ده.(۲)

د احرام د دوو رکعتو نفلو څخه وروسته دي د عمرې نیت وکړي.

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۷۳/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۴۰/ التبيين: ج ۲ ص ۲۵۲.

(۲) مرقات: ج ۸ ص ۲۱۵/ الاختيار لتعليل المختار: ج ۱ ص ۱۴۳/ الهندية: ج ۱ ص ۱۰۶/ الشامي: ج ۱ ص ۴۷۴.

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې نیت او تلبیه)

د احرام تړلو په وخت کې دې په زړه کې د عمرې یا د حج نیت او د احرام قصد وکړي، چې احرام یې وتړی بیا دې نیت په ژبه وکړي، نیت یې دا دی

( اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّيْ )(۱)

ژباړه: اې الله زه اراده لرم د عمرې ته یې راته اسانه کړې او ته یې را څخه قبوله کړې.

د همدې کلماتو څخه وروسته درې ځلې دې «لبیک» یعني تلبیه ووایي محرم چې هر ځلې تلبیه شروع کړي درې ځلې پرله پسې ویل یې مستحب دي، د دغه تلبیې په منځ کې به خبرې نه کوي.(۲)

---

(۱) إرشاد الساري: ص ۱۱۰ وص ۱۱۲.

(۲) و يستحب أن يكررها كل ما أخذ فيها ثلاث مرات وياتي بها على الولاء ولا يقطعها بكلام، البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۷۰/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۷۰/ الاختيار لتعليل المختار: ج ۱ ص ۱٤۳.

ketabton.com - The Digital Library



او تلبیه به نارینه درې ځلي په لوړ آواز او ښځینه به درې ځلي په ټیټ آواز سره وایي.(۱)

تر تلبیې وروسته درود شریف کرار ویل مستحب دی.(۲)

د تلبیې هغه الفاظ چې د ټولو فقهاوو پر اتفاق دی هغه د رسول الله ﷺ د تلبیې دغه الفاظ دي:

## (تلبیه)

**لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ.**

ژباړه: په خدمت درته ولاړ یم یا الله، په خدمت درته ولاړ یم، په خدمت درته ولاړ یم، هیڅ شریک نسته تا لره، په خدمت

---

(۱) ورفع الصوت بها سنة إلانه لا يجهد نفسه كما يفعله العوام. البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۷۰/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۸/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۵۱.

(۲) و يستحب أن يصلي على النبي المعلم للخير صلى الله عليه وسلم إذا فرغ من التلبية ويخفض صوته بذلك، فتح القدير: ج ۲ ص ۳۵۲/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۳/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



درته ولاړ یم، په تحقیق سره ټوله ثناء صفت او نعمتونه تا لره دي، همدا ډول پادشاهي تا لره ده او هيڅ شريک نسته تا لره.(١)

د تلبيې څخه وروسته چې کومه دعاء غواړي هغه دي وکړي ليکن د تلبيي څخه وروسته همدغه دعاء مستحب ده.

**اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ رِضَاكَ وَالْجَنَّةَ وَنَعُوْذُبِكَ مِنْ غَضَبِكَ وَالنَّارِ.(٢)**

ژباړه: اې الله زه ستا څخه ستا رضاء او د جنت غوښتنه کوم او ستا د غصې او د جهنم څخه پناه غواړم. د نيت او تلبيې څخه وروسته احرام وتړل سو نو د هغو ټولو شيانو څخه ځان وساته چې د احرام د تړلو څخه وروسته منع وي.

---

(١) الموسوعة الفقهية: ج ١٣ ص ٢٦١/ البدائع: ج ٢ ص ٣٣٨/ البحر الرائق: ج ٢ ص ٥٦۴ إرشاد الساري: ص ١١٢ وص ١١٦/ الهداية: ج ١ ص ٢١٨.

(٢) رد المحتار: ج ٣ ص ٦٧٩ (القاهرة).

ketabton.com - The Digital Library



## (د احرام مسائل)

۱- د احرام له پاره غسل کول د هر محرم له پاره د څلورو مذاهبو د امامانو په نزد سنت دی.(۱)

۲- د احرام له پاره غسل کول افضل دی اودس هم صحت لري.(۲)

۳- که یو څوک د احرام له پاره غسل او اودس ونه کړي روا دی خو مکروه کار دی.(۳)

۴- د احرام لنګ او پټو سپین رنګ افضل دی خو بل رنګ هم صحت لري.(۴)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۷۱/ غنية الناسك: ص ۶۷/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۶۲.

(۲) و إذا أراد أن يغتسل أو وضئ والغسل أفضل، البدائع: ج ۲ ص ۳۳۴/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۵۳ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۴.

(۳) ولو أحرم بلا غسل ووضوء جاز ويكره، غنية الناسك: ص ۷۰/ اللباب: ص ۱۰۹.

(٤) و كونه أبيض أفضل من غيره كالتكفين، البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۶۲ الدر المختار مع حاشية رد المحتار: ج ۱ ص ٤٨١ كتاب الحج فصل في الاحرام/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۲.

ketabton.com - The Digital Library



۵- که چیري محرم د احرام له پاره یوازي لنګ وتړي چي عورت یې په پټیږي دا هم روا دی.(۱)

۶- په تلبیه ویلو کي افضل دا دي چي د دوه رکعته لمانځه وروسته یې دستي ووایي په طیاره یا موټر کي هم صحت لري.(۲)

۷- هغه څوک چي یوازي تلبیه ووایي اود احرام نیت یې نه وي کړی محرم نه ګرځي.(۳)

---

(۱) و لو لبس ثوبا واحدا یستر عورته جاز، کذا في الاختیار لشرح المختار الهندیة: ج ۱ ص ۲۲۲/الدر المختار: ج ۲ ص ۱۷۱.

(۲) ثم یلبي في دبر الصلوة أو بعد ما استوت به راحلته و التلبیة في دبر الصلاة أفضل عندنا، الهندیة: ج ۱ ص ۲۲۳/ الخانیة علی هامش الهندیة: ج ۱ ص ۲۵۸/ الهدایة مع فتح القدیر: ج ۲ ص ۳۳۹.

(۳) و أما شرطه فالنیة حتی لا یصیر محرما بالتلبیة بدون نیة الاحرام الهندیة: ج ۱ ص ۲۲۲/المبسوط للشیباني: ج ۲ ص ۴۵۶/ غنیة الناسك: ص ۶۵.

ketabton.com - The Digital Library



۸- محرم که په میقات کې صرف نیت وکړي تلبیه یې نه وویل بیا یې په داخل د میقات کې وویل نو دم پرې لازمیږي.(۱)

۹- او هغه څوک چې یوازې د احرام نیت وکړي او تلبیه یې نه وي ویلې زموږ د مذهب مطابق یوازې په نیت کولو سره محرم نه ګرځي ترڅو چې تلبیه یې نه وي ویلې.(۲)

۱۰- تلبیه یو ځل ویل شرط او فرض دي او تکرار یې سنت دی.(۳)

۱۱- په تلبیه کې شرط دا دی چې په ژبه یې ووایې یوازې په زړه کې قصد یعنې په زړه کې ویل او نیت کول صحت نه لري، په تلبیه کې د حج یا عمرې معلومول سنت دي.(۴)

---

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۲۵۳.

(۲) ولا يصير محرما عندنا بمجرد النية ما لم يضم إليها التلبية التاتار خانية على هامش الهندية: ج ۱ ص ۲۸۵/ غنية الناسك: ص ۶۵/ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۲۰۸.

(۳) والتلبية مرة شرط وهو عند الاحرام والزيادة على المرة سنة والإكثار منها مستحب في كل حال، غنية الناسك: ص ۷۵/ لباب المناسک: ص ۱۱۴.

(٤) الشامي: ج۲ ص ۱۷۲/ الموسوعة الفقهية: ج۲ ص ۱۳۳/ لباب المناسک: ص ۱۱۳.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲- که چا د تلبیې پر ځای د احرام په نیت «سُبْحَانَ اللّٰهِ» یا «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ» یا «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ» یا «اَللّٰهُ أَكْبَرُ» یا نور دغسي الفاظ وویل احرام یې صحیح دی او محرم ګرځي که تلبیه ویلای سي او که نه.(۱)

۱۳- د تلبیې دغه خاص الفاظ سنت دي شرط نه دي.(۲)

۱۴- د تلبیې څخه مراد ذکر دی، دغه د تلبیې خاص الفاظ نه دي مراد.(۳)

۱۵- او ګونګی چي د حج یا عمرې نیت وکړي د ده له پاره مستحب دا دی چي د احرام د نیت سره د تلبیې سره ژبه

---

(۱) الهنديه: ج ۱ ص ۲۲۲/ لباب المناسک: ص ۱۱٤/ غنية الناسک: ص ۷٦ و أما خصوص التلبية فسنة لا شرط فإذا تركها و أحرم بغيرها كره تنزيها لترك السنة، البحر الرائق: ج ۲ ص ٥٦٥/الشامي: ج ۲ ص ۱۷۳.

(۲) الهندية: ج ۱ ص ۲۲۲/ لباب المناسک: ص ۱۱۴/ غنية الناسك: ص ۷۶.

(۳) و قول من قال أن التلبية شرط مراده ذكر يقصد به التعظيم لا خصوصها، الشامي: ج ۲ ص ۱۷۳/غنية الناسك: ص ۷۶/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۶۵.

ketabton.com - The Digital Library



وښوروي خو دا واجب نه ده او په لمانځه کي د ګونګي له پاره د ژبي ښورول نسته.(١)

١٦- تلبيه په لوړ آواز ويل سنت دي خو په زوره ويلو کي به تکليف پر ځان نه راولي لکه عوام خلک.(٢)

١٧- که يې د تلبيې الفاظ په ژبه دومره کرار وويل چي خپله يې هم نه اوريدل دغسي ويل د صحيح قول مطابق معتبر نه دي.(٣)

---

(١) الفرع الثاني: في الأخرس، الأصح عند الحنفية يستحب له أن يتحرك لسانه بالتلبية مع النية، ولا يجب. الموسوعة الفقهية: ج ٢ ص ١٣٣/ الشامي: ج ٢ ص ١٧٢/ مسلك المنقسط: ص ١١۴.

(٢) ورفع الصوت بها سنة إلا أنه لا يجهد نفسه كما يفعله العوام، البحر الرائق: ج ٢ ص ٧۴ الشامي: ج ٢ ص ١٧٨/ فتح القدير: ج ٢ ص ٣٥١.

(٣) وكذا لو صح الحروف بلسانه ولم يسمع نفسه لم يعتد بها على الصحيح، غنية الناسك: ص ٧۴/ إعلاء السنن: ج ٧ ص ٢٩٧٢.

ketabton.com - The Digital Library



۱۸- په عرفات کي به تلبيه ډېره ډېره وايي.(۱)
دا تلبيه د لبيک تر نورو اذكارو ځکه ښه والى لري، چي د قيامت په ورځ به رسول الله ﷺ د الله جَلَّ جَلَالُهُ سره لومړى خبره په لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ سره وي.(۲)
۱۹- د عمرې تلبيه له احرام څخه شروع کيږي بيا تر هغه وخته چي د عمرې په طواف شروع کوي بيا به تلبيه ختمه کړي.(۳)
۲۰- عمرې کونکى به د صفا او مروا په سعي کي تلبيه نه وايي، ځکه د عمرې د طواف په شروع سره تلبيه پاى ته ورسيده.(۴)

---

(۱) ويُلَبِّي في موقِفِه ساعةً، ولا يقطع التلبية، وهذا قولُ عامَّةِ العلماء. البدائع: ج ۲ ص ۳۵۳/ الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۷۴/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۶۳.
(۲) مناسک الحج (جديد كامل)، الشيخ ملا عبدالغني رحمه الله: ص ۱.
(۳) فإنه يقطع التلبية إذا استلم الحجر وأخذ في طواف العمرة، البدائع: ج ۲ ص ۳۵۸/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۰ ص ۳۱۷/ الهداية: ج ۱ ص ۲۴۲ محمود بن احمد العيني: ج ۵ ص ۲۰۰.
(٤) فإن التلبية تقطع بأول شروعه في طوافها، لباب المناسك: ص ۱۱۶/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۸.

ketabton.com - The Digital Library



۲۱- د حج تلبيه د احرام څخه شروع کيږي بيا تر هغه وخته پوري به يې وايي چي د جمرة العقبة غټ شيطان د اولي ډبري په ويشتلو شروع کوي نو تلبيه به پای ته ورسوي.(۱)

## (په احرام کي د خوشبويي د استعمالولو مسائل)

احرام ته ځکه احرام وايي چي د ده په سبب سره حراميږي هغه مباح او روا کارونه چي تر احرام مخکښي روا وي لکه خوشبويي، د ګنډل سوي جامې اغوستل او داسي نور....(۲)

۱- محرم که ډيره خوشبويي استعمال کړي دم پر لازم دی او که لږ استعمال کړي صدقه پر لازمه ده، که خوشبويی خپله لږ وي نو د اندام اعتبار يې کيږي او خوشبويي يې اعتبار نه لري،

---

(۱) يقطع التلبية مع أول الحصا يرميها من جمرة العقبة في الحج الصحيح، لباب المناسک: ص ۲٤۸/ التاتارخانية على هامش الهندية: ج ۱ ص ۲۹٥/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۱/ الهداية: ج۱ ص ۲۳۰.

(۲) جوهرة: ج ۲ ص ۳٦٥/ العلاج في أمراض الحجاج: مؤلف مولوي محمد سرور الحقاني ص ٦٧.

ketabton.com - The Digital Library



يعني که يو غټ اندام لکه سر مخ، ږيره خوله، پندۍ، ورون، بازو، لاس، ورغوی او داسي نور.... که هر يو ټوله په خوشبويه سو دم لازم دی که تر اندام کم وي او يا اندام کوچنی وي لکه پوزه، غوږ، سترګي، ګوته، بريتونه، بيا صدقه ده او که خوشبويي خپله ډېره وي بيا خوشبويي اعتبار لري او اندام اعتبار نه لري، يعني که د اندام څلورمه برخه په خوشبويه سوه دم لازم دی او که تر څلورمي برخي کم وي بيا صدقه ده.(۱)

۲- هغه خوشبويي چي ناظر يعني کتونکی يې ډېره بولي هغه ډېره بلل کيږي او هغه چي ناظر يې لږ بولي هغه لږ بلل کيږي.(۲)

۳- که محرم په يوه مجلس کي په خپلو ټولو اندامو باندي خوشبويي ولګوي د ټولو اندامو په وجه يو دم لازم دی.(۳)

---

(۱) هکذا في محيط السرخسي و التبيين:/ الهندية: ج ۱ ص ۲۴۱/ الشامي: ج ۲ ص ۲۱۸ غنية الناسك: ص ۲۴۳/ لباب المناسك: ص ۳۴۶.

(۲) غنية الناسك: ص ۲۴۴/ فتح القدير: ج ۲ ص ۴۳۹.

(۳) لباب المناسك: ص ۳۴۷/ غنية الناسك: ص ۲۴۴/ مجامع المناسك: ص ۳۸۴.

ketabton.com - The Digital Library



۴- که محرم پر بدن باندي د خوشبويي د استعمال په وجه دم حلال کړي او خوشبويي د بدن څخه ليري نه کړي نو پر ده بل دم سته، ځکه خوشبويي د بدن څخه ليري کول واجب دي.(۱)

۵- محرم چي خوشبويي د احرام پر جامه استعمال کړي که د دغه خوشبويي مقدار تر لوېشت په لويشت کښي زيات سو او يوه ورځ يا يوه شپه دوام وکړي نو دم پر لازميږي او که د خوشبويي مقدار تر دغه کم و يا مقدار پوره و خو پوره ورځ يا پوره شپه پاته نه سو نو بيا صدقه واجب ده.(۲)

۶- په کومه کوټه کښي چي خوشبويي پاشل سوې وي په دغه کوټه کي د محرم او سېدل پروا نه کوي.(۳)

۷- د جامې هغه خوشبويي چي دم په لازميږي که ژر پريول سي د دم څخه خلاصيږي او صدقه هم نسته خو د پرېمنځلو په

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۸۳ الدر المختار مع الشامي: ج ۲ ص ۲۱۸/ غنية الناسك: ص ۲۴۶.

(۲) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۸۳/ الشامي: ج ۲ ص ۲۱۸.

(۳) المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۳۶/ البدائع: ج ۲ ص ۴۱۸/ لباب المناسك ص ۳۵۶.

ketabton.com - The Digital Library



وخت کښې په ځان خصوصاً لاسونه د خوشبويي څخه ساتي د بل غير محرم په واسطه دې ليري کړي يا دي دستکلي يا کڅونه په لاس واغوندي او که بل احرام لري نو هغه دي استعمال کړي.(۱)

۸- که د چيښلو په شي کي د خوشبويي شی ګډ سي، لکه په چای کې چي هېل ګډ سي نو که د خوشبويي شی ډېر وي نو په ډېر چښلو سره يې دم لازمېږي، په لږ چيښلو سره صدقه ده او که د خوشبويي شی مغلوب او لږ وي نو په چښلو سره يې صدقه لازمه ده، خو که يې په يوه مجلس کي په څو ځله وچښي نو بيرته دم لازم دی.(۲)

۹- د احرام په حالت کښې هغه شربت چښل چي خوشبويي غالبا ډېره وي دم لازم دی او که مغلوبه يعني لږ وي صدقه

(۱) غنية الناسك: ص ۲۴۳/ إرشاد الساري: ص ۳۵۵.

(۲) غنية الناسك: ص ۲۴۷/ الهندية: ج ۱ ص ۲۴۱/ شرح اللباب: ص ۳۵۳.

ketabton.com - The Digital Library



لازمه ده، که يې دغه د کموالي په صورت کښې څو ځله په يوه مجلس کښې وچښي نو دم لا زم دی.(۱)

۱۰- کومه خوشبويي چې حقيقي بلل کيږي لکه عنبر، مسک، زعفران او داسې نور؛ که د پوخ سوي شي سره ګډ سي او وخوړل سي نو هيڅ شی نه واجبيږي، که څه هم غالب وي. همدارنګه کوم خواړه چې نه پخيږي که خوشبويه سي او خوشبو يې چې غالب وي، که څه هم خوشبويي نه کوي دم واجب دی.(۲)

۱۱- کومې ميوې چې ذاتي او طبيعي خوشبويي لري او د خوشبويۍ له پاره نه استعماليږي او وخوړل سي نو په خوړلو سره يې هيڅ شی نه لازميږي، لکه مالټه، سيب (منه)، انار، امروت، ام، خټکی، زردالو، شفتالو، ناک، اناناس، ګيلاس، انګور او داسې نور.(۳)

---

(۱) غنية الناسك: ص ۲۴۷/ اللباب الشامي: ج ۲ ص ۲۲۸.

(۲) زبدة المناسک: ج ۲ ص ۳۵۵/ بدائع الصنائع: ج ۱ ص ۴۱۷/ الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۴۱.

(۳) الفتاوی الهندية: ج۱ ص ۲۴۰./ فتح القدير ج ۲ ص ۴۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲– د هغه صابون استعمال په احرام کښې چې خوشبويي نه لري د هغه په استعمال سره شی نه لازمیږي خو که خیري يې ليري کولې نو مکروه دی او هغه صابون چې خوشبويي ولري که چیري داسي وي چې د خوشبويي اجزاء يې د پاکوالي تر اجزاو و لږ وي نو خوشبويي مغلوبه بلل کیږي، که دغه د خوشبويي اجزاء هغه د پاکوالي تر اجزاوو ډېر وي نو بيا خوشبويي غالبه بلل کیږي یعني که خوشبويي ډېره وي او ډېره استعمال سي نو دم پرلازم دی، که لږ استعمال سي یا يې خوشبويي لږ وي بيا صدقه ده.(۱)

۱۳– په احرام کښې د رانجو استعمالول پروا نه کوي که په دغه رانجو کي خوشبويي نه وي ګډه که خوشبويي ورسره ګډه

(۱) غنية الناسك: ص ۹۰/ لباب المناسك: ص ۱۳۵/ فتاوی دار العلوم زكريا: ج ۳ ص ۴۴۴.

ketabton.com - The Digital Library



وي نو بيا په يو ځل او دوه ځله استعمال سره صدقه لازميږي او په څو ځله استعمال سره دم لازميږي.(۱)

۱۴- په احرام کښې بايد داسي چپلکي په پښو سي چي د پښې د مخ دغه د منځ پورته هډوکی نه پټوي، دغه هډوکي ته په عربي کي کعب وايي او د دغه کعب توري ښخه په دغه ځای کښې بيجلکه نه ده مراد.(۲)

۱۵- که محرم بې له عذره بوټونه او جرابي په پښو کړي، که پوره ورځ يا شپه وي دم پر لازم دی که تر دغه کم وي نو صدقه لازمه ده.(۳)

---

(۱) غنية الناسك: ص ۲۴۹/ فتح القدير: ج ۲ ص ۴۴۱/ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۳۶.

(۲) البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۶۷/ فتح القدير: ج ۲ ص ۲۴۶/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۷/ المحيط برهاني: ج ۳ ص ۴۳/ بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۱۸٦.

(۳) البدائع: ج ۲ ص ۴۱۰/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۷ بدائع الصنائع: ج ۱ ص ۲٦۸.

ketabton.com - The Digital Library



۱۶- په احرام کښې توس یا شړۍ پر داسې طریقه باندې پر ځان اچول چې مخ او سرېې لڅ وي پروا نه کوي.(۱)

۱۷- که پر محرم دانه راختلې وي دی یې کښېکاږي هغه وینه او اوبه وکړي یا غاښ وکاږي او هغه وینه وکړي، په دواړو صورتو کښې نه دم سته نه صدقه.(۲)

۱۸- محرم که د ګرمۍ له کبله د احرام پټو د اوږې څخه لیرې کړي یا د یخ له کبله پټو او لنګ دوه دوه کړي پروا نه لري.(۳)

۱۹- د محرم له پاره انګشترۍ په ګوته کول یا ساعت په لاس کول روا دي محرم که نر وي او که ښځه فرق نه لري.(۴)

---

(۱) الشامي: ج ۲ ص ۱۷۶/ محمودية: ج ۱۰ ص ۴۳۷/ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۵۷۰.

(۲) المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۳۷/ غنية الناسك: ص ۹۲/ البدائع: ج ۲ ص ۳۱۸.

(۳) الشامي: ج ۲ ص ۱۷۰/ فتاوى دار العلوم ديوبند: ج ۶ ص ۴۲۱/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۲.

(٤) إرشاد الساري: ص ۱۳۵/ الدر المختار: ج ۲ ص ۱۷۸/ الفقه الحنفي و :أدلته: ج ۱ ص ۴۲۲/الفقه الاسلامي وأدلته: ج ۳ ص ۲۳۱۷.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲۰- په احرام کښې د سر او ږيرې ږمونځول يا د ږيرې خلا لول مکروه دي.(۱)

۲۱- که د محرم نوک مات سي تر ماتېدو وروسته يې پرې کړي هيڅ شی نه لازميږي.(۲)

۲۲- نارينه او ښځي په احرام کي عطر نسي وهلای او نه په خوشبويو روغنياتو وربښتان او بدن غوړولای سي او ښځي بايد د کور دباندي هيڅکله په ځان باندي عطر ونه وهي، ځکه ښځه چي په ځان عطر ووهي او بيا د خلکو سره تېريږي د عطر و بوی يې پر بېګانه او نامحرمو خلکو ولګيږي دا ډول ښځي رسول الله ﷺ ګنهګاري بللي دي.(۳)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۱۱ ص ۵۴/ الشامي: ج ۱ ص ۸۴/ النهر الفائق: ج ۱ ص ۴۲/ إرشاد الساري: ص ۱۳۳/ غنية الناسك: ص ۹۰.

(۲) التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۹۴/ الهندية: ج ۱ ص ۲۴۴.

(۳) أيما امرأة استعطرت فمرت على قوم ليجدوا من ريحها فهي زانية، رواه النسائي رقم الحديث ۵۱۲۶.

ketabton.com - The Digital Library



۲۳- د احرام په حالت کي د بام (ویکس) خوشبویي که ډېره وي او پر ټوله تندي ولګول سي دم لازم دی او که پر لږ حصه باندي یو وار ولګول سي بیا صدقه لازمه ده.(۱)

۲۴- د محرم له پاره د احرام تر تړلو مخکي پر بدن باندي د خوشبویي لګول سنت دي او د احرام پر پټو باندي دهغه خوشبویي لګول چي ذات یې تر احرام وروسته پاتېږي روا نه دي.(۲)

۲۵- که محرم د احرام تړلو مخکي خوشبویي استعمال کړه او د هغه خوشبویۍ بوی تر احرام تړلو وروسته هم پاته و پروا نه کوي.(۳)

---

(۱) شرح اللباب ص ۳۵۳.

(۲) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۵۲/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۳/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۹۷۰.

(۳) البدائع: ج ۲ ص ۴۱۸/ المبسوط: ج ۴ ص ۱۳۶.

ketabton.com - The Digital Library



۲۶- که محرم د یوه لاس یا پښې ټول نوکان پرې کړي دم لازم دی.(۱)

۲۷- که محرم د لاسو نوکان یو ځای او د پښو نوکان بل ځای پرې کړه، نو بیا دوه دمه پر لازمېږي.(۲)

۲۸- که محرم ته احتلام پېښ سي بې له غسله بل هیڅ نه پر لازمېږي.(۳)

۲۹- په احرام کي چي د جماع په وجه کومه جزاء لازمېږي په دې کي د قصداً او سهوا، خبرتیا او ناخبرتیا د زور او رضا فرق نه سته د ټولو یو حکم دی.(۴)

---

(۱) الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۴۵۰/ ارشاد الساري: ص ۳۶۷/ الفتاوى الهندية: ج ۱ ص ۲۵۷.

(۲) الهداية: ج ۱ ص ۲۵۰ ارشاد الساري: ص ۳٦۸.

(۳) الهندية: ج ۱ ص ۲۴۴/ غنية الناسک: ص ۲٦۸.

(٤) الموسوعة الفقهية: ج ۴۰ ص ۲۸۱/ البدائع: ج ۲ ص ۴٦۲.

ketabton.com - The Digital Library



۳۰- که محرم ښځي ته په شهوت وګوري، یا فکر ووهي او انزال سي نه دم پر لازم دی نه صدقه.(۱)

۳۱- که چا د احرام په حالت کي خپلي ښځي ته په شهوت سره لاس وروړی او یا یې مچ کړه دم پر لازمیږي.(۲) که محرم د احرام په حالت کې خپل ځان د خپل لاس په واسطه انزال کړي نو دم پر لازمیږي.(۳)

۳۲- که عمره کوونکی د عمرې تر طواف وروسته د سر خریلو مخکي جماع وکړي عمره نه فاسدیږي البته دم پر لازم دی.(۴)

۳۳- محرم د احرام په حالت کي خپل ځان ته یا بل ته پیچکاری لګولای سي ځکه په ستن سره پوست سوری کیږي او ستن یو قسم دوا ده او محرم د پوست سوري کولو او دوا

---

(۱) المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۱۳۳.

(۲) الهداية: ج ۱ ص ۲۵۱/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۸۵.

(۳) مجمع الأنهر: ج ۲ ص ۱۲۳.

(٤) غنية الناسك: ص ۲۷۰/ الشامي: ج ۲ ص ۲۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



څخه منعه نه دی او په احرام کی سګریټ څکول مکروه دي.(۱)

۳۴- ځیني خلک په احرام کې د بدن د لګېدو په وجه نېکر اغوندي یا د ورنو سره خوشبویه پوډر اچوي، که دغه نېکر یې پوره ورځ اغوستی وي او یا دغه خوشبویي د پوډرو ډېره وي نو د دغه محرم اختیار دی که دم حلالوي او که شپږ مسکینانو ته نیمه کاسه غنم ورکوي، که درې روژې نیسي.

او که دغه نیکر پوره ورځ وانه غوندي او یا د پوډرو خوشبویي کمه وي بیا د دغه محرم اختیار دی که یو مسکین ته نیمه کاسه غنم صدقه ورکوي او که یوه روژه نیسي.(۲)

---

(۱) البدائع: ج ۲ ص ٤١٨/ الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۷۰/ فتاوی دار العلوم زکريا: ص ٤٤٣/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۸.

(۲) هندية: ج ۱ ص ٢٤٤/ مبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ۱۳۷/ أما ما يجب فيه الصدقة إن شاء تصدق بما وجب عليه من نصف صاع أو أقل على مسكين أو صام يوما، الشامي: ج ۲ ص ۲۲۸/ اللباب: ص ۳۷.

ketabton.com - The Digital Library



۳۵- که یو څوک په احرام کې سر او ږیره په رنګ یا په نکریځو رنګ کړي نو دم پر لازمیږي.(۱)

۳۶- محرم ته د احرام په وخت کې عینکې ایښودل پروا نه لري.(۲)

۳۷- محرم د احرام په حالت کې اهلي کورني حیوانات لکه پسه، بزه، غوا، ګامیښه، اوښ، چرګان حلالولای سي د دغه اهلي (کورنیو) حیواناتو حلالول او خوړل جائز دي خو د کوترو حلالول په هر ځای کې منعه دي که څه هم عامي کوتري وي.(۳)

---

(۱) المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ١٢٣/ بدائع الصنائع: ج ٢ ص ٢٨٨.

(۲) فتاوی حقانیة: ج ٤ ص ٢٧٢/ فتاوی دار العلوم دیوبند: ج٦ ص ٤٢٢.

(۳) وذبح الإبل والبقر والحیوانات الأهلیة مباح وذلك لأنها لا تدخل في تحریم الصید ولا محرمات الاحرام باتفاقهم. الموسوعة الفقهیة: ج ٢ ص ١٧٠/ آپ کے مسائل: ج ٢ ص ١٥٨/ غنیة الناسك: ص ٩٣/ معلم الحجاج: ص ١١٥.

ketabton.com - The Digital Library



۳۸- د احرام په حالت کی که یو څوک کیکه، شپږه، یا غوماشه مړه کړه، نو پر ده باندي صدقه ورکول لازمیږي، په صدقه کي یو مټ غنم، خورما یا بل داسي شي کفایت کوي.(۱)

۳۹- په حرم شریف کي ښکار کول وني پریکول هم منع دي همدارنګه په احرام کي ملخ وژل منع دي منی او مزدلفه د حرم په حدودو کي داخل دي د دي ځایو له وښو پریکولو څخه پرهیز لازم دی خو د عرفات میدان د حرم له حدودو څخه دباندي دی د هغه وابنه پریکول هیڅ پروا نه لري.(۲)

۴۰- محرم ته د هغه حیوانانو وژل روا دي چي ده ته یا بل چا ته ضرر او تاوان رسوي لکه شرموښ، مار، لړم، موږک، منګر، غوماشه، خوړی سپي، کارګه او نور داسي ضرر رسوونکي شیان، د دې شیانو په وژلو سره پر محرم هیڅ شی نه

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲٦۳ كتاب الحج.

(۲) بحر الرائق شرح كنز الدقائق: ج ۲ ص ۳٦۸/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۷۵/ احكام الحج: ص ۱۰۰ حضرت مفتی محمد شفيع رحمه الله/ اخبار مكة: ص ۱۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



لازمیږي.(۱) که محرم مړ سو مخ به یې په کفن کې ورپټوي، دا ځکه چي په مرګ سره یې احرام له مابینه ولاړئ.(۲)

۴۱- بعضي خلګ په احرام کي ماسک تړي نو د مخ د څلورمي برخي څخه یې زیاته برخه پټیږي که پوره یوه ورځ یا شپه یې تړلی وي دم پر لازمیږي او که تر ورځ یا شپه کم وي بیا نیمه کاسه د غنمو صدقه پر لازمه ده، که د عذر په وجه یې تړلی وي ګنهګار نه دی البته صدقه به ورکوي.(۳)

## (پر کعبه شریفه د طواف کولو فضیلت)

پر بیت الله شریف هره ورځ یو سل او شل رحمتونه د الله تعالی نازلیږي شپېته (۶۰) رحمته یې د طواف کوونکي له پاره څلوېښت یې د لمونځ کوونکي له پاره او شل (۲۰) یې و بیت

(۱) بدائع الصنائع في الترتيب والشرائع: ج ۲ ص ۱۹۷.

(۲) رد المحتار: ج ۲ ص ۱۶۲.

(۳) حاشية رد المحتار: ج ۲ ص ٤٨٨/غنية الناسك: ص ٤٧/ اللباب مع شرح: ص ٣٤١/ فتاوى دار العلوم زكريا: ج ٣ ص ٤٥٣.

ketabton.com - The Digital Library



الله شریف ته د کتونکي له پاره دي او څوک چي پنځوس طوافه وکړي هغه داسي د ګناه څخه پاکیږي لکه څرنګه چي د مور څخه د پیدا کېدو په ورځ پاک وي او په طواف کي دغه یوه پښه چي پورته کړي هغه بله پښه یې لا پر ځمکه نه وي ایښې الله ﷻ د ده یوه ګناه معاف کوي یوه نیکي ورته لیکي او یوه درجه یې پورته کوي.(۱)

---

(۱) وعن ابن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ﴿ينزل الله في كل يوم على حجاج بيته الحرام عشرين و مائة رحمة، ستين للطائفين وأربعين للمصلين و عشرين ------للناظرين﴾ - رواه البيهقي: بإسناد حسن ١١٧٦٣، إرشاد الساري للقسطلاني: (ت٨٢٣) ٧٢٢/٧ إسناده حسن.

وعنه رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴿من طاف بالبيت خمسين مرة خرج من ذنوبه كيوم ولدته أمه﴾ رواه الترمذي وقال حديث غريب سالت محمداً يعني البخاري عن هذا الحديث فقال إنما يروي عن ابن عباس من قوله وعنه أيضا رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول ﴿من طاف بالبيت أسبوعا لا يضع قدما ولا يرفع أخرى إلا حط الله عنه بها خطيئة وكتب له بها حسنة ورفع له بها درجة.﴾ رواه ابن خزيمه في صحيحه وابن حبان واللفظ له: الترغيب والترهيب: ج ٢ ص ١٢٣

ketabton.com - The Digital Library



کعبې شریفي ته په ولاړې یو ساعت کتل د کال تر عبادت بهتر دی په دې شرط چې د لمونځ او طواف طاقت نه لري.(۱)

## (طواف)

طواف دې ته ویل کیږي چې پر کعبه شریفه باندي په یوه معلومه طریقه سره اووه ځله راګرځیدل وکړي.(۲)

## (دطواف ډولونه)

طواف اووه (۷) ډوله دی: (۳)

---

(۱) مناسک الملا علي قاري: ص ۳۵۳.

(۲) الطواف هو الدوران حول الكعبة على الصفة المعروفة، الموسوعة الفقهية: ج ۲۵ ص ۱۱/ غنية الناسک: ص ۱۰۹/ رد المحتار: ج ۳ ص ۷۰۵/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵٤۱ طبع (دار الاحياء).

(۳) يتنوع الطواف بحسب سبب مشروعيته إلى سبعة أنواع وهي طواف القدوم، طواف الزيارة، طواف الوداع، طواف العمرة، طواف النذر، طواف تحية المسجد الحرام، طواف التطوع، كذا عدها الحنفية الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۲۱/ لباب المناسك ص ۱۵٦/ غنية الناسك: ص ۱۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



۱- طواف قدوم ۲- طواف زیارت ۳- طواف رخصت ۴- د عمرې طواف ۵- د نذر طواف ۶- د مسجد الحرام د تحیې طواف ۷- نفلي طواف.(۱)

## (د طواف نیت او مسائل)

۱- د طواف اصلي نیت فرض دی او تعین یې مثلا (طواف زیارت، طواف رخصت) مستحب یا سنت دی.

۲- د طواف نیت به په زړه کي وکړي او په خوله به داسي توري ووایې اې الله! ﷻ زه ستا د بیتې د طواف اراده لرم ته یې راته اسانه کړې او ته یې راڅخه قبول کړې اصلي نیت هغه د زړه محکمه اراده ده د خولې توري نیت نه دی او یوازي دغه توري بې له د زړه د نیته کار نه کوي.(۲)

---

(۱) فتح القدير: ج ۳ ص ۳۸۹/ ارشاد الساري: ص ۹۷، ۹۸/ الهداية: ج ۱ ص ۲۷۳.

(۲) والمعتبر فيها عمل القلب اللازم للإرادة، الدر المختار مع الشامي: ج ۱ ص ۳۰۵.

ketabton.com - The Digital Library



۳- که یو څوک د طواف نیت ونه کړي نو همدغه طواف يې ندی معتبر.(۱)

۴- طواف تر نفلي لمونځو ثواب لري، خو تيز طواف كول او نورو خلكو ته تكليف ضرر رسول په همدغه طريقه به طواف نه كوي ځكه خلكو ته ضرر دی او خلكو ته ضرر رسول ناروا عمل دی.(۲)

۵- د طواف کولو په وخت کې د ښځو سره د بدن مښلولو څخه ځان نه ساتل دا عمل مکروه تحریمي او ناروا دی.(۳)

۶- د سعودي حکومت په طوافګاه کې بې له احرامه چا ته اجازه نه ورکوي چې طواف وکړي. نو که یو څوک د نفلي طواف لپاره احرام وتړي او طوافګاه ته داخل سي دا عمل د

---

(۱) غنية الناسک: ص ۱۱۰/ الباب المناسک: ص ۱۶۱.

(۲) شرح اللباب: ص ۱۸۷/ ارشاد الساري: ص ۵۵۸.

(۳) البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۸۷/ مسائل رفعت قاسمي: ج ۳ ص ۲۰۹ وص ۲۰۱.

ketabton.com - The Digital Library



علماوو له نظره د حکومت سره د یو ډول خیانت په معنا ګڼل کېږي.

علماء کرام فرمايي: کله چې يو څوک بل هېواد ته داخل سي، نو د هماغه هېواد له تابعينو څخه شمېرل کېږي. بناءً د هغه هېواد د قوانينو مخالفت کول شرعاً حرام دي.

نو هر طواف کوونکی ته پکار دي چې له داسې خيانت او د قانون له مخالفت څخه ځان وساتي.(۱)

## (د حجر أسود مسائل)

دا د جنت ډبره ده جبرئيل عليه السلام ابراهيم عليه السلام ته راوړې ده د کعبې شريفي د دېوال په جنوب شرقي کونج کي

---

(۱)كل من يسكن دولة فإنه يلتزم قولاً أو عملاً بأنه يتبع قوانينها الخ . بحوث في قضايا فقهية معاصرة: ص ۱۶۶.

تكملة فتح الملهم، شرح صحيح مسلم: ج ۳/ ص ۲۶۸ ـ ۲۶۹. المكتبه: دار إحياء التراث العربي (بيروت)

ketabton.com - The Digital Library



پرته ده او د مطاف د ځمکې څخه يو متراو (۱۰) سانتي لوړه پرته ده مخکې يوه تيږه وه بيا د زمانې د حوادثو په وجه ماته سوه او س اته ټوټې ده په يوه غته ډبره کې نيول سوې ده.(۱)

۱– د طواف د نيت وروسته به پر خپل راسته طرف روان سي هر کله چې حجر اسود ته برابر سي مخامخ به ودريږي او داسې به ووايي:

**بِسْمِ اللّٰهِ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ**. او د **اَللّٰهُ أَكْبَرُ** د ويلو په وخت کې به لاسونه تر غوږو پورې پورته کړي لکه په لمانځه کې او د لاسو ورغوي به حجر اسود ته مخامخ کړي او تر دغه وروسته به حجر اسود مچ کړي يا به يې مسح کړي او يا به اشاره ورته وکړي.(۲)

---

(۱) تاريخ مکة المکرمة: ص ۴۲ و معالم: ص ۴۸/ قاموس الفقه: ج ۳ ص ۲۱۰.

(۲) لباب المناسک: ص ۱۴۲/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۰/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۵۷/ الهداية: ج ۱ ص ۲۲۲/ رد المحتار: ج ۳ ص ۶۹۷،۶۹۸.

ketabton.com - The Digital Library



۲- د طواف شروع کول له حجر اسود څخه واجب دي.(۱)

۳- د طواف د نیت کولو په وخت کې چې څوک د حجر اسود برابري ته نه وي رسېدلي ډېر لیري وي په دغه وخت کې لاسونه پورته کول د څلورو سره امامانو په نزد بدعت او په اتفاق سره مکروه دي.(۲)

۴- د حجر اسود د اشارې په وخت کې حجر اسود ته مخامخ درېدل مستحب دي.(۳)

۵- د محرم له پاره د حجر اسود مچول یا مسح کول په داسې حال کې چې عطر پر پاشل سوي وي ندي روا او نه به یې مسح کوي بلکه اشاره به ورته وکړي، که یې په دغه حال کې مسح

(۱) إن الافتتاح من الحجر الاسود واجب، البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۷۴/ غنية الناسك: ص ۱۱۲.

(۲) غنية الناسك: ص ۱۱۳/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۰.

(۳) وهذا استقبال مستحب غير واجب، الهندية: ج ۱ ص ۲۲۵/ التاتار خانية: ج ۲ ص ۱۵۶.

ketabton.com - The Digital Library



کړي نو که لاس يا خولې ته ډېره خوشبويي ورسېده دم پر لازمېږي او که لږ خوشبويي وه صدقه پر لازمه ده.(۱)

۶- که د حجر اسود په مسح کولو يا مچولو خلکو ته ضرر رسيدی په دغه وخت کي به نه حجر اسود مچوي او نه به يې مسح کوي بلکي مخامخ به حجر اسود ته ودرېږي او لاسونه به پورته کړي، لکه لاسونه چي پر ايږدي او په لاسو سره به اشاره وکړي او دا به ووايي:

بِسْمِ اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ.

تر اشارې وروسته به خپل لاسونه مچ کړي.(۲)

---

(۱) المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۱۳۶/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۵/ غنية الناسک: ص ۲۴۳/ارشاد الساري ص ۱٤٥.

(۲) لباب المناسک: ص ۱۴۵ غنية الناسك: ص ۱۰۳/ ارشاد الساري: ص ۱۸۷/ الهداية: ج ۱ ص ۲۲۱.

ketabton.com - The Digital Library



۷- د طواف یو شوط له حجر اسود څخه تر حجر اسود پوري دی.(۱)

او ترکوم طواف وروسته چي د صفاء او مروا سعي نه وي لکه نفلي طواف، طواف الوداع نو په هغه طواف کښي اضطباع او رمل هم نسته مګر د حج، عمرې او قدوم په طوافو کښي دواړه سته.(۲)

## (د اضطباع مسائل)

اضطباع یعني راسته اوږه لوڅول

۱- اضطباع دې ته وايي چي د احرام پټو تر راسته اوږه لاندي وباسي او پر چپه اوږه يې واچوي او راسته اوږه لڅه پرېږدي

(۱) ثم الشوط من الحجر الاسود الى الحجر الاسود، الهندية: ج ۱ ص ۲۲۵/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۷/ التاتارخانية على هامش الهندية: ج ۱ ص ۲۹۲.

(۲) شرح اللباب: ص ۱۷۶/ غنية الناسك: ص ۱۱۸ وص ۱۱۹/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۳٤.

ketabton.com - The Digital Library



چې د طواف په ټولو شوطونو کښې تر سره کیږي مګر د لمانځه کولو په وخت کښې باید اوږه پټه سي.(۱)

۲- اضطباع په هغه طواف کې سنت ده چې تر هغه طواف وروسته د صفا او مروا سعي یعني تګ او راتګ کیږي لکه د عمرې طواف، طواف قدوم او طواف زیارت چې تر سر خرپیلو مخکې طواف کوي او وروسته بیا سعي کوي.(۲)

۳- د طواف په ټولو شوطونو کې اضطباع یعني د راسته اوږې لڅول سنت دي.(۳)

۴- مستحب دا ده چې د طواف تر شروع کولو لږ مخکې اوږه لڅه کړي.(۴)

(١) الموسوعة الفقهية: ج ٥ ص ١٠٩/ البدائع: ج ٢ ص ٣٤٢/ الهندية: ج ١ ص ٢٢٥.

(٢) غنية الناسك: ص ١١٨/ الموسوعة الفقهية:ة: ج ٢٩ ص ١٣٤.

(٣) لباب المناسک: ص ١٧٦/ الشامي: ج ٢ ص ١٨١.

(٤) فتح القدير: ج ٢ ص ٣٥٥ وص ٣٥٩/ غنية الناسك: ص ١١٨.

ketabton.com - The Digital Library



۵- هر کله چې د طواف څخه فارغه سوه نو اضطباع «راسته اوږه لوڅول به ختم کړي» او اوږه به پټه کړي د طواف دوه رکعته لمونځ په لڅه اوږه باندي مکروه دی.(۱)

## (د رمل مسائل)

۱- رمل دې ته وايي چي سړی چابک - چابک روان وي اوږې ښوروي لکه هغه جنګي پهلوان چي د دوو صفو په منځ کي په پهلواني سره ګرځي.(۲)

۲- رمل د نارینه له پاره د طواف په اولو درو شوطونو کښي قدمونه نژدې نژدې اخيستلو او د اوږو ښورولو ته رمل ویل کیږي په پاته شوطونو کښي رمل نسته.

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۳۴/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۱/ شرح اللباب: ص ۱۴۳.

(۲) الهندية: ج ۱ ص ۲۲۶/ التاتار خانية: ج ۲ ص ۱۵۶/ رد المحتار: ج ۳ ص ۷۰۵.

ketabton.com - The Digital Library



۳- اوږې ښورول چې رمل يې بولي په هر هغه طواف کې سته او سنت دي چې تر هغه وروسته د صفا او مروا سعې وي.(۱)

۴- رمل د طواف په اولو درو شوطو کې سنت دی په پاته څلورو شوطو کې به رمل يعني اوږې ښورول نه کوي.(۲)

۵- که محرم د طواف په ټولو شوطونو کې رمل وکړي شی نه پر لازميږي خو دغه فعل يې د سنت خلاف دی.(۳)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۳۴/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۳/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵٤۱/ رد المحتار: ج ۳ ص ۷۰۵.

(۲) المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۱۳/ البدائع: ج ۲ ص ۳۴۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۳۵.

(۳) البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۷۸/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۳/ غنية الناسك: ص ۱۰۴.

ketabton.com - The Digital Library



۶- په کوم طواف کي چي رمل يعني اوږې ښورول او اضطباع يعني راسته اوږه لڅول بې له عذره که هر يو پاته سي پرېښول يې مکروه دي ځکه سنت پاته سو خو طواف يې صحيح دی.(۱)

۷- د طواف په دوران کي چي ګڼه ګونه وي په دې وجه دي رمل نه پرېږدي چي کله لاره خلاصه سوه بيا دي په ارام تګ سره رمل شروع کړي.(۲)

۸- او هغه طواف چي په کالو کي وي بلکل رمل او اوږې ښورول او چابک چابک تګ نسته نو بايد د ځانه شی راونه باسي او

---

(۱) شرح اللباب: ص ۱۸۱.

(۲) الهداية: ج ۱ ص ۲۲۳.

ketabton.com - The Digital Library



که محرم مریض وي او ډېر ضعیف وي یا سپین ږری وي بېله رمل څخه دي طواف وکړي.(۱)

## (د حطیم شریف مسائل)

۱- حطیم شریف د کعبې شریفي په شمالي خوا کي دی د کعبې شریفي دننه حصه په حطیم شریف کي (۳) متره ده او په حطیم شریف کي د کعبې شریفي پر بام باندي د اوبو ناوه د (میزاب) رحمت ده.

که طواف کوونکی په حطیم شریف کي دننه تېر سي دغه طواف راګرځول غواړي افضله طریقه دا ده چي ټول طواف را وګرځوي.(۲)

---

(۱) لباب المناسک: ص ۱۴۸/ غنیة الناسك: ص ۱۰۴/ معلم الحجاج: ص ۱۴۰.

(۲) ولو طاف في داخل الحجر فعليه أن يعيد والافضل أن يعيد الطواف كله، البدائع: ج ۲ ص ۳۱۴/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۲۹/ المنجد في :اللغة ص ۱٤۰.

ketabton.com - The Digital Library



۲- كه څوک د عمرې په طواف يا د حج يعني طواف زيارت كي په حطيم شريف كي دننه تېر سي دغه طواف به بيرته راوګرځوي كه يې نه راوګرځوي دم پر لازميږي.(۱)

۳- كه په طواف صدر، طواف قدوم يا نفلي طواف كي په حطيم شريف كي تېر سي د هر شوط په بدله كي چي په حطيم كي تېر سوی وي نيمه كاسه د غنمو صدقه لازمه ده.(۲)

۴- ركن يماني: د بيت الله شريفي جنوب غرب كونج چي د يمن په لوري واقع دی د ركن يماني مسح كول په هر شوط كي مستحب دي په دواړو لاسو به ركن يماني مسح كړي يا به يې په راسته لاس سره مسح كړي، په چپه لاس به يې نه مسح كوي

(۱) المبسوط :للسرخسي: ج ۴ ص ۲/ غنية الناسك: ص ۱۱۴/ الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۴۶۰.

(۲) وكل صدقة تجب في الطواف فهي لكل شوط نصف صاع، غنية الناسك: ص ۲۴۰/ لباب المناسک: ص ۴۴۰/ الشامي: ج ۲ ص ۲۲۷.

ketabton.com - The Digital Library



او رکن یماني به نه مچوي او نه به سجده پر کوي، که يې مسح کولای نه سوای په لاسو به اشاره نه ورته کوي.(۱)

۵- رکن عراقي د بیت الله شریف شمال کونج کوم چي د عراق په لوري واقع دی او رکن شام د بیت الله شریف شمال غرب کونج د شام په لوري واقع دی.(۲)

۶- په طواف کي د قرآن کریم تر تلاوت ذکر کول افضل دي او کرار ويل مستحب دي.(۳)

په طواف کي دغه ذکر افضل دی:

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ج ۲ ص ۱۸۴/ لباب المناسک: ص ۱۵۱/ قاموس الفقه: ج ۳ ص ٤٩٤/ رد المحتار: ج ۳ ص ۷۰۷.

(۲) معلم الحجاج. ص ٦٥.

(۳) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۹۰/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۳۹.

ketabton.com - The Digital Library



**سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.(۱)**

۷- د طواف په منځ کي د دعاء له پاره درېدل او دعاء کول مکروه دي او په طواف کي چي دعاء کوي لاسونه به نه پورته کوي.(۲)

۸- په طواف کي د لمانځه په ډول لاسونه ایښول مکروه دي لاسونه به په طواف کي ایله نیسي.(۳)

---

(۱) محيت عنه عشر سيئات و كتبت له عشر و رفع بها له عشر درجات، فتح القدير: ج ۲ ص ۳۵۶/ شرح النقاية: ج ۲ ص ۲۴۵/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۴۱.

(۲) إنه صلى الله عليه وسلم دعا في الطواف ولم يرفع يديه، منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۵۷۲/ شرح اللباب: ص ۱۵۰/ غنية الناسک ص ۱۲۶.

(۳) أما وضع اليدين كما في الصلاة فمكروه، إعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۴۲/ غنية الناسک: ص ۱۲۲.

ketabton.com - The Digital Library



۹- په طواف کې کعبې شریفې ته مخامخ کېدل حرام دي.(۱)

۱۰- طواف کول دوه وخته مکروه تحریمي دي، اول د فرضي لمانځه د جماعت په وخت کې او دوهم چې امام د جمعې خطبه وایي، دا دوه وخته طواف کول د څلورو مذهبو په نزد مکروه تحریمي دي.(۲)

۱۱- طواف کوونکی چې د فرضي لمانځه یا د جنازې د لمانځه د درېدلو په وخت کې د طواف څخه ووځي نو وروسته دغه طواف د سره راګرځېدل نه غواړي هغه پاته دي پوره کړي.(۳)

---

(۱) وأما محرماته فابتداء الطواف من غير الحجر ولو من الركنين واداء شئ من الطواف مع استقبال البيت، معلم الحجاج: ص ۱۲۶/ رد المحتار: ج ۳ ص ۶۹۹/ غنية الناسك: ص ۱۳۶.

(۲) غنية الناسك: ص ۱۲۷/ شرح اللباب: ص ۱۸۳.

(۳) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۹/ المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۵۴.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲- د طواف په منځ کې د ضروري کار له پاره وتل روا دي پروا نه کوي.(۱)

۱۳- او د طواف د منځ څخه بې له ضرورته وتل مکروه کار دی خو طواف نه فاسدوي.(۲)

۱۴- په طواف کې د ديني مسئلې پوښتنه کول يا بل چا ته وربښودل دواړه روا دي.(۳)

۱۵- که څوک په مرداره جامه باندې طواف وکړي شی نه پر لازمېږي خو مکروه کار دی ځکه سنت پاته سو چې هغه د جامې پاکوالی دی.(۴)

---

(۱) شرح اللباب: ص ۱۸۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۴۰.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۸۳/ غنية الناسك: ص ۱۲۶/ اللباب: ص ۱۸۳.

(۳) غنية الناسك: ص ۱۲۵/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۴۰.

(٤) الشامي: ج ۲ ص ۱٦۲/ اللباب مع الشرح: ص ۳۹۲.

ketabton.com - The Digital Library



۱۶- په داسي حال کي طواف کول چي پاکي موزي یا چپلکي یې په پښو وي روا دي خو بې له عذره په چپلکو کي طواف کول بې ادبي ده.(۱)

۱۷- نفلي طواف په شروع سره لازمیږي که یې یو وار په نفلي طواف شروع وکړه نو بیا پوره کول پر لازم دي.(۲)

۱۸- که د طواف په منځ کي بې اودسه سي ولاړ دي سي اودس دي تازه کړي او د طواف پاته شوطونه دي پوره کړي د ټول طواف راګرځول ورباندي نسته.(۳)

۱۹- که څوک پر پښو د عمرې طواف ونه کړي په سپرتیا سره یې وکړي لکه پر بایسکل یا بل شي طواف وکړي که یې په پښو طواف کولای سوای خو بیا یې هم پر بایسکل یا بل شي

---

(۱) یجوز الصلاة مع الخفین والنعلین إذا کانا طاهرین فالطواف أولی، المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۵۵/ البدائع: ج ۲ ص ۳۱۳/ غنیة الناسک: ص ۱۲۷.

(۲) غنیة الناسك: ص ۱۰۸/ الشامي: ج ۲ ص ۲۲۲/ الموسوعة الفقهیة: ج ۲۹ ص ۱۲۳.

(۳) الموسوعة الفقهیة: ج ۲۹ ص ۱۳۱/ فتح القدیر: ج ۲ ص ۳۸۹/ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۵۴.

ketabton.com - The Digital Library



وکړی، نو بیرته بەدا طواف راګرځوي کەیې نەراوګرځوي دم پر لازم دی او کەیې پەپښو طواف نسوای کولای هغه کە پە سپرتیا سره طواف وکړي شی نەپر لازمیږي.(۱)

۲۰- ځني خلک د طواف په وخت کي د کتاب له مخي څخه دعاء وايي او د خلکو ګڼه ګوڼه وي چي دغسي عمل کول د خلګو د ازار سبب جوړیږي او خلکو تەضرر رسیږي او خلګو تەضرر رسول ناروا عمل دی، ځني خلک پەطواف کي پەزوره زوره سره دعاګاني کوي او بیا یې نور حاجیان پەلوړآواز سره تکراروي د خلګو له پاره د تکلیف باعث ګرځي، دهغوی خشوع او حضور خرابوي له دې څخه هم اجتناب پکار دی.(۲)

---

(۱) فلو طاف الزيارة أو العمرة راكبا أو محمولا أو زحفا بلا عذر فعليه الاعادة أو الدم، وإن بعذر فلا شي عليه، غنية الناسک: ص ۱۱۴.

(۲) إرشاد الساري: ص ۱۸۱ وص ۱۸۳/ مسائل رفعت قاسمی: ج ۳ ص ۱۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



## (د ملتزم شریف بیان)

۱- ملتزم شریف د کعبې شریفي د دروازې او د حجر اسود په منځ کي تقریباً دوه (۲) متره دی.(۱)

۲- ښه لاره د اده چي د طواف وروسته ملتزم شریف ته راسي، د طواف لمونځ دي وکړي بیا دي د زمزم اوبه وڅښي.(۲)

۳- د طواف د شروع کېدو تر مخه ملتزم شریف ته ورتلل بدعت دی.(۳)

۴- کله چي ملتزم شریف ته راسي نو لاسونه او خپله سینه دي د کعبي شریفي په ملتزم پوري وموښلوي او د کعبې شریفي د دروازي پر چوکاټ دي لاسونه ونیسي او دعاء دي وکړي دا د

---

(۱) تاریخ مکة: ص ٤٦/ قاموس الفقه: ج ٥ ص ١٣٩.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۸٥/ شرح اللباب: ص ١٥٤/ الموسوعة الفقهية: ج ٣٩ ص ٧٧.
ویستحب أن یاتي زمزم بعد الرکعتین ثم یاتي الملتزم قبل الخروج إلی الصفاء

(۳) شرح اللباب: ص ۱۸۷/ مجامع المناسک: ص ۱۹۹.

ketabton.com - The Digital Library



دعاء د قبولیت خاص مقام دی چي نبي کریم ﷺ همداسي کړي وه او دعاء کول سنت ده.(۱)

## (د طواف د دوه رکعته لمانځه مسائل)

۱- د طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کول زموږ په مذهب کښي واجب دي.(۲)

۲- د طواف دغه دوه رکعته لمونځ تر هر طواف وروسته واجب دي که نفلي وي، واجب، مستحب، سنت او یا فرض طواف وي.(۳)

---

(۱) رد المحتار: ج ۳ ص ۷۵۲ (القاهره)/ ارشاد الساري: ص ٥٤٨/ مراقي الفلاح: ص ٦٠٢.

الانصاري الهندية: ج ۱ ص ۲٥۹.

(۲) ورکعتا الطواف واجب عندنا، البدائع: ج ۲ ص ۳٤۳/ التاتار خانية: ج ۲ ص ۲٥۸/

المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ۱٥.

(۳) لباب المناسک: ص ۱۷۱/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۴.

ketabton.com - The Digital Library



۳- د طواف دوه رکعته لمونځ که مکروه وخت نه وي نو سنت دا دی چې د طواف وروسته يې وکړي او که مکروه وخت وي بيا يې د مکروه وخت تر ختمېدو پوري ځنډول واجب دي.(۱)

۴- د طواف دوه رکعته لمونځ په دغه وختو کې مکروه دی:

(اول) د سپيدو راختلو وروسته بيا د لمر تر يوه نيزه راختلو پوري.

(دوهم) چې لمر پر سر ودرېږي.

(دريم) د مازديگر د لمانځه وروسته د ماښام د لمانځه ترکولو پوري.

(څلورم) د خطبې په وخت کې هره خطبه چې وي.

(پنځم) چې امام په فرضي لمانځه شروع وکړي.(۲)

(۱) إعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۳۸/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۴/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۳۲.

(۲) لباب المناسك مع الشرح: ص ۱۷٤/ غنية الناسك: ص ۱۱۷.

ketabton.com - The Digital Library



۵- د طواف دوه رکعته لمونځ به په مکروه وخت کې نه کوي بلکې انتظار به کوي تر هغه وخته پورې چې مکروه وخت ختم سي.(۱)

۶- که چا د طواف دوه رکعته لمونځ په مکروه وخت کې وکړه نو دا نه دي روا بېرته دوهم وار راګرځول يې ضروري دي.(۲)

۷- د هر طواف دوه رکعتونه واجب به جلا جلا د هر يوه طواف له پاره کوي د سهار تر لمر ختو وروسته او وروسته تر فرضو د ماښام د سنتو تر مخه به يې اداء کوي.

۸- د طواف دوه رکعته لمونځ کول اول د مقام ابراهيم شا ته مستحب دي او که د مقام ابراهيم سره بل چا ته د دغه لمانځه په کولو سره تکليف رسيدی نو بيا دغه لمونځ په دغه ځای کې فضيلت نه لري تر دغه وروسته په کعبه شريفه کې دننه فضيلت لري بيا په حطيم شريف کې تر ميزاب رحمت

(۱) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۹/ الشامي: ج ۲ ص ۱۷۹.

(۲) غنية الناسك: ص ۱۱۷/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸٤.

ketabton.com - The Digital Library



(ترناوي) لاندي، بيا په تهوله حرم کي او تر دغه وروسته د حرم ځخه دباندي فضيلت نه لري مکروه دی.(۱)

۹- که يو څوک د طواف دوه رکعته لمونځ ونه کړي دم نه پر لازميږي ځکه هر وخت او هر ځای دغه لمونځ کيږي خو د حرم د حدودو دباندي دغه لمونځ کول مکروه دي.(۲)

۱۰- دطواف د ختميدلو وروسته به په لمانځه کي اوږه پټوي، اوږه لڅول يوازي په طواف کي وي، ځکه په لڅه اوږه سره لمونځ کول مکروه دی.(۳)

---

(۱) وإن لم يقدر على الصلاة بالمقام بسبب الزحمة يصلي حيث تيسر له من المسجد الحرام، التتار خانية: ج ۲ ص ۱۵۸/ المحيط البرهاني: ج ۳ ص ۱۸/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۶ ، و يستحب مؤكدا أداءها خلف المقام ثم في الكعبة في الحجر تحت الميزاب ثم الخ، منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۵۸۰/الشامي: ج ۲ ص ۱۸۵.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۸۵/ لباب المناسك مع الشرح ص ۱۷۱.

(۳) رد المحتار: ج ۳ ص ۷۰۰/ الموسوعة الفقهية: ج ۵ ص ۱۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مقام ابراهيم بيان)

مقام ابراهيم د جنت ډبره ده جبرئيل عليه السلام ابراهيم عليه السلام ته راوړې وه د کعبې شريفي په جوړېدو کي به ابرهيم عليه السلام پر درېدی دغه ډبره د کعبې شريفي د شرق په خوا کي د حجر الاسود څخه ۵۰:۱۴ څوارلس نيم متره ليري په هغه ژړه قبه کي پرته ده او د ابراهيم عليه السلام د پښو پلونه مبارکان په کښې سته!(۱)

مقام ابراهيم مچول او مسح کول بدعت دی نه به يې مچوي او نه به يې مسح کوي.(۲)

---

(۱) تاريخ و معالم ص ۶۰/ قاموس الفقه: ج ٤ ص ۱۰۱/ مسائل رفعت قاسمي: ج ۳ ص ١٦٨.

(۲) ولا يقبل مقام إبراهيم ولا يستلم فإنه بدعة، غنية الناسك ص ۱۲۷/ زبدة المناسک ص ۱۳۵.

ketabton.com - The Digital Library



## (د زمزم د اوبو بیان)

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي د ځمکي پر مخ ښه او بهترینې اوبه د زمزم اوبه دي.

د طواف څخه وروسته دي د زم زم اوبه وڅښي څونه چي چښلای سي و دې چښي او پر سر دې هم توی کړي.

ابراهیم علیه السلام د الله جل جلاله په حکم د شام څخه خپله ښځه بي بي هاجره رضي الله عنها او د هغې خپل شیدو خوړونکی ماشوم زوی اسماعیل علیه السلام مکې مکرمې ته راوستل د کعبې د ځای سره یې پرېښول او ځني ولاړی او د هاجري رضي الله عنها سره اوبه خلاصي سوې پر خپل ماشوم وبېرېدله صفا ته پورته سوه چي ګوندي یو څوک ووینې خو څوک یې ونه لیده د صفا څخه راکښته سوه د مروا پر خوا په

ketabton.com - The Digital Library



شپله کي په ځغاسته سوه بيا مروا ته پورته سوه اووه ځلي يې همداسي تګ او راتګ وکړی پر اووم شوط چي مروا ته پورته سوه بږغ يې واورېدی نو سمدستي يې خپل ماشوم اسماعيل عليه السلام ته ورغله دا بږغ د جبرئيل عليه السلام وو جبرئيل عليه السلام د زم زم ځای په وزر يا پونده ووا هه هلته د زم زم چينه په دغه مقدسه ځمکه کي راوبهېده دا هغه د ابراهيم عليه السلام معجزه ده چي نن يې ټول عالم مسلمانان په سترګوويني او د رسول الله ﷺ زړه مبارک په پرېمنځل سوی دی او د رسول الله ﷺ نارې مبارکي په ګډي سوي دي او دغه اوبو ته کتل د سترګو نظر تېزوي او په دغه اوبو کي د خوراک په شان مورتيا او د هر مرض شفاء سته لکه ابو ذرغفاري رضي

ketabton.com - The Digital Library



الله عنه چي په مکه مکرمه کي يوه مياشت تېره کړه يوازي يې د زم زم اوبه چښلي هم په مړېدی او هم په اوبه کېدی، په بل حديث شريف کي راغلي دي چي څوک دغه اوبه په هر نيت باندي وچښي د انسان هغه مقصد او حاجت پوره کيږي د زم زم د اوبو چښل مخ پر قبله ښه دي او د زم زم د اوبو چښل په ولاړي باندي روا دي او د زم زم اوبه د ځان سره وړل مسنونه طريقه ده که پر مريضانو باندي وا چول سي نو مستحب دی الله ﷻ به شفاء ورکړي.(۱)

دېر چښل يې د ايمان علامه ده هم د نفاق څخه د خلاصون علامه ده او د چښلو څخه وروسته پر سر او مخ باندی تويول

(۱) فقد روي الترمذي عن عائشة رضي الله عنها ويستحب حمله إلى البلاد الشامي: ج ۲ ص ۲۷۸ الموسوعة الفقهية: ج ۲٤ ص ۱۱۵ غنية الناسک ص ۱٤۱.

ketabton.com - The Digital Library



سنت کار دی د زم زم اوبه په راسته لاس په بسم الله ویلو سره او په درې ساه باندې ډېرې اوبه وچښي، د دنیا او د آخرت د جائز مقصدونو په نیت به یې وچښي، د اوبو چښل په راسته لاس سنت دي ځکه چې شیطانان یې په چپه لاس چښي.(۱)

د زم زم په اوبو د بې اودسه اودس کول بې له کراهته جائز دی او د بدن یا جامې نجاست په پرېولل مکروه دی.(۲)

د تبرک له پاره د هغه کفن استعمال چې په زم زم اوبو باندې پرېولل شوی وي یا لوند شوی وي روا دي او دا امید سته چې د دغه کفن په وجه دي الله تعالی د خپل عذاب څخه نجات ورکړي.(۳)

---

(۱) مسلم شریف: ج ۲ ص ۱۷۲ وص ۱۷۳.

(۲) الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۳۵۷/ غنية الناسك ص ۱۴۰/ الشامي: ج ۲ ص ۱۳۲.

(۳) فتاوى رحيمية: ج ۷ ص ۶۰/ فتاوى حقانية: ج ۳ ص ۴۶۳/ فتاوى محمودية: ج ۸ ص ۵۲۰.

ketabton.com - The Digital Library



د زم زم څاه د کعبې شريفې په شرق خوا کې د حجر اسود څخه ۲۰ شل متره او ۶۰ شپېته سانتی لېرې پروت دی ۳۵.۵۰ پنځه دېرش نيم متره ژوروالی لري، د زم زم د اوبو څښلو په وخت کې به دعاوې ډېرې کوي.

په آخر کې به الحمد لله ووايي.(۱)

---

(۱) وهو خير ماء على وجه الارض و ظهر بواسطة جبرئيل عليه السلام و نبع في أقدس بقعة على وجه الأرض وغسل به قلب المصطفى صلى الله عليه وسلم وأكثر من مرة وبارك فيه بريقه الشريف وهو طعام طعم وشفاء من كل داء، قال رسول ﷺ: ﴿خير ماء على وجه الأرض ماء زم زم فيه طعام من الطعم وشفاء من السقم أى إن اشرب مائها يغني عن الطعام ويشفي من السقام لكن مع الصدق﴾ كما وقع لأبي ذر الغفاري- - رضي الله عنه، الشامي: ج ١ ص ٩٦/ فتح القدير: ج ٢ ص ٤٠٠/ إعلاء السنن: ج ٧ ص ٣٢١٩/ الاختيار: ج ١ ص ١٠٠ وص ١٤١/ الموسوعة الفقهية: ج ٢٤ ص ١٦/ فتاوى النابلسي: ج ١ ص ١٥٤/ تاريخ المكة المكرمة ص ٧٨ المكرمة تاريخ ومعالم ص ٦٥ غنية الناسك ص ١٤٠.

ketabton.com - The Digital Library



## (د صفا او مروا د سعي بيان او مسائل)

سعي دې ته ويل کيږي چې اووه واره د صفا او مروا په منځ کې تګ راتګ وکړې چې څلور واره د صفا او درې واره د مروا له خوا کيږي، د صفا او مروا سعي زموږ په مذهب واجب ده.(۱)

۱- سعي بايد د طواف څخه وروسته اداء سي د عمرې سعي د عمرې تر طواف وروسته اداء کيږي.

۲- د صفا او مروا په منځ کې د سعي د ځمکي اوږدوالی (۳۹۵) متره دی او برېې (۴۰) متره دی.(۲)

۳- څوک چې سعي شروع کوي نو لومړی دې د طواف په شان د حجر اسود استلام وکړې بيا دې د صفا و خوا ته ولاړ سي، د سعي نيت د زړه قصد او ارادې ته وايي او په ژبه سره يې ويلو

---

(۱) والسعي في الاصطلاح قطع المسافة الكائنة بين الصفا والمروة سبع مرات ذهابا و إيابا بعد طواف في نسك حج أو عمرة، الموسوعة الفقهية: ج ۲۵ ص ۱۱/ ثم السعي بين الصفا والمروة واجب عندنا وليس بركن/ إرشاد الساري ص ۷۵/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۸۲/ الهندية ج ۱ ص ۲۲۶.

(۲) مكة المكرمة تاريخ ومعالم ص ٦٦.

ketabton.com - The Digital Library



ته اړتيا نه سته په ژبه ويل يې مستحب دي، په سعي كې سنت دا دى چې تر طواف وروسته ژر وسي. د عذر او ستړيا له وجهي يې ځنډول پروا نه لري.(١)

كله چې صفا ته ورنژدې سي نو مستحب دا دى چې بايد دغه لاندې كلمات وويل سي:

«أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ تَعَالَى بِهِ»

ژباړه: د هغه ځاى څخه سعي شروع كوم د كوم ځاى څخه چې څښتن تعالى په آيت كې د هغه په نامه لومړى پيل كړى دى.

ورپسې به د قرآن كريم دغه آيت تلاوت كړي:

﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللّٰهِ﴾(٢)

---

(١) ولو طويلا لا شيء عليه والسنة الاتصال به/ الشامي: ج ٢ ص ١٨٥/ غنية الناسك ص ١٢٨.

(٢) (سورة البقرة: ١٥٨)/ تبيين الحقائق: ج ٢ ص ٢٧٩/ معلم الحجاج ص ١٣٣.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: بيشكه صفا او مروا د الله تعالى له شعايرو (نښانو) څخه دي.

صفا ته تر داسي اندازي به لوړ پورته كيږي چي كعبه شريفه ليدل كيږي، پر صفا او مروا د لوړ پورته كېدو وروسته كعبي شريفي ته مخامخ درېدل سنت عمل دى واجب نه دى او كه څوك پورته نه سي مكروه كار دى البته كوم شى نه پر لازميږي.(١)

4- كله چي كعبه شريفه په نظر ورغله مخامخ دي بيت الله شريفي ته ودريږي لاسونه به داسي تر اوږو پوري پورته كړي چي ورغوي يې د آسمان خواته وي لكه په دعاء كي، بيا به د الله تعالى حمد او ثناء ووايي او درې ځله به په لوړ آواز تكبير

---

(١) ومن سنته الاستقبال/ شرح اللباب ص ١٨٩/ غنية الناسك ص ١٣٥/ ولو ترك الصعود على الصفا والمروة ولاشيء عليه لأن الصعود عليهما سنة فيكره تركه البدائع: ج ٢ ص ٢١٨/ فتح القدير: ج ٢ ص ٣٦١.

ketabton.com - The Digital Library



«اَللّٰهُ أَكْبَرُ» ووايي او «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ» به هم په لوړ آواز ووايي او پر رسول الله ﷺ باندې به په کښته آواز درود شريف ووايي بيا به په ډېر عجز او خشوع سره د ځان، نورو دعاء غوښتونکو، خپل هيواد او د ټولو مسلمانانو له مصيبتونو څخه د خلاصون او نيکمرغۍ له پاره دعاء وغواړي. رسول الله ﷺ چې به کله د صفا ته پورته سو دغه مبارکې کلمې به يې درې ځله په لوړ آواز ويلې: اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ او بيا به يې دغه کلمات ويل:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ(١)

٥- ځيني خلک چې پر صفا باندې پورته سي قبلې ته مخامخ ودرېږي او لاسونه تر غوږو او اوږو پورې درې ځله پورته

---

(١) البدائع: ج ٢ ص ٣٤٤/ إعلاء السنن: ج ٧ ص/ المبسوط للسرخسي: ج ص ١٥/ إرشاد الساري ص ١٩٠.

ketabton.com - The Digital Library



كوي د هر وار سره تكبير وايي دغه عمل د سنت خلاف دی داسي عمل بايد ونه سي.(١)

د دعاء څخه وروسته به په عادي تګ سره په ډېر احتياط د مروا و خوا ته لومړی شوط شروع کړي او د صفا او مروا تر منځ هر ډول ذکر او دعاء کېدلای سي، هر ډول دعاء چي يې زده وي او زړه يې غواړي او په هره ژبه چي وي، نارينه د صفا او مروا په سعي کي د لومړي زرغونو ګروپانو څخه تر زرغونو ګروپانو پوري به په نيمه ځغاسته يا ميانه ځغستلو سره وځغلي کله چي تر دوهم زرغونو ګروپانو تېر سو بيا به په خپل عادي تګ سره روان سي.(٢)

---

(١) كما يفعل بعض الجهلة رفع أيديهم إلى آذانهم وأكتافهم ثلاثا كل مرة مع تكبيرة فإنه خلاف السنة/ غنية الناسك: ص ١٢٩/ شرح اللباب ص ١٨٩.

(٢) ويستحب أن يكون السعي بين الميلين فوق الرمل دون العدو. الشامي: ج ٢ ص ١٨٦ شرح اللباب ص ١٩٠/ غنية الناسك ص ١٣٠ معلم الحجاج ص ١٥٠ .

ketabton.com - The Digital Library



دغه تیز تګ د سعي په ټولو شوطونو کي سنت دی.(۱)

۶- د صفا او مروا تر منځ په سعي کي مخکي دوه زرغونه ځلي میلین اخضرین وه چي اوس دیوالونو پر ځای په چت کي لوړ زرغونه ګروپان لګیږي.

۷- او ښځي به د زرغونه ګروپانو تر منځ عادي تګ کوي نه به ځغلي په حیاء کي به وي.(۲)

۸- که یو سړی د دغه زرغونو ګروپانو په منځ کي ونه ځغلي او یا د صفا څخه تر مروا پوري وځغلي د سنت خلاف دی خو کوم شی نه پر لازمیږي.(۳)

---

(۱) وهو أي السعي بين الميلين سنة في كل شوط أي من أشواط السعي، اللباب مع شرح: ص ۱۹۲/الشامي: ج ۲ ص ۱۸٦.

(۲) الهداية: ج ۱ ص ۲۳٦/ مختصر الوقاية: ج ۱ ص ۳۱۳/ مراقي الفلاح: ص ٦۰٤.

(۳) ولو ترك السعي بين الميلين أو هرول في جميع السعي فقد أساء ولاشيء عليه، اللباب مع الشرح: ص ۱۹۲/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۶.

ketabton.com - The Digital Library



۹- د صفا څخه چې ولاړ سي و مروا ته مروا ته به هم د صفا پر طریقه پورته کیږي او هغه څه به وایي چې پر صفا یې ویل او قبلې ته به مخامخ ودریږي که څه هم کعبه شریفه نه معلومیږي.(۱)

۱۰- او ښځې دي د خلکو د هجوم په وخت کي پر صفا او مروا لوړ نه خیږي او د هغه زرغونو میلانو په منځ کي تیز تګ هم نه دی ورته روا.(۲)

۱۱- سعي د صفا او مروا تر منځ په لوړو منزلو کي هم صحیح کیږي ځکه سعي د صفا او مروا د غونډیو تر منځ تګ او راتګ ته ویل کیږي که رش ډیر زیات وي پر ځمکه باندي د

---

(۱) ویفعل ما یفعل علی الصفا/ الهندیة: ج ۱ ص ۲۲۶/ الهدایة مع الفتح: ج ۲ ص ۳۶۱.

(۲) الفقه الحنفي في ثوب الجدید: ج ۱ ص ٤٧٢/ التاتارخانیة : ج ۲ ص ۱۷۲/ غنیة الناسك ص ٩٤.

ketabton.com - The Digital Library



صفا او مروا په سعي کي تکليف وي نو د ضرورت په وجه علمای کرامو د دغه سعي د جواز حکم ورکړی دی او که ضرورت نه وي نو بيا به خامخا سعي پر ځمکه کوي.(۱)

۱۲- د سعي شروع د صفا څخه واجب ده او پر مروا باندي ختميږي. د صفا او مروه په مابين کي ترتيب واجب دی.(۲)

۱۳- که د مروا څخه شروع وسي نو دغه شوط اعتبار نه لري دا واجب ده چي دغه شوط به تر هغه نورو شپږو شوطونو وروسته راګرځوي او که يې دغه شوط نه راوګرځوی نو دم پر لازميږي.(۳)

(۱) صدرت هيئة كبار العلماء فتوى بجواز السعي عند الحاجة فوق السقف، الشيخ ابن المنيع: ج ۳ ص ابحاث هيئة كبار العلماء: ج ۱ ص ۱۵/ مجلة البحوث الإسلامية: ج ۱ ص ۱۷۹.

(۲) وتبداء بالصفا وتختم بالمروة/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۸۴./ الفقه الإسلامي ج ۳ ص ۱۷۱.

(۳) فيجب أن يعيده بعد سنة من الصفا فلو لم يعد فعليه دم لترك واجب البداة بالصفا/ غنية الناسك: ص ۱۳۲/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۵۱./ زيلعي ج ۲ ص ۲۸۳.

ketabton.com - The Digital Library



۱۴- د صفا څخه تر مروا پورې او بيا بيرته د مروا څخه تر صفا پورې دا هريو جلا - جلا شوط دی.(۱)

۱۵- که د صفا او مروا سعي په حج يا عمره کې بې له عذره پاته سي دم پر واجب دی.(۲)

۱۶- که د سعي څلور يا ډېر شوطونه بې له عذره پاته سي دم لازم دی او که تر څلور لږ شوطونه پاته سي بيا د هر شوط له پاره نيمه کاسه د غنمو صدقه لازمه ده.(۳)

---

(۱) والسعي من الصفا إلى المروة شوط ومن المروة إلى الصفا شوط، وهو المختار/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۷/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۶۲.

(۲) وإن ترك السعي فيما بين الصفا والمروة رأسا في حج وعمرة فعليه دم عندنا/ المبسوط للسرخس: ج ۴ ص ۵۸ غنية الناسك: ص ۲۷۷/ الهندية: ج ۱ ص ۲۴۷.

(۳) لكل شوط مسكينا نصف صاع من بر أو قيمته/ فتح القدير: ج ۲ ص ۴۶۷/ اللباب ص ۳۹۳.

ketabton.com - The Digital Library



۱۷- که د حج سعي د اختر تر ورځو وځنډول سي نو مکروه کار دی البته کوم شی نه پر لازمیږي.(۱)

۱۸- د حج سعي د قارن له پاره تر طواف قدوم یا نفلي طواف وروسته تر طواف زیارت مخکي افضله ده او د تمتع او افراد کوونکي له پاره تر طواف زیارت وروسته ښه ده.(۲)

یادونه: د نیمي کاسې د غنمو اندازه یو کېلو او یو سل دوشپیته ګرامه (۱کیلو، ۱۶۲ګرامه) کیږي.(۳)

---

(۱) ولو أخر السعي عن أيام النحر ولو شهورا لا شيء عليه ويكره، غنية الناسك: ص ۲۷۸/ اللباب: ص ۳۹۳.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۸۵ اللباب: ص ۲۰۷/ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۵۸۳.

(۳) مقدار الصاع عند الحنفية الصاع= ۸ أرطال عراقية، الرطل العراقي: ۱۳۰ درهما فيكون الصاع ۱۰۴۰ در هما.

الدرهم= ۱۴ قيراط، والقيراط= خمس حبات شعير.

الدرهم= ۱۴ قيراط × ۵ حبات شعير= ۷۰ حبة شعير وتزن بالجرامات= ۲۳،۲ جراما تقريباً.

الصاع= ۲۳۰۲ جرام × ۱۰۴۰ درهم= ۲۳۲۵ جرام (۳۰۲ كجم تقريباً).

ketabton.com - The Digital Library



۱۹- که د عذر له کبله د صفا او مروا سعي ټوله یا یو څه پاته سي شي نه پر لازمیږي.(۱)

۲۰- که څوک بې له عذره ټوله سعي پر سپرلۍ یا د بل شي پر شا وکړي بېرته راګرځول غواړي که یې نه راوګرځوي دم پر لازم دی.(۲)

۲۱- که د عذر له کبله یې د بل پر شا یا پر بایسکل یا بل د سپرلی پر شي کي سعي وکړي نو بیا هیڅ شی نه پر لازمیږي.(۳)

---

(۱) أما إن ترك واجبا لعذر فإنه لا شيء عليه كما صرح به في البدائع في ترك السعي أنه إن تركه لعذر فلا شيء عليه، البحر الرائق: ج ۲ ص ۴۰/ البدائع: ج ۲ ص ۳۱۸/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۵ ص ۱۲.

(۲) ولو سعى راكبا من غير عذر لزمه دم إن لم يعد، البحر الرائق: ج ۳ ص ۴۰/ الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ۵۹۵.

(۳) وكذلك إن فعله راكبا فإن كان لعذر فلا شيء عليه، المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ۵۹/ الشامي: ج ۲ ص ۲۲۵.

ketabton.com - The Digital Library



۲۲- که څوک سعي وکړي خو د سعي څخه مخکې يې طواف نه وي کړی نو دغه سعي ته هيڅ اعتبار نه ورکول کيږي ځکه سعي د طواف څخه وروسته صحيح کيږي.

۲۳- د عمرې سعي په احرام کې واجب ده.(۱)

۲۴- که د عمرې سعي په احرام کې ونه کړي بلکې تر سر خريلو وروسته يې وکړي يو دم پر لازم دی.(۲)

۲۵- د عمرې د يوه واجب په پريښودلو سره دم واجبيږي.(۳)

۲۶- که يو څوک د جنابت يا حيض په حالت کې سعي وکړي نو دغه سعي يې صحيح ده اما ګنهکار سو، ولې صفا او مروا خو پخوا تر مسجد حرام دباندې وه خو اوس په مسجد حرام کې داخله ده نو مسجد ته د جنابت يا حيض په حالت کې بې له

---

(۱) غنية الناسك: ص ۱۳۲/ لباب المناسك ص ۱۹۳.

(۲) الايقاع بين السعي والحلق في العمرة فيلزمه دم لترك الترتيب/ غنية الناسك: ص ۱۳۴/ لباب مع الشرح ص ۱۹۷.

(۳) معلم الحجاج.

ketabton.com - The Digital Library



ضرورته داخلېدل حرام دي، باید په پاکي سره ور داخل سي.(۱)

۲۷- په سعي کي خبري کول یا د خبرو له پاره درېدل مکروه کار دی.(۲)

۲۸- که یو څوک د سعي په شوط کي د منځ څخه د لمانځه یا اوداسه له پاره ووځي نو کله چي بیرته راسي دغه شوط له سره راګرځول نه غواړي د هغه ځای څخه دي یې پوره کړي.(۳)

۲۹- ځیني خلک تر هر نفلي طواف وروسته په کالو کي سعي کوي چي ته ورته ووایي، حاجي صاحب تر نفلي طواف وروسته سعي نه سته دی په جواب کي تا ته داسي وایي ته یې اوس ماته راښیې؟ زه د کوم ځای څخه راغلی یم، نو دا یوازي

---

(۱) ومنها أنه یحرم علیهما وعلی الجنب الدخول في المسجد/ الهندیة: ج ۱ ص ۳۸/ الشامي: ج ۲ ص ۱۲۶.

(۲) مکروهات السعي البیع والشراء والحدیث/ غنیة الناسك: ص ۱۳۴/ اللباب: ص ۱۹۷.

(۳) فتح القدیر: ج ۲ ص ۳۸۹/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۲.

ketabton.com - The Digital Library



ناپوهي ده باید دی ځان پوه کړي او د حج او عمرې د سعي يې څخه ماسیوا بله نفلي سعي نه کیږي.(۱)

۳۰- که یو چا ته د سعي په مینځ کې شک پیدا سو نو پر هغه لږ دې عمل وکړي مثلاً د ده شک وي چې پنځه دي که څلور نو څلور دي يې حساب کړي او که د سعي تر ختمېدلو وروسته شک ورته پیدا سو، بیا نو همدغه شک اعتبار نه لري شی نه سته.(۲)

## (د حلق «سر خرییلو یا کوچنی کولو» بیان او مسائل)

۱- محرم چې کله د احرام څخه د وتلو وخت وي ټول سر یا د سر څلورمه برخه چې وخريي او یا يې کوچني کړي د احرام څخه وځي، او ښځي یوازي قصر کولای سي یعني د کوټي د بند په

(۱) الفقه الحنفي و أدلته: ج ۱ ص ٤٣٧/ غنية الناسك: ص ۱۳۷.

(۲) ولو شك في عدد أشواط السعي أخذ بالأقل كما قالوا في الطواف، غنية الناسك: ص ۱۳۰ الفقه الإسلامي وأدلته: ج ۳ ص ۲۲۲۹/ وأما إذا شك بعد الفراغ فلاشى عليه غنية الناسک ص ۱۳۱.

ketabton.com - The Digital Library



اندازه به د ټول سر څخه د وربښتانو څوکي غڅي کړي بيا د احرام څخه وځي، که ښځي د څلورمي برخي څخه کم وربښتان غڅي کړه نو بيا د احرام څخه نه سي وتلای د خپل خاوند سره يو ځای کېدل ورته حرام دي او د ښځي سر خريل حرام دي.(۱)

۲- د احرام څخه د وتلو له پاره د وربښتانو د کوچني کولو په اندازه کي د نارينه او ښځي فرق نسته هر يو به د سر د څلورمي برخي وربښتان د کوتي د بند په اندازه يا يو څه ډېر غڅي کوي.(۲)

۳- عمري کوونکی چي د عمرې تر طواف وروسته سعي وکړي نو سر به وخريي نو که د سعي تر مخه سر وخريي د احرام څخه وځي البته دم پر لازم دی.(۳)

---

(۱) معلم الحجاج: ص ۲۱۹ و شرط الخروج منه أی من إحرام العمرة والحج في الجملة الحلق أو التقصير قدر ربع شعر الرأس في وقته/ اللباب مع الشرح: ص ۱۰۴/ غنية الناسك: ص ۶۴/ الهداية: ج ۱ ص ۲۳۱/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۲۵.

(۲) الهندية: ج ۱ ص ۲۳۱/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۰۶/ البدائع: ج ۲ ص ۳۳۰ تبيين الحقائق: ج ۲ ص ۲۰۸،۲۰۷.

(۳) غنية الناسك: ص ۱۷۵/ اللباب: ص ۲۵۴.

ketabton.com - The Digital Library



۴- نارینه محرم ته د احرام څخه د وتلو له پاره په سر خرپیلو او لنډولو کي اختیار سته، که سر خریي او که یې غڅي کوي البته د سر خرپیل ورته افضل دي د هر خرپیل سوي وربښته په بدل کي الله ﷻ یوه نیکي ورکوي او یوه ګناه یې معافوي.(۱)

۵- که د محرم د سر وربښتان د ګوتي د بند تر اندازې کوچني وي نو بیا له احرام څخه بې له سر خرپیلو نه وځي.(۲)

۶- که د محرم په سر کي داني وي سر نه سي خریلای او هم یې د سر وربښتان د ګوتي د بند تر اندازې کوچني وي د دغه محرم څخه دواړه ساقط دي بې له سر خرپیلو او کوچني کولو له احرام څخه وځي او کوم شی هم نه پر لازمیږي.(۳)

---

(۱) غنية الناسك: ص ۱۷۳/ البدائع: ج ۲ ص ۳۲۸ النبي ﷺ علمهم في حجة الوداع دعا للمحلقين ثلاثا و للمقصرين مرة واحدة، رواه مسلم: رقم الحديث ۱۳۰۱.

(۲) اللباب مع الشرح: ص ۲۵۳/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۷/ غنية الناسك: ص ۱۷۵.

(۳) غنية الناسك: ص ۱۷۵/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۲۲۰/ المحيط البرهاني: ج ۳ ص ۸۱.

ketabton.com - The Digital Library



۷- که د محرم پر سر وربښتان نه وي، يا پيس ناروغي ولري نو يوازي د چارې تېرول پر سر باندي واجب دي.(۱)

۸- که د حج يا عمرې محرم سر د حرم د حدودو څخه دباندي وخريي د احرام څخه وځي البته دم پر لازم دی.(۲)

۹- که محرم د احرام ټول افعال اداء کړي وي او په دغه وخت کي خپل يا د بل محرم سر وخريي هيڅ شی نه پر لازميږي.(۳)

۱۰- که محرم تر وخت مخکې د بل محرم سر وروخريي پر سر خرو ونکي باندي نيمه کاسه د غنمو صدقه لازمه ده او په هغه محرم چي سر يي خرييل سوی دی دم لازم دی.(۴)

---

(۱) الشامي: ج ۲ ص ۱۹۷/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۱/ منحة الخالق على الحاشية البحر الرائق: ج ۲ ص ۳۴۶.

(۲) أي يجب الدم لو حلق للحج أو العمرة في الحل الشامي: ج ۲ ص ۲۲۵/ الهندية: ج ۱ ص ۲٤۷/فتاوي حقانية: ج ٤ ص ۳۷۳.

(۳) لباب المناسك ص ۲۵۳/ شرح النقاية لملا علي القاري: ج ۲ ص ۲۹۱.

(٤) غنية الناسک ص ۲۵۸/ الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۸۴/ زبدة المناسک ص ۱۹۸.

ketabton.com - The Digital Library



۱۱- د محرم له پاره تر سر خریلو وروسته برېتونه او نوکان کوچني کول مستحب دي که محرم د احرام په حالت کي تر سر خریلو مخکي بغلونه وخریل که دواړه بغلونه او یا یو یې وخریي دم پر لازم دی.(۱)

۱۲- د محرم له پاره د ورېښتانو کښل غوڅي کول او خریل یا په دواء لیري کول فرق نه لري د ټولو یو حکم دی.(۲)

۱۳- که محرم د پزي یا د ږیري ورېښتان وکاږي د هر ورېښته په مقابل کي به د یوه لاس یوه لپه غنم صدقه کوي.(۳)

---

(۱) الجواب يجب عليه الدم، فتاوى السعدية: ج ۱ ص ۵۲ مؤلف مولانا المرحوم المبرور السيد أسعد بن أبي بكر أفندي الحنفي رحمه الله تعالى/ فتاوى رحيمية: ج ۸ ص ۹۵/ الهداية: ج ۱ ص ۲۴۹.

(۲) الهندية: ج ۱ ص ۲۴۴/ الشامي: ج ۲ ص ۲۲۱/ غنية الناسك: ص ۲۵۷.

(۳) الهندية: ج ۱ ص ۲۴۳/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۱۴.

ketabton.com - The Digital Library



۱۴- او که محرم د ږیرې او د سر د وریښتانو څلورمه برخه وخریل نو دم پر لازم دی او که یې له څلورمې برخې څخه کمه اندازه وخریل بیا صدقه لازمیږي.(۱)

۱۵- د سترګو څخه د باڼوګانو په کښلو هیڅ شی نه لازمیږي.(۲)

۱۶- که محرم د سر یا د ږیرې څلورمه برخه لنډه کړه دم پر لازم دی.(۳)

۱۷- ځیني خلک د دې له پاره چې د سر ښکلا له لاسه ورنه کړي نو په خپله یا په بل ملګري یا په نایي د سرله ځینو برخو څخه لږ-لږ وریښتان غوڅې کړي او ځان له احرام څخه وتلی

(۱) التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۹۲/ ملا علي القاري: ص ۳۲/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۸/ الاختيار لتعليل المختار: ج ۱ ص ۱٦۲/ اللباب: ج ۱ ص ۲۰۵،۲۰٦ .

(۲) معلم الحجاج ص ۲٤۹.

(۳) التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۹۲/ نهر: ج ۲ ص ۱۱۹.

ketabton.com - The Digital Library



بولي، حال دا چې دا طریقه صحیح نه ده که څوک په داسې حالت کې پوره ورځ یا شپه تېره کړي دم پر واجبېږي.(۱)

۱۸- ځیني خلک د عمرې د طواف د سعي صفا او مروا په منځ کې تګ راتګ وکړي وروسته حلق سر خرییل یا کوچني کول نه کوي متصل د بلې عمرې له پاره احرام تړل شرعا ممنوع دي، په دغه صورت کې دم پر لازمېږي.(۲)

## (د خنثی «نرښځي» د احرام بیان)

نرښځی یعني چې نر او ښځه یې نه وي معلوم په ټولو احکامو کې د ښځې غوندې دی د پردې نارینه یا ښځینه سره یې او سېدل روا نه دي.(۳)

---

(۱) معلم الحجاج ص ۲۱۹ الاختیار لتعلیل المختار: ج ۱ ص ۱٦٥/ الهدایة: ج ۱ ص ۲۳۱/ ارشاد الساري ص ۲٥۲ وص ۲٥۳.

(۲) الهندیة: ج ۱ ص ۲٥۴ الهدایة: ج ۱ ص ۲۷۱.

(۳) معلم الحجاج ص ۱۰۲.

ketabton.com - The Digital Library



نرښځی په ځینو مسائلو کي د ښځي سره فرق لري ښځه سر نه سي خرپیلای البته نرښځی به سر خریي.(۱)

## (مسجد تنعیم)

دا د مسجد عائشه رضي الله عنها په نوم سره مشهوره دی، تنعیم د دي ځای نوم دی کوم چي د حرم له حدودو څخه وتلی دی او له دې ځایه نبي کریم ﷺ په حجة الوداع کي حضرت عائشه رضي الله عنها ته د عمرې حکم کړی و. ځکه له دې ځایه عمره کول افضل دي.

## (مسجد جعرانه)

مسجد جعرانه هم د حرم د حدودو څخه دی ځکه نبي کریم ﷺ له همدې ځایه څخه د عمرې له پاره احرام تړلی دی.

له دې ځایه عمره کولو ته په عامه اصطلاح کي غټه عمره او له تنعیم څخه عمره کولو ته کوچنۍ عمره ویل کیږي د دې دواړو مقاماتو د مسافې په لحاظ یې دا نومونه ایښودل سوي دي

(۱) فتح المعین: ج ۱ ص ۴۹۶.

ketabton.com - The Digital Library



لیکن کوچنۍ او غټه عمره حقیقتاً نسته له دواړو ځایونو جعرانه او تنعیم څخه د عمرې په اجر او ثواب کي هیڅ فرق نسته.(۱)

د جعراني مسجد د مکې مکرمې د شمال شرق خواته د طائف پر لار د مسجد الحرام څخه (۲۲) کیلو متره لیري واقع دی.

## (د ښځو اړوند مسائل)

۱- ښځه د خپل خاوند او د هغه محرم سره حج او عمرې ته تللای سي چي نکاح یې په هیڅ وخت کي نه ورسره صحیح کیږي، دغه خاوند او محرم به امین او عاقل وي، بالغ به وي، فاسق او بې باکه انسان به نه وي، د ښځي له پاره چي د حج او عمرې په سفر کي خاوند یا محرم لازم بلل سوی دي دا هغه سفر دی چي د درو ورځو څخه زیات وي مطلب (۷۸) کیلو متره وي چي دا شرعي سفر دی که د حج، عمرې یا بل سفر وي

(۱) د حج او عمرې مسئلې ص ۴۲۵ وص ۴۲۶ . مؤلف مولنا محمد رفعت قاسمي حفظه الله.

ketabton.com - The Digital Library



په دغه کې ځوانه او زړه ښځه فرق نه لري د دواړو له پاره لازم دی.(۱)

۲- ښځه د عدې په وخت کې حج او عمرې ته نه سي تللای که د طلاق عده وي او که د وفات عده وي فرق نه لري، البته که د عدې په وخت کې حج یا عمرې ته ولاړه نو په دې سفر کولو سره ګنهکاره ده.(۲)

۳- که چیري ښځه د احرام تړلو په وخت کې په حیض کې وي نو غسل به کوي ځکه د احرام له پاره غسل سنت دی.(۳)

---

(۱) والمحرم في حق المرأة شرط شابة كانت أو عجوزة إذا كان بينها وبين مكة مسيرة ثلاثة أيام/المحيط البرهاني: ج ٣ ص ٣٩٤/ البدائع: ج ١ ص ٣٠٠/ الهندية: ج ١ ص ٢١٩/ التاتارخانية: ج ٢ ص ١٤٩/ الشامي: ج ٢ ص ١٥٨ . قال ابن حجر رحمه الله، وقوله ﷺ: ﴿لا تسافر المرأة إلا مع محرم﴾ رواه البخاري رقم الحديث ٣٠٠٦ ، ومسلم رقم الحديث ١٣٤١ فتح الباري: ج ص ٧٧/ رد المحتار: ج ١ ص ٧٣٧.

(۲) وكذلك يحرم عليها الخروج إلى الحج أو العمرة إذا كانت معتدة عدة طلاق أو وفات. الفقه على المذاهب الأربعة: ج ١ ص ٥٧٣/ البدائع: ج ٢ ص ٣٠١ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ١ ص ٤٧٢.

(۳) البدائع: ج ٢ ص ٣٣٤/ الشامي: ج ٢ ص ١٧٠/ الموسوعة الفقهية: ج ١٨ ص ٣١٩.

ketabton.com - The Digital Library



۴- ښځه په احرام کي ګنډلي کالي اغوستلای سي يعني ښځه به په احرام کي خپلي عادي او ګنډلي جامې اغوندي لکه پرتوک، قميص، انګيا او داسي نور.... (۱)

۵- ښځه به سر پټوي بوټونه او موزې په پښو کولای سي او دستکلې هم په لاس کولای سي.(۲)

۶- ښځه د احرام په حالت کي که څوک نه وي مخ به لڅ کړي البته که غير محرم څوک وي هم به مخ په عادي ډول نه پټوي، ځکه د احنافو مذهب دا دی چي د ښځي احرام په مخ کي دی او که بېګانه خلک وي نو ځواناني او مخ پوټی ښځي به د ستر له پاره د مخ څخه ليري پر مخ ټوکر راځوړند کړي، د پيک په واسطه البته دا ټوکر به يې د مخ څخه ليري وي پر مخ به يې موښتی نه وي، دغه ته سَدَل وايي.

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲۳٦/ ارشاد الساري ص ۱۱٤ وص ۱۱۵.

(۲) الزيلعي: ج ۲ ص ۳۲۳/ فتح القدير: ج ۲ ص ٤۰۵/ المبسوط للسرخسي: ج ۳ ص ۳۹. البته د دستکلو نه په لاس کول بهتردي الشامي: ج ۲ ص ۲۰٦/ البدائع: ج ۲ ص ٤۱۰.

ketabton.com - The Digital Library



د پردیو خلکو په مخ کې ښځې ته مخ ښکاره کول منع دي او په داسي طريقه سره مخ پټول واجب دي نو د حياء اوبه به يې د سترګو څخه نه وزي.(١)

٧- که ښځه بې له ضرورته په احرام کې مخ پټ کړي که پوره ورځ يا پوره شپه ټول مخ يا د مخ څلورمه برخه پټه کړي دم پر لازم دی که تر ورځې کمه وي بيا نيمه کاسه غنم صدقه پر لازمه ده او که داسي وکړي چي مخ پټ کړي او ژر يې بيرته لڅ کړي بيا د هر وار په پټېدلو سره يو مُټ د غنمو صدقه پر لازمه ده.(٢)

الشيخ ملا عبد الغني آخند په خپل مناسک کې ليکلي دي که ښځه مخ پټ کړي، تر يو ساعت کم وي هيڅ شی نه پر لازميږي

---

(١) ذهب الفقهاء إلى أن احرام المرأة في وجهها فلا يجوز لها ستر وجهها/ الموسوعة الفقهية: ج ٣٥ ص ٢٠٢ المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ٣٩/ الشامي: ج ٢ ص ٢٠٥/ مناسك الملا علي قاري ص ٧٨/ فصل في تغطية الرأس والوجه فتاوى عثمانية ص ٣٧٤ . ٣٧٥/ الهداية: ج ١ ص ٢٣٦./ رد المحتار ج ٢ ص ١٦٢.

(٢) الموسوعة الفقهية: ج ٢ ص ١٨٢/ غنية الناسك: ص ٢٥٥.

ketabton.com - The Digital Library



او که يو ساعت پوره و دوولسمه برخه د پسه د قيمت به خيراتوي.(۱)

۸- ښځي ته په احرام کي د خولې او پزي پوټېده په ماسک يا بل شي سره ممنوع دي او په ځيني ښځو به نه خطاوزي که پوره ورځ يا شپه خوله پټه کړي دم پر لازم دی او که تر ورځ کم وي بيا نيمه کاسه د غنمو صدقه پر لازمه ده.(۲)

۹- دغه حکم چي ښځي به مخ نه پټوي دغه د احرام حکم دی د حرم حکم نه دی بلکي د احرام تر ختمېدلو وروسته به مخ پټوي لکه په نورو وختو کي.(۳)

---

(۱) مناسك الحج الجديد ص ۹۲./ التاتارخانية: كتاب الحج، ج ۳ ص ۵۷۷، ط: رشيدية.

(۲) غنية الناسك: ص ۲۵۵/ إرشاد الساري ص ۲۴۳/ رد المحتار: ج ۲ ص ۴۸۸/ فتاوى دار العلوم زكريا: ج ۳ ص ۴۵۳.

(۳) الموسوعة الفقهية: ج ۴۲ ص ۳۶۵/ الشامي: ج ۱ ص ۲۹۹./ المحيط البرهاني ج ۳ ص ۴۵.

ketabton.com - The Digital Library



۱۰- ښځه به تلبیه په داسي طریقه وایي چي خپله یې اوري او په بل به یې نه اوري.(۱)

۱۱- ښځه به حجر اسود او رکن یماني کي که ګڼه ګوڼه وي یعني د خلګو سره د بدن د مښلېدلو خطر وي نه به یې مچوي لکه په اوسني وخت کي یو ه ته به هم نه ورځي.(۲)

۱۲- ښځه به په طواف کي رمل یعني د اوږو ښورول نه کوي.(۳)

۱۳- ښځه به د طواف لمونځ د مقام ابراهیم سره که د خلګو ګڼه ګوڼه وي نه به یې کوي بل ځای دي وکړي.(۴)

---

(۱) ولا ترفع صوتها بالتلبية لاجماع العلماء على ذلك/ الهندية: ج ۱ ص ۳۳۵/ غنية الناسك: ص ۹۴ الزيلعي: ج ۲ ص ۳۲۳.

(۲) الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۴۰۵/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۲۳.

(۳) ولا ترمل المرأة/ الفقه الاسلامي وأدلته: ج ۳ ص ۲۲۲۷/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۶.

(٤) وكذلك لا تصلي في مقام إبراهيم في الزحام/ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد : ج ۱ ص ۴۷۲/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۶/ اللباب: ص ۱۲۸.

ketabton.com - The Digital Library



۱۴- د ښځي له پاره د ګڼي ګوڼي په وخت کي د صفا سر ته لوړه پورته کېدل صحيح نه دي.(۱)

۱۵- د ښځي له پاره همېشه دا افضل دي چي د کعبې شريفي څخه ليري طواف وکړي ځکه د ګڼي ګوڼي په وخت کي د نارينو سره د بدن مښلېدلو خطره وي او دغه د ښځي له پاره ناروا عمل دی.(۲)

۱۶- د ښځي له پاره په احرام کي زېورات استعمالول روا دي.(۳)

۱۷- که يو ښځه د حج يا عمرې د افعالو د اداء کولو له پاره د حيض د درېدو درمل وخوري يعني د دواء په ذريعه حيض بند کړي دغه ښځه پاکه بلل کيږي لمونځ روژه او طواف زيارت

(۱) غنية الناسك: ص ۹۴/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۷۲.

(۲) اللباب: ص ۱۷۷/ مجامع المناسك: ص ۱۹۵/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۹.

(۳) البدائع: ج ۲ ص ۴۱۰/ مجامع المناسك: ص ۱۴۶.

ketabton.com - The Digital Library



کول يې صحيح دي تر هغه وخت پوري چي وينه يې ښکاره کيږي.(۱)

۱۸- ښځي ته دا مناسبه ده چي د احرام په حال کي يو کوچنی دسمال وتړي چي وربېښتان يې ښکاره نه سي د دغسي دسمال تړل د ستر د وجوب له پاره دي، نه د احرام له پاره ځکه چي د ښځي په سر کي احرام نه سته که ښځه فرضا سر لڅ پرېږدي کوم شی نه پر لازميږي، دسمال تړل د پردي نارينه په وړاندي واجب دی او سر لڅول ګناه ده د عمرې او حج په احرام اړه نه لري.(۲)

۱۹- ځيني ښځي د احرام په حالت کي په اودس کولو کي د سر مسح پر پوړني او يا پر هغه ټوکر باندي کوي چي په احرام کي يې پر سر باندي تړلی دی يعني د لاسو اوبه يې سر ته نه

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۳۸/ التاتارخانية: ج ۱ ص ۲۰۳/ عمدة المناسك ص ۶۰۱/ فتاوی رحيمية: ج ۳ ص ۹۰ (طبع دار الاشاعت).

(۲) معلم الحجاج ص ۹۹/ مؤلف مولانا مفتي سعيد أحمد پالنپوري رحمه الله/ احسن الفتاوي ج ص ٤٥٦٦.

ketabton.com - The Digital Library



رسيږي، دغه اودس يې نه صحيح کيږي ځکه په اوداسه کې د سر مسح فرض ده بيله مسحې اودس نه صحيح کيږي نو تر دغه اودس و روسته چې هر عمل کوي که لمونځ وي طواف وي او که سعي وي هغه داسې دي لکه بې اوداسه چې يې کړې وي چې د هريوه حکم بيان سوی دی.(۱)

۲۰- ځينې ښځې په طواف کې د نارينه وو په مېنځ کې رواني وي او ځينې ښځې پر حجر اسود باندې چې ګڼه ګوڼه وي په هغه هم ورګډې سي ځينې ښځې بيا د مسجد الحرام په لمانځه کې د امام سره په جماعت کې وي پر هغه خپلو خاصو ځايو کې نه دريږي چې د مسجد الحرام د ادارې مسؤلينو ورته ټاکلي دي د نارينه وو تر څنګ ولاړې وي داسې لمونځ بيله ګټې دی که چيري د ښځو صف دمخه او دنارينه وو صف وروسته و دنارينه وو لمونځ نه کيږي، ځکه که چيري ښځه له نارينه سره څنګ پر څنګ ودريږي د دواړو څنګونو ته د دريدونکو

(۱) ولا يجوز مسح المرأة على خمارها/ البدائع: ج ۲ ص ۷۱/ الهندية: ج ص ۶/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۵۹/ آپ کے مسائل: ج ص ۹۰.

ketabton.com - The Digital Library



نارینه وو لمونځونه فاسدیږي او چي امام د ښځو د اقتداء نیت ونه کړي بیا نه فاسدیږي د کعبي شریفي امام د داسي ښځو د لمانځه نیت نه کوي، نو باید په داسي طریقه سره لمونځ ونه سي او که یې وکړي نو باید بېرته یې راوګرځوي، دا به ووایم چي نیکي برباد ګناه لازم، چي په ناخبرتیا او په نه پوهېدلو ځان مه خلاصوئ باید له داسي اختلاط څخه زموږ خویندي ځان وساتي.(١)

## چو کفر از کعبه خیزد کجا ماند مسلماني!

٢١- که د ښځي پر نوکانو باندي هغه رنګ وي چي اوبه منع کوي د دغه رنګ سره اودس او غسل نه صحیح کیږي البته د رنګ لیري کول لازم دي که د دغه رنګ د استعمال څخه وروسته د جنابت یا حیض څخه د پاکېدلو غسل او اودس وکړي نو غسل او اودس یې نه صحیح کیږي اوس چي تر اودس او غسل وروسته یې کوم طواف او سعي کړي وي هغه

(١) الدر المختار مع رد المحتار: ج ١ ص ٤٢٦ باب الامامة/ فتاوى فريدية: ج ٤ ص ٢٦٩/ هندية: ج ١ ص معلم الحجاج ص ١٧٤.

ketabton.com - The Digital Library



د جنابت یا حیض یا بې اودسۍ په حال کې بلل کیږي چې حکم یې ذکر سوی دی.(۱)

۲۲- که ښځه په احرام کې پر خپل یوه لاس یا دواړو لاسو باندې نکریزي کښېږدي دم پر لازم دی خو په دې شرط چې پر دواړو لاسو به یې په یوه مجلس کې نکریزي ایښي وي خو که یې پر یوه لاس په یوه مجلس کې ایښي وې او پر بل لاس یې په بل مجلس کې ایښي وې بیا دوه دمه پر لازم دي.(۲)

۲۳- که ښځي ته د عمرې د احرام تر تړلو وروسته حیض راسي تر هغه وخت به انتظار وکړي چې حیض یې ختمیږي او بیا به خپله عمره وکړي او هیڅ شی نه پر لازمیږي او که عمره پرېږدي احرام خلاصوي نو وروسته به د دغه عمري قضاء راوړي او یو دم هم پر لازم دی.(۳)

---

(۱) يمنع وصول الماء إلى الاظافير فلا يصح الخ/ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۴۹/ الفقه الاسلامي وأدلته: ج ۱ ص ۳۹۱/ الهندية: ج ۱ ص ۴.

(۲) المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۱۳۷/ غنية الناسك: ص ۲۴۵.

(۳) الفقه الاسلامي: ج ۳ ص ۲۳۶۴/ إعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۳۷۶.

ketabton.com - The Digital Library



۲۴- که ښځي ته د طواف په مینځ کي حیض راسي نو طواف به پر همدغه ځای پرېږدي او ژر به د مسجد الحرام څخه ووځي د حیض تر ختمېدلو پوري به انتظار کوي او هر کله چي د حیض څخه پاکه سي بیا به خپل طواف وکړي.(۱)

۲۵- ښځي ته د حیض او نفاس څخه ماسېوا د مرض د وینو سره طواف کول جائز دي البته د مسجد د پاکۍ لحاظ او احترام پر لازم دی.(۲)

۲۶- ښځه د حیض او نفاس په حالت کي د رسول الله ﷺ زیارت ته نه سي ورتللای ځکه هغه په مسجد کي دی.(۳)

---

(۱) البحر الرائق: ج ۱ ص ۳۴۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۱۸ غنية الناسك: ص ۱۲۲.

(۲) الشامي: ج ۱ ص ۲۱۸/ الموسوعة الفقهية: ج ۳ ص ۲۰۹.

(۳) ويحرم الحيض عليها دخول المسجد/ الفقه الاسلامي وأدلته: ج ص ۱۰۳/ البحر الرائق: ج ۱ ص ۳۳۸.

ketabton.com - The Digital Library



۲۷- حائضې ښځې ته دعاء کول ذکر کول، د آذان جواب ورکول ټول ورته روا دي.(۱)

۲۸- د ښځو له پاره تر مسجد نبوی او مسجد حرام په خپلو کوټو (عمارة) کې لمونځ اداء کول زيات ثواب او ښه والی لري.(۲)

۲۹- که چا د احرام په حالت کې خپلې ښځې ته په شهوت سره لاس وروړی يا يې مچ کړه دم پر لازميږي.(۳)

۳۰- که د حج محرم د احرام په حالت کې په شهوت سره خپلې ښځې ته لاس وروړي يا يې مچ کړي، يا بېله جماع څخه نوري

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۳۸/ السراجية ص ۸/ البحر الرائق: ج ۱ ص ۳۴۷.

(۲) المحيط البرهاني: ج ۲ ص ٤٨٥/ مسائل رفعت قاسمی: ج ۳ ص ۲۱۱ آپ کے مسائل: ج ص ۱۱۸/ وهکذا في فتاوي دار العلوم: ج ٦ ص ٥٤٦/ فتاوی فريدية: ج ص ۲۷۰.

(۳) الهداية: ج ۱ ص ۲۵۱ کتاب الحج/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۸۵ (مكتبه عثمانية).

ketabton.com - The Digital Library



بازې ورسره وکړي حج يې نه فاسديږي که انزال سي او که نه سي البته دم پر لازميږي.(۱)

۳۱- که د حج محرم د احرام په حالت کي تر عرفات مخکي د خپلي ښځي سره جماع وکړي د دواړو حج فاسديږي پر هر يوه باندي د يوه پسه حلا لول لازم دي دغه فاسد حج به تر اخره پوري رسوي پر همدې ځای به يې نه پريږدي او راتلونکی کال پر هر يوه باندي د حج قضا لازمه ده.(۲)

۳۲- که د حج محرم د احرام په حالت کي تر عرفات وروسته تر سر خرييلو او طواف زيارت مخکي جماع وکړي حج يې نه فاسديږي البته (بَدَنه) اوښ يا غويي پر لازم دی.(۳)

---

(۱) ولا يفسد حجه اتفاقا بين الحنفية والشافعية والحنابلة الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۹۳/ البدائع: ج ۲ ص ٤۲٥.

(۲) المبسوط للسرخسي: ج ص ۱۳۰/ البدائع: ج ۲ ص ٤٦۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۹۰.

(۳) لم يفسد حجه وعليه بدنه الشامي: ج ۲ ص ۲۳۰/ غنية الناسك: ص ۲٦۹/ لباب المناسک ص ۳۷۷.

ketabton.com - The Digital Library



## (د ښځو او نارینه وو په لمانځه کې فرق)

۱- ښځه دې د تکبیر تحریمه ویلو په وخت کې دواړه لاسونه تر اوږو پورې پورته کړې مګر لاسونه دې تر پوړنۍ دباندې نه راباسي.(۱)

۲- ښځه دې پر سینه لاسونه وتړي د راسته لاس ورغوی دې د چپه لاس د ورغوي پر شا کښېږدي، د نارینه وو په ډول دې په خمچه او بته ګوته د لاس بند نه نیسي.(۲)

۳- په رکوع کې دې لږ کښته سي او د دواړو لاسو ګوتې دې بندې پر ځنګنو کښېږدي ګوتې دې نه خلاصوي او دواړه بازوګان دې د بغلو سره ښه موښتي ونیسي او د دواړو پښو بجلکي دې ښه سره ومښلوي.(۳)

---

(۱) حصن حصین: ص ۲۲۴.

(۲) مرقات: ج ۳ ص ۳۵.

(۳) طحطاوي شامي: ج ۲ ص ۱۸۸.

ketabton.com - The Digital Library



۴- ښځه به په سجده کې پښې نه دروي بلکې راسته خوا ته دې وباسي او ښه ورټوله او موښتې سجده دې وکړي او نس دې له ورنو سره او بازوګان دې د بغلو سره وموښلوي او ځنګلي دې پر ځمکه کښېږدي.(۱)

۵- په قعده (ناسته) کې دې پر چپه خوا کښېني او دواړې پښې دې راسته خوا ته وباسي پر ورنو دې دواړه لاسونه کښېږدي او د لاسو ګوتې دې ښه موښتې ونیسي.(۲)

«رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ العَلِيْمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ»

ژباړه: اې زموږ ربه زموږ څخه دا خدمت قبول کړه، ته د هر څه اورېدونکی او په ټولو شیانو پوهېدونکی یې او زموږ توبه قبوله کړه ته زیات توبه قبلوونکی او رحم کوونکی یې.

(۱) بهشتي زیور دوهمه حصه ص ۱۷/ الشامي: ج ۲ ص ۲۱۱.

(۲) البحر الرائق: ج ۱ ص ۳۳۹.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مختلفو مسئلو بیان)

۱- که څوک د حج یا د عمرې په مسائلو نه وو خبر په سپکه سترګه مه ورته ګورئ په نرمي او پراخ تندي سره یې ورو ښیاست!

۲- د مسجد الحرام څخه دباندي طواف جائز نه دی.

۳- په طواف کي نامحرمو ښځو او هلکانو ته باید ونه کتل سي او بې ګټې خبري هم باید ونه سي.

۴- که د ناروغ یا معذور سړي څخه پیسې واخستل سي او طواف په وکړي دا کار روا دی.

۵- په حرمینو شریفینو کي د بدن او جامو نظافت او صفائي ډېره کوئ د خیرنو کالو، صدرۍ، رخچیني او لنګوټې سره مه ګرځئ چي خیرن احرام دي پر سر تړلی وي لکه قصاب، البته لنګوټه تړل سنت ده. نبي کریم ﷺ د مکې شریفي د فتحي

ketabton.com - The Digital Library



(نیولو) پر مهال لنګوټه تړلې وه، تر لنګوټې لاندې رخچینه پر سر کول تر لنګوټه او شمله ایله کول هم سنت دي.(۱)

﴿يَا بَنِيْ آدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾.(۲)

ژباړه: اې د ادم اولادې د هر عبادت په وخت کښې په خپله ښکلا سینګار واوسئ.

۶- د مسجد الحرام نوې برخه د پخوانۍ حصې سره په ثواب کې برابره ده هیڅ فرق نه لري.(۳)

په حرمینو شریفینو کې د مازدیګر لمونځ د دوچندۍ څخه دمخه اداء کیږي نو د امام صاحب د مذهب خلک باید په دغه جماعت کې شرکت وکړي او بیا ئې دې لمونځ نه کوي.(۴)

---

(۱) مرقات: ج ۸ ص ۱۲۱۵ النسائي: ج ۲ ص ۲۹۹.

(۲) سورة الأعراف: (۳۱)

(۳) غنية الناسك: ص ۱۴۳/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۳.

(٤) الشامي: ج ۱ ص ۲۴۴/ القواعد الفقهية ص ۵۱۱/ الدر المختار مع الشامي: ج ۱ ص ۲۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



۸- که يو څوک د جنازې په لمانځه يا په بل لمانځه کي د امام په خوا کي کعبی شريفی ته تر امام نژدې سي د دغه سړي لمونځ نه صحيح کيږي.(۱)

۹- ځيني عمره کوونکي يا حج کوونکي د مازديګر لمونځ په جماعت سره وکړي او بيا روضي شريفي ته ځي او هلته بيا نفلي لمونځ کوي زموږ په مذهب کي د مازديګر د فرضي لمانځه وروسته نفلي لمونځ کول مکروه دي بايد ونه سي.

که څوک په روضه شريفه کي د مازديګر په وخت کي نفلي لمونځ کوي ښه وخت يې دادی چي خپل فرضي لمونځ څه وځنډوي او په روضه شريفه کي دي نفلي لمونځ وکړي وروسته دي بيا هغه خپل فرضي لمونځ اداء کړي.(۲)

---

(۱) شرح منية ص ۶۱۶/ الهندية: ج ۱ ص ۶۵/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۴۰.

(۲) قال الحصكفي: وكره النفل بعد صلاة الفجر وصلاة العصر، لا يكره قضاء فائتة وكذا بعد طلوع الفجر سوى سنته الخ. ----

ketabton.com - The Digital Library



۱۰- په مسجد الحرام او مسجد نبوي شریف کې زیات وختونه تر فرض لمانځه وروسته د جنازې لمونځ وي کله چې د امام سره فرض لمونځ وکړئ د لږ وخت له پاره په تسبیحاتو ویلو ځان بوخت کړی او سمدستي سنتو ته مه ولاړیږی که چیري د جنازې لمونځ وي هغه وکړئ او بیا وروسته خپل سنت لمونځ اداء کړئ، داحنافو له اصولو څخه یو اصل دا دی چې فرض کفایي د لیدلو او حضور په صورت کې فرض عین ګرځي نبي کریم ﷺ فرمایي کوم څوک چې په جنازه کې شرکت وکړي او وروسته دجنازې لمونځ هم وکړي، د دې کس

--- قال ابن العابدين قوله كره الكراهة هنا تحريمية كما صرح به في الحلبة، وقوله بعد صلاة الفجر والعصر أي إلى ما قبل الطلوع والتغيير وقال الحصكفي وكره تحريما صلاة مطلقا ولو قضاء أو واجبة أو نقلا مع شروق واستواء وغروب.

الدر المختار مع رد المحتار: ج ۱ ص ۳۷۰ وص ۳۸٤/ و كذا في الفتاوى الهندية: ج ۱ ص ۱۰۹ كتاب الصلاة الاوقات التي تكره فيها الصلاة.

ketabton.com - The Digital Library



له پاره یو قراط ثواب دی او څوک چې یې دفن ته هم انتظار سي نو د دې کس له پاره دوه قراطه ثواب دی بیا پوښتنه وسوه چې دوه قراطه څومره اندازه ده، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې دوه لوی لوی غرونه .(۱)

۱۱- د مسجد الحرام یو لمونځ بې له جماعت څخه په یو لک درجې ثواب لري او که په جماعت باندي اداء سي نو یو لمونځ په اوه ویشت (۲۷) لکه درجې ثواب لري.(۲)

۱۲- په مکه مکرمه کي هر قسم عبادات لکه روژه، تلاوت، ذکر، صدقه، او داسي نور یعني هر عبادت او نیکي چي وي په یو لک درجې ثواب لري.(۳)

---

۱ صحيح البخاري: رقم الحديث ۱۳۲۵.

۲ إن الصلوة في المسجد الحرام أفضل من مائة الف صلوة فيما سواه من المساجد/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۳۸/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۳.

۳ مجامع المناسك: ص ۶۲۶/ غنية الناسك: ص ۱۴۳.

ketabton.com - The Digital Library



۱۳- که یو څوک په مکه مکرمه کې یو قضایي لمونځ وکړي په دغه لمانځه یې د یوه لمانځه غاړي خلاصیږي.(۱)

۱۴- په مسجد الحرام کې طواف کوونکي دي د لمونځ کوونکي مخته د سجدې پر ځای نه تېریږي او که د سجدې د ځای څخه لیري وي نو تېرېدل ورته پروا نه کوي.(۲)

۱۵- هغه څوک چې کعبه شریفه ویني هغه ته د لمانځه د ولاړي په وخت کې ښه دا ده چې د سجدې ځای ته وګوري.(۳)

۱۶- په وتر لمانځه کې د حنفي مذهب والا اقتداء کول په هغه امام پسې چې پر دوه رکعته باندې سلام ګرځوي نه ده جائز نو دا کس دې په همدغه امام پسې داغه وتر چې دوه رکعته امام

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۳۸/ غنية الناسك: ص ۱۴۲.

(۲) رد المحتار: ج ۲ ص ۱۷۲/ الشامي: ج ۱ ص ٤۷۰ .

(۳) الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۲۲۹/ الشامي: ج ۱ ص ۳۵۳/ الطحطاوي على مراقي الفلاح ص ۲۷۷.

ketabton.com - The Digital Library



کوي د نفلو په نیت سره دې ورسره وکړي وروسته دې بیا خپل وتر لمونځ یوائې وکړي.(۱)

۱۷- کله کله په مسجد الحرام او مسجد نبوي کي امام په لمانځه کي د سجدې آیة ووایي نو سجدې ته ولاړ سي او ځیني خلګ په دغه سجده نه سي پوه او رکوع ته ولاړ سي او دغه د تلاوت سجده ونه کړي، د دغه خلګو لمونځ صحیح دی او د دغه سجدې د تلاوت قضاء پر همدغه خلکو نه سته که په دغه رکوع کي پوه سي چي امام د تلاوت سجدې ته ولاړی نو دغه رکوع دي پرېږدي او د امام سره دي د تلاوت سجده وکړي.(۲)

۱۸- په ټوله نړۍ کي تحیة المسجد د مسجد لمونځ دی لیکن په مکه مکرمه کي تحیة المسجد د مسجد الحرام طواف دی

---

(۱) البحر: ج ۲ ص ۷۰/ الشامي: ج ۱ ص ۲۹۳/ فتح القدیر: ج ۱ ص ۳۸۱/ فتاوی فریدیة: ج ۲ ص ۳۰۸.

(۲) التاتارخانیة علی هامش الهندیة: ج ۱ ص ۶۰/ الشامي: ج ۱ ص ۵۷۰/ الهندیة: ج ۱ ص ۱۳۴ البحر: ج ۲ ص ۲۱۵.

ketabton.com - The Digital Library



هغه څوک چې د طواف کولو نیت لري او هغه څوک چې د طواف کولو نیت نه لري، د نورو مسجدو په شان به دلته هم دوه رکعته نفل وکړي، که مکروه وخت نه وي.(۱)

۱۹- د حج او عمرې په سفر کې سنت کول که د تګ په حالت کې وو او تلواریې وي نو نه کول یې ښه دي، که د تګ په حالت کې تلواري نه وو لکه یو ځای چې مثلا شپه یا ورځ تېروي نو بیا یې کول ښه دي.(۲)

۲۰- په حرم شریف کې که د یو چا چپلکې ورکې سي نو د بل مسلمان ورور چپلکې په پښو کول نه دي ورته روا احتیاط دا دی چې نه به یې په پښو کوي.(۳)

۲۱- په مسجد حرام کې ځنې خلګ د شا په صفونو کې دریږي سره ددې چې د مخ په صفونو کې ځای وي نو د شا په صفونو کې درېدل په کار نه دي، که بیا هم یو څوک ودرېدی دغه

---

(۱) الفقه الحنفي وأدلته: ج ۱ ص ۴۲۷/ غنية الناسك: ص ۹۹.

(۲) الفقه الاسلامي وأدلته: ج ۲ ص ۱۳۷۲/ الشامي: ج ۱ ص ۵۸۵.

(۳) الشامي: ج ۳ ص ۳۵۵/ مسائل رفعت قاسمي: ج ۵ ص ۵۰.

ketabton.com - The Digital Library



لمونځ يې مکروه دی که څه هم دا وخت امام پر رکوع وي او رکعت ورڅخه تېرېږي.(۱)

۲۲- هغه څوک چې د شا په صف کې ولاړ وي او د مخ په صف کې ځای وي بل څوک د ده مخ ته تېرېدای سي او په دغه تېرېدو سره ګنهکار هم نه دی.(۲)

۲۳- او هغه خلګ چې کعبه شريفهويني پر هغو باندي دا لازمه ده چې خامخا به د کعبې شريفي بناء ته مخامخ درېږي، داسي نيت به کوي چې مخ مې دی و دغه کعبې شريفي ته او لمونځ کوم خاص د الله تعالی له پاره او مستقيما به کعبې شريفي ته درېږي، که کوږ ولاړ وي لمونځ يې صحت نه لري او

---

(۱) و منها صلوته خلف صف فيه فرجة وهذا مكروه باتفاق الأئمة ما عدا الحنابلة/ الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ۲۵۳/ شرح النقابة: ج ۱ ص ۳۰۹ التاتارخانية على هامش الهندية: ج ۱ ص ۱۱۹. وَالنبي ﷺ قَالَ: ﴿خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا﴾. رواه مسلم: رقم الحديث ٤٣٠ وَلِقَوْلِهِ ﷺ: ﴿يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ﴾. رواه مسلم: : رقم الحديث ۴۴۰.

(۲) الشامي: ج ۱ ص ۴۲۲.

ketabton.com - The Digital Library



که دي په نيت کي وه چي سجده و کعبي شريفي ته کوم نو دا صحت نه لري ځکه غير له الله ﷻ څخه بل شي ته سجده کفر دی، ولي چي سجده به دي خاص الله تعالی لره وي يوائحي مخ به دي پر لوري د کعبې شريفي وي.(۱)

۲۴- په مسجد حرام کي د دغه مسئلي سره ډير خلک مخامخ کيږي نو بايد وويل سي چي په مسجد حرام کي دننه که د صفونو ترمنځ فاصله وه، ولو که ډيره هم وه لمونځ يي نه فاسديږي په امام پسي اقتداء صحيح ده او دغه لمونځ يي مکروه دی او د مسجد حرام څخه دباندي لکه (سړکان، کوڅي او عماري) که چيري د حرم شريف تر امام پوري صفونه متصل وه نو بيا يي اقتداء صحيح ده اما که چيري په منځ کي فاصله وه نو بيا اقتداء او لمونځ نه صحيح کيږي.(۲)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۴ ص ۶۴/ الطحطاوي على مراقي الفلاح ص ۲۱۲/ البحر: ج ۱ ص ۴۹۵.

(۲) بدائع الصنائع: ج ۱ ص ۲۱۸/ مراقي الفلاح ص ۱۰۹ باب الامامة/ فتاوى حقانية: ج ۳ ص ۱۲۷/ رد المحتار: ج ۱ ص ۵۸۸/ الدر المختار: ج ۱ ص ۵۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



۲۵- د حرمینو شریفینو په امام پسي لمونځ نه کول لویه بې برخي ده، په ائمه اربعه کي د یوه تقلید واجب دی ځکه چي زموږ مشائخ او مشران علماء په اصولو او فروعو کي د امام المسلمین ابو حنیفة عین مقلدین دي، نو په حرمینو کي لمونځ په جماعت نه کول لویه بې برخي ده د حرمینو شریفینو امامان د امام احمد رحمه الله مقلدین دي اهل السنة دي، اوس که څه هم زموږ د دوی سره په ځینو مسائلو کي اختلاف سته خو دا نه چي په دوی پسي لمونځ نه کیږي په دوی پسی جماعت کول صحیح دي.(۱)

۲٦ -په عمره او حج کي صدقي خیراتونه او د یو بل خدمت کوئ له بې ځایه خبرو، شخړو او غیبتونو څخه ځانونه وساتئ تکالیف او سختی برداشت کړئ تقوا اختیاره کړئ.(۲)

۲۷- په مکه مکرمه او په هر ښار او کلي کي چي د پنځلس ۱۵ شپو نیت کړی وي نو دغه سړی مقیم بلل کیږي که یوائې

---

(۱) المهند على المفند ديوبند: ص ٤٢ آپ کے مسائل: ج ٤ ص ٥٧.

(۲) حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح: ص ٦٠٦/ ارشاد الساري: ص ٥٨٦.

ketabton.com - The Digital Library



لمونځ کوي او که په امام پسې يې کوي نو بايد فرضي لمونځ پوره څلور (۴) رکعته وکړي او هغه څوک چې د پنځلس ۱۵ شپو نيت يې نه وي کړی نو مسافر بلل کيږي، که يې لمونځ يوائې کوئ نو فرضي څلور (۴) رکعته لمونځ به دوه (۲) رکعته کوي يعني د ماپښين مازديګر او ماختن لمونځ به دوه – دوه رکعته کوي نو دې ته قصر وايي او دا قصر د مانبام په لمانځه کي، په وترو، په سنتو، په نفلو او د سهار په لمانځه کي نه کيږي نو د مسافر له پاره تر دوو رکعتو زياتوب مکروه دی.(۱) او حج کوونکی چې مکې مکرمې ته ورسي او بيا د ذي الحجې تر اتمې ورځې پورې پنځلس ورځې پاته وي نو دغه شخص مقيم بلل کيږي او لمونځ دې پوره کوي، خو که تر ۱۵ ورځو کمې ورځې وي نو دی مسافر بلل کيږي او لمونځ دې سفريانه کوي.(۲)

---

(۱) ولازال على حكم السفر حتى ينوي الاقامة في بلدة أو قرية خمسة عشر يوما أو أكثر، الهندية: ج ۱ ص ۱۴۸/ رد المحتار: ج ۱ ص ۵۸۳. و إن اقتدى مسافر بمقيم أتم أربعا، الهندية: ج ۱ ص ۱۴۲.

(۲) مبسوط سرخسي: ج ۲ ص ۱۰۸./ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۱۴۳.

ketabton.com - The Digital Library



## (د دم او صدقې بیان)

د حلالېدلو په وخت کې به بسم الله وایې که تر حلالېدلو وروسته د دغه حیوان غوښې غلا یا ورکې سي پروا نه کوي او که تر حلالېدلو مخکې ورکې یا غلا سي، یا یې یو چا ته ژوندی صدقه کړي نو نه صحیح کیږي او بل دم پر لازم دی دم به د حرم په ځمکه او حدودو کې حلالوي، که د حرم تر حدودو یې د باندې حلال کړي، نه دی روا د دم غوښې به پر مسکینانو باندې صدقه کوي او خپله یې خوراک نه دی روا که یې خپله وخوړې او یا یې خرڅې کړې نو د دغه خوړل سوي او خرڅ سوي قیمت ورکول پر لازم دی، د دغه دم غوښې به هغه فقیر ته ورکوي چې د ده زکات ورته صحیح کیږي که یې خپل مور پلار، انا، نیکه، زوی، لور، لمسیان، خپلې ښځې یا خپل خاوند ته د دغه دم غوښې ورکړي نو د دغه ورکول سوو غوښو قیمت به یو مسکین ته ورکوي او دغه حیوان به د دم په نیت حلالوي.(۱)

---

(۱) المبسوط: ج ۱ ص ۹۸/ غنیة الناسك: ص ۲٦۲/ فتاوی حقانیة: ج ۳ ص ٤۹۳/ معلم الحجاج ص ۲٦۹/ اللباب: ص ٤۳۱.

ketabton.com - The Digital Library



## (د دعاء آداب او د قبولیت اسباب)

د دعاء د قبلېدلو ځایونه او وختونه په لاندي ډول دي رسول الله ﷺ فرمایلي دي که څوک یو ځل پر ما درود شریف ووایي الله ﷻ پر هغه لس رحمتونه نازلوي، نو د هري دعاء څخه مخکي او وروسته د درود شریف ویونکي دعاء قبلیږي، ځکه چي حق تعالی ﷻ که یوائي د مخکي او وروسته (درود) دعاء قبوله کړي او د منځ دعاء قبوله نه کړي دا د هغه د کرم څخه ناممکنه ده یعني درود شریف حق تعالی قبلوي او د کریم ذات سره دا نه ښايي چي یوه دعاء قبوله کړي او بله قبوله نه کړي.(۱)

## (د دعاء د قبلېدو ځایونه)

کله چي پر کعبه شریفه سترګي ولګیږي، دعاء قبلیږي په دغه وخت کي به اول درې واره الله اکبر ووایي یعني الله ﷻ تر هر شي ډېر لوی دی او درې ځلي به لا اله الا الله ووایي د دې له

---

(۱) فان الكريم لا يستجيب بعض الدعاء و يرد بعضه الشامي: ج ۲ ص ۲۳۳.

ketabton.com - The Digital Library



پاره چي د ناخبره سړي دا ګمان نه سي چي عبادت د کعبې شريفي له پاره دی ځکه عبادت خو د الله ﷻ له پاره دی او د لوی څښتن تعالی کور ته راغلی يې د خدای شکرونه اداء کړه لاسونه پورته کړه د خپلو روا حاجاتو له پاره لوی څښتن تعالی ته په ژړا ژړا په خشوع او خضوع دعاء وکړه دغه لحظه د اجابت ده که هر څه غواړي الله ﷻ يې درکوي، په دعاء کي به اخلاص وي دعاء به يوازي د الله ﷻ څخه طلب کول وي لاسونه به په دعاء کي پورته کوي ځان ته به تر نورو دمخه دعاء کوي او په خپله مورنۍ ژبه به د زړه له اخلاصه په مناسبو الفاظو له خداي تعالی څخه غوښتنه کوي د خپلوانو او ټولو متعليقينو له پاره به دعاء کوي ځکه د يو مسلمان ورور دعاء د غائب په حق کي قبليږي.

نبي کريم ﷺ په يو حديث شريف کي فرمايي:

ketabton.com - The Digital Library



قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: «مَنْ دَعَا لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ: آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ».(١)

ژباړه: څوک چې خپل مسلمان ورور ته د هغه په غیاب کې دعاء کوي نو کومه ملکه (فرشته) چې د ده سره ملګرې ده هغه آمین پر وایي او وایي تا ته دي هم دده په شان دعاء ورسیږي.

تر هر څه د مخه به له الله ﷻ څخه جنت غواړي.(٢)

د کعبې شریفې د لیدلو په وخت کې په ولاړه باندې دعاء کول مستحب ده د دعاء له پاره د لاسونو د پورته کولو په هکله اختلاف دی خو محققینو علماؤ و حل داسې کړی دی چې مستحب دا ده چې د اول ځل په لیدلو کې به لاسونه پورته کوي او د هر ځل د لیدلو پر مهال به بیا لاسونه نه پورته کوي.(٣)

---

(١) مسلم عن أم الدرداء عن زوجها: رقم الحديث ٢٧٣٢.

(٢) الشامي: ج ٢ ص ١٧٩/ غنية الناسك: ص ٩٧/ فتح القدير: ج ٢ ص ٣٥٢/ حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ص ٦٠٣.

(٣) أقول الأولى الجمع بينهما بأن يحمل الإثبات على أول رؤية والنفي على كل مرة. مرقاة المفاتيح: ج ٥ ص ٤٩٤/ معلم الحجاج: ص ١٢٥/ منهاج السنن: ج ٢ ص ٦٧.

ketabton.com - The Digital Library



٢- په هر طواف کي دعاء قبليږي.

٣- د مقام ابراهيم شا ته دعاء قبليږي.

۴- پر صفا او مروا باندي دعاء قبليږي.

۵- په صفا او مروا کي د دوو زرغونو څراغونو پر برابر دعاء قبليږي.

۶- د زمزم د اوبو چښلو پر مهال دعاء قبليږي.

٧- په حطيم شريف کي تر ناوي لاندي دعاء قبليږي.

٨- پر ملتزم شريف دعاء قبليږي.

ملتزم د حجر اسود څخه بيا د کعبې تر دروازې پوري دغه ځای ته وايي.

٩- د رکن يماني او حجر اسود تر منځ دعاء قبليږي.

١٠- د حجر اسود د مسحه کولو سره دعاء قبليږي.

١١- بيت الله شريفي ته په کتلو سره دعاء قبليږي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲- د عرفات په ورځ په عرفات کې دعاء قبلیږي.

۱۳- په مزدلفه شریفه کې د درېدلو پر مهال دعاء قبلیږي.

۱۴- د اول او دوهم شیطان د ویشتلو وروسته دعاء قبلیږي.

۱۵- د فرضي لمونځونو څخه وروسته دعاء قبلیږي.

۱۶- د لیلة القدر په شپه دعاء قبلیږي.

۱۷- د آذان او اقامت تر منځ دعاء قبلیږي.

۱۸- د جمعې په ورځ دعاء قبلیږي په خاصه توګه د ماځیګر په اخري برخه کې.

۱۹- د روژه نیوونکي دعاء قبلیږي هم د روژې پر مهال او هم د روژه مات په وخت کې.

۲۰- د باران اورېدلو په وخت کې دعاء قبلیږي.

۲۱- د مسافر دعاء قبلیږي.

۲۲- د الله جل جلاله په نومونو او صفتونو سره هم دعاء قبلیږي.

ketabton.com - The Digital Library



۲۳- د شپې په وروستۍ یعني آخري دریمه برخه کې دعاء قبلیږي.

۲۴- رسول الله ﷺ په یو حدیث شریف کې فرمایي:(۱)

درې دعاوې ضرور قبلیږي:

۱- د پلار دعاء ۲- د مسافر دعاء ۳- د مظلوم دعاء.

دعاء یوازې د الله ﷻ څخه غوښتل او دعاء درې ځلې تکرارول الله ﷻ د دعاء حکم کړی دی او هم یې د قبلېدو وعده کړې ده ځکه بندګانو ته په کار ده چې تل د دعاء سره ځان عادت کړي، د مؤمن هره دعاء قبلیږي ځکه الله ﷻ یې وعده کړې ده، البته چې په هغه کې د ګناه او د خپلوي د پرېکولو غوښتنه نه وي او حرامه نفقه د دعاء د قبلېدو مخه نیسي.

(۱) أخرجه أبو داؤد:(١٥٣٤) والترمذي:(١٩٠٥) وابن ماجه:(٣٨٦٢) وأحمد:(٧٥٠١) ومشكاة المصابيح:(٢١٩٠).

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايلي دي:(١)

اي خلګو الله ﷻ طيب دی بې له پاکه او حلالي صدقې څخه بله صدقه نه قبلوي.

او د دعاء د قبلېدلو له پاره دا هم ضروري ده چي کوم څه په خوله غواړې او په هغه کي ځان الله ﷻ ته اړ او محتاج بولې، په زړه کي به هم ځان همداسي اړ او محتاج بولې او غوښتنه به يې لرې، ځکه الله ﷻ د غافل او په بل څه باندي د مشغول زړه دعاء نه قبلوي.

رسول الله ﷺ به همدغه دعاء ډېره زياته ويل:

«اللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِيْ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِيْ الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».(٢)

ژباړه: اې زموږ ربه ﷻ موږ ته په دنيا کښې نعمت راکړې او په اخرت کښې نعمت راکړې او د دوزخ له عذاب څخه مو وساتې.

---

(١) رواه مسلم عن أبي هريرة رضي الله عنه، رقم الحديث: ١٠١٥.

(٢) رواه مسلم: عن أنس رضي الله عنه رقم الحديث ٢٦٩٠.

ketabton.com - The Digital Library



او رسول الله ﷺ يو کس ته داسي دعاء وروښودله:

«اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ».(١)

ژباړه: اې الله ﷻ ته ما ته بخښنه وکړه پر ما باندي ورحمېږه او ما ته عافيت راکړه او ما ته رزق را کړه.

## (د مديني منورې بيان)

د رسول الله ﷺ ډېر لوړ مقام او منزلت دی الله ﷻ دومره لوړ مقام ورکړی دی چي خپله الله ﷻ او هم د الله ملائکي درود پر وايي او مؤمنانو ته هم الله ﷻ حکم کړی دی چي تاسو پر حضرت محمد ﷺ درود او سلام ووايا ست الله ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾(٢)

---

(١) رواه مسلم: رقم الحديث ٢٦٩٧.

(٢) سورة الأحزاب آيت (٥۶).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: یقینا الله او د هغه پرښتې پر پیغمبر ﷺ درود وایي ای مؤمنانو تاسي هم پر هغه درود او سلام ووایاست.

څرنګه چي په دغه آیه کریمه کي الله ﷻ په صلوة او سلام سره امر کړی دی نو باید همیشه پر نبی کریم ﷺ باندي درود او سلام ووایو او په خاصه توګه بیا په مدینه منوره کي ډېر درود شریف ویل په کار دي په مدینه منوره کي تر فرضو لمونځونو وروسته درود شریف ویل زیات فضیلت لري رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

﴿مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا﴾ (١)

ژباړه: که څوک یو ځلي پر ما باندي درود شریف ووایي الله ﷻ پر هغه باندي لس (١٠) رحمتونه نازلوي.

درود شریف ویل د الله ﷻ رحمت دی پر ایمان باندي د خاتمې کېدلو ذریعه ده او د رزق پراخي راولي.(٢)

---

(١) رواه مسلم عن أبي هريرة: رقم الحديث ٤٠٨.

(٢) خزينة الاسرار: ص ٢٠٧.

ketabton.com - The Digital Library



او په بل حديث شريف کي راځي چي رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿مَنْ زَارَنِيْ بَعْدَ مَوْتِيْ فَكَأَنَّمَا زَارَنِيْ فِيْ حَيَاتِيْ﴾(١)

ژباړه: څوک چي زما تر وفات وروسته زما زيارت وکړي هغه داسي دی لکه زما په ژوند کي چي زما زيارت وکړي او څوک چي زما زيارت وکړي د هغه له پاره زما شفاعت واجب دی.

په يو بل حديث کي رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

﴿مَنْ زَارَنِيْ كَانَ فِيْ جَوَارِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(٢)

ژباړه: کوم سړی چي زما زيارت وکړي، د قيامت په ورځ به زما همسايه وي.

---

(١) رواه البيهقي في شعب الايمان و منها قوله صلى الله عليه وسلم في الحديث: ﴿من زار قبري وجبت له شفاعتي﴾ سنن الدار القطني: ج ٣ ص ٣٣٤/ غنية الناسك: ص ٣٧۴/ الموسوعة الفقهية: ج ٢۴ ص ٨۴/ إعلا السنن: ج ٧ ص ٣۶٠١.

(٢) السنن الصغرى للبيهقي: ج ٢ ص ٢١١/ كنز العمال: ج ص ٥٣.

ketabton.com - The Digital Library



او په بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿ مَنْ حَجَّ الْبَيْتَ وَلَمْ يَزُرْنِيْ فَقَدْ جَفَانِيْ﴾(١)

ژباړه: څوک چې د بیت الله شریف حج اداء کړي او زما زيارت ونه کړي نو ده زما سره جفا وکړه.

### (افضل ذکر)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

﴿أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ، وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾(٢)

ژباړه: په ټولو ذکرونو کې غوره ذکر لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ دی او په دعاوو کې تر ټولو ښه دعاء اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ده.

### (د مدينې منورې فضائل)

د مدينې منورې فضائل ډېر زيات دي.

(١) كنز العمال: ج ٥ ص ٥٢ بيروت.

(٢) اخرجه الترمذي: رقم الحديث ٣٣٨٣، وابن ماجه: رقم الحديث ٣٨٠٠، والنسائي في سنن الكبرى: ١٦٦٧.

ketabton.com - The Digital Library



د مدينې منورې پاکوالی او د هغې عظمت يوائې له همدې خبرې څرګنديږي چې هغه په نبيانو کې د افضل نبي حضرت محمد ﷺ مسکن و او اوس د هغوی مدفن دی، دا يو داسې لوی فضيلت دی چې کوم بل ځای ته په نصيب نه دی، په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې يې ډېر صفتونه بيان سوي دي په قرآن کريم کې پنځلس ځايه د مدينې نوم راغلی دی چې څلور ځايه همدغه مدينه منوره ځني مراد ده، د مدينې منورې په هکله د رسول الله ﷺ دعاوي پردې دلالت کوي چې دا ښار د دنيا او آخرت د ښېګڼو درلودونکی دی رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

حضرت ابراهيم عليه السلام مکه حرم جوړ کړی وو او د هغې خلکو ته يې دعاوي کړي وې ما مدينه همدغسې حرم بللی دی او د هغې د غلې او رزق له پاره مې تر مکې دوه برابره زياتې د برکت دعاوي کړي دي او د مدينې منورې ښار به تر ټولو وروسته قيامت ته نزدې نړيږي.(۱)

---

(۱) صحيح البخاري: رقم الحديث ۲۱۲۹ وصحيح مسلم: رقم الحديث ۱۳۶۰.

ketabton.com - The Digital Library



له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د مدینې د دوو ډبرینو ډګرونو په منځ کې سیمه حرم دی.(۱)

پر دې بنسټ د نورو درو (۳) مذهبونو امامان او د سعودي عرب عالمان د مدینې منورې لپاره د مکې غوندې حرم ثابتوي.

د احنافو په اند مدینه منوره حرمت لري، حرم د خو د مکې د حرم غوندې نه دی. په مدینه منوره کې داسې کار جایز نه دی چې په هغه سره د دې سپیڅلي ځای سپکاوی وسي.(۲)

په مدینه منوره کې استوګنه مکروه ده، البته که څوک په مدینه منوره کې ادب او احترام په پام کې نیولای سي بیا هلته اوسیدل او مرګ لوی سعادت او ذریعه د شفاعت ده.

---

(۱) رواه البخاري: رقم الحديث ۱۸۷۳، ورواه مسلم: رقم الحديث۱۳۷۲.

(۲) مرقات ملا علي قاري: ج ۵ ص ۶۰۷.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مدينې منورې نومونه)

د مدينې منورې نومونه په احاديثو کې ډېر زيات راغلي دي مشهور يې مدينه ده، رسول الله ﷺ به له مدينې منورې سره دوندي مينه او محبت وو کله چې به په سفر ولاړی د بېرته راتلو پر مهال چې به مدينې منورې ته را نژدې سو د مدينې منورې پر آبادی به يې سترګې ولګېدې نو رسول الله ﷺ به له ډېره شوقه خپله سورلۍ چټکه کړه او و به يې ويل چې دا طابه راغله.(١)

او فرمايل به يې دا د طيبه هواګاني دي په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې چې به کوم صحابي د دوړو او ګرځ په وجه خپله خوله پټه کړه نو ده مبارک ﷺ به منع کول او فرمايل به يې چې د مدينې منورې په خاورو کې شفاء ده نبي کريم ﷺ فرمايلي

---

(١) صحيح البخاري: رقم الحديث ١٨٨٦.

ketabton.com - The Digital Library



دي چي ايمان به د مديني پر لور بېرته راوګرځي لکه مار چي خپل غار ته راځي.(١)

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

دجال به پر هر ښار تېرېږي خو مکې او مدينې ته به نه سي راتلای ملايکي به د دغو ښارونو حفاظت کوي.(٢)

حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي:

له مديني منوري څخه به بد خلک داسي باسي لکه پښن چي له اوسپني څخه زنګ باسي په کوره کي.(٣)

---

(١)﴿إِنَّ الإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا﴾، صحيح البخاري رقم الحديث ١٨٧٦/صحيح مسلم رقم الحديث ٣٧٤ .

(٢) صحيح البخاري: رقم الحديث ١٨٨٠/ صحيح مسلم: رقم الحديث ٣٣٥٠ .

(٣) صحيح البخاري: رقم الحديث ١٨٧١.

ketabton.com - The Digital Library



د مدينې په پاکه خاوره کې او د هغې په مېوه کې الله تعالی ﷻ د شفاء تاثير ايښی دی لکه څرنګه چې په حديث شريف کې راځي، نبي کريم ﷺ فرمايي:

چې مدينه زما د هجرت مقام دی هلته به زما دفن وي او له هم دې ځايه به د قيامت په ورځ زه راپورته کېږم څوک چې زما د همسايګانو يعني د مدينې د اوسېدونکو حقوق خوندي کړي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوم او د هغه د ايمان شاهدي به ورکوم.

په بل حديث شريف کې راځي:

څوک چې د مدينې د خلګو سره بد وکړي هغه به داسې ويلي سي لکه په اوبو کې چې مالګه ويلېږي.(١)

(١) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: ﴿مَنْ أَرَادَ أَهْلَ هَذِهِ الْبَلَدِ بِسُوءٍ أَذَابَهُ اللَّهُ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ﴾، رواه البخاري: رقم الحديث ١٨٧٧/ ومسلم: رقم الحديث ٣٣٥٨.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

کوم څوک چي په مدينه کي مړ سي د قيامت په ورځ زه د هغه شفاعت کوم او د هغه د ايمان شاهدي ورکوم.(١)

او په بل حديث شريف کي راغلي دي:

تر ټولو مخکي کومو خلګو ته چي زما شفاعت په برخه کيږي هغه به اهل مدينه وي تر دې وروسته به د مکې اهل وي او تر دې وروسته به د طائف اهل وي وروسته شفاعت د نورا امت او دا خبره ثابته ده چي د انسان مرګ به په هغه ځای کي وي چي خاوره يې د هغه ځای څخه اخيستل سوې وي(٢) او څرنګه چي په مدينه منوره کي مرګ يو خاص فضيلت لري نو په اعتبار د اولتوب د شفاعت ستاسو څخه دا غوښتنه کوم چي يوه ښه دعاء راته وکړئ چي په مدينه منوره کي د رسول الله

---

(١) جامع الترمذي: باب ما جاء في فضل المدينة، رقم الحديث ٣٩١٧.

(٢) ﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ﴾سورة طه:٥٥.

تفسير قرطبي: ج ١٦ ص ٨٠-٨١ وتفسير معارف القرآن: ج ٦ ص ١١٧-١١٨.

ketabton.com - The Digital Library



ﷺ په جواريت کي د ايمان سره په بقيع شريف کي دفن سم آمين.

کعب رضي الله عنه وايي چي هره ورځ اويا زره ۷۰۰۰۰ ملايکي د رسول الله ﷺ و قبر مبارک ته راکښته کيږي تر ماښامه پوري کښته وي او ماښام بيا بيرته پورته سي اويا زره ۷۰۰۰۰ نوري ملکي راکښته سي تر سهاره پوري کښته وي، دغه طريقه تر قيامت پوري جاري وي تر څو چي رسول الله ﷺ د حشرګاه په ورځ په اويا زره ملايکو کښي را پورته سي.(۱)

مديني منورې ته د رسول الله ﷺ د زيارت مبارک په نيت ورتلل سنت مؤکد او د واجب مرتبې ته نژدې دی مديني منورې ته د رسول الله ﷺ د زيارت مبارک په نيت ورتلل افضل دي. زيارت کوونکي دي د رسول الله صلی الله عليه

(۱) مشکوة شريف: ج ۲ ص ۵۴۶/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۳۵۶.

ketabton.com - The Digital Library



وسل د روضې قصد او نیت وکړي، د نبوي مسجد زیارت هم د هغه په ضمن کي کېدلای سي.(۱)

د انسان په ژوند کي دا لوی سعادت دی چي د رسول الله ﷺ د مقدسي روضې شریفي او د مسجد نبوي شریف له پاره مدیني منورې ته ولاړ سي نیت به خاص د الله ﷻ رضا وي د خالص نیت نخښه دا ده چي فرائض او سنن ځني قضا نه سي.(۲)

د حضرت محمد ﷺ مبارک دربار ته د حاضرېدو برکتونه او فضیلتونه به زه څنګه بیان کړم د دې مقدس او متبرک ښار هر غر او هره غټه غونډۍ، هره شېله، هره کوڅه له برکت او فضیلته ډکه ده.

(۱) الطحاوي على مراقي الفلاح: ص ۷۴۵/ الشامي: ج ۲ ص ۲۷۹/ فتح القدير: ج ۳ ص ۹۴.

(۲) مرقات المفاتیح ملا علي قاري: ص ۵۰۳.

ketabton.com - The Digital Library



او د رسول الله ﷺ پر روضې شريفې د توسل نيت وکړئ، د دې مقام څخه پورته به بل د توسل او تقرب ستره وسيله چيرې وي!

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زه په قبر کې ژوندی يم او رزق راکول کيږي، همدا راز ټول انبياء عليهم السلام په قبرونو کې ژوندي دي(١)، د شهيدانو په اړه هم الله ﷻ فرمايي:

﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ﴾(٢)

ژباړه: کوم کسان چې د الله ﷻ په لار کښې وژل سوي دي هغوی مړه مه کنی، هغوی خو په حقيقت کښې ژوندي دي د خپل رب په وړاندې روزي مومي.

---

(١) رواه ابن ماجة عن أبي الدرداء: ج ١ ص ٥٢٤، رقم الحديث ١٦٣٧.
(٢) سورة آل عمران (١٦٩) آيت.

ketabton.com - The Digital Library



د رسول الله ﷺ مقام ډېر لوړ دی، د هغه په حضور کې باید څوک په لوړ آواز ونه ږغیږي بلکي په ډېر ادب او ټیټ آواز به خبري کوي، ځکه الله ﷻ حکم کړی دی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آَمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ﴾(١)

ژباړه: اې مؤمنانو خپل آواز د پیغمبر ﷺ د آواز څخه مه پورته کوئ او مه له پیغمبر ﷺ سره په لوړ ږغ خبري کوئ لکه څنګه چي په خپلو منځو کښي یو له بل سره په لوړ ږغ خبري کوئ، هسي نه چي ستاسي ټول عملونه ضایع سي او تاسي خبر هم ونه اوسئ.

لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ په ژوند کي د هغه په حضور کې آواز پورته کول یعني په زوره په زوره خبري کول منع دي همدا راز د هغه د وفات څخه وروسته د روضې مطهرې سره په لوړ آواز ږغېدل که څه هم دعاء او سلام وي منع دي څرنګه چي

---

(١) سورة الحجرات (٢) آیت.

ketabton.com - The Digital Library



د رسول الله ﷺ زیارت یو لازمه وظیفه ده نو چې د هره ځایه ځخه دي د رسول الله ﷺ د زیارت اراده وي نو ستا وظیفه به تړوله لار درود شریف ویل وي کوم وخت چې دي سترګي د مدینې منورې د ښار پر آبادی او باغونو باندي ولګیږي نو د دنیا او آخرت دعاوي به کوې او درود شریف به ډېر وایې چې هر کله مدینې منورې ته ورسیدې خپله کوټه به ونیسې خپل سامان به هلته کښیږدې خپل فکر او زړه به آرام کړې که بې خوبه وې خپل خوب به وکړي چې فارغه سوې ښه دا دی چې غسل وکړې په خپل کوټه کي د زیارت د احترام له پاره که درته آسانه وي او که نه وي، بیا به اودس تازه کړې نوي جامې به واغوندې که نوي جامې نه وي، بیا به پرېولي کالي واغوندې او عطر به په ځان ووهې په ډېره عاجزي او ادب سره به د مسجد نبوي شریف خواته روانسې درود او سلام به ډېر وایې.(۱)

کله چې مسجد نبوي ته ننوزئ د هغه د عظمت ځخه مه غافله کېږئ ولي چي دا د وحیو د نازلېدو او د رحمت ځای دی او د

(۱) الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ۶۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



حضرت رسول الله ﷺ مسجد دی، دې مسجد ته د ننوتلو پر مهال که څه هم د لږ وخت له پاره وي باید د اعتکاف نیت وکړئ ولې چې په مسجد حرام او مسجد نبوي کې اعتکاف کول مستحب دی، روژه نیول نه غواړي په صلاة او سلام په ذکر و تلاوت ځان اخته کړئ.(۱)

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

څوک چې زما دغه مسجد ته ننوزي او د خیر کار په ښوولو او یا زده کولو بوخت سي دوندې ثواب لري لکه د خدای په لار کې چې جهاد کوي.

البته څوک چې د نورو شیانو له پاره هلته ورځي مثلاً د خلکو سره د لیدلو له پاره یا به څوک وینم یا به مې ووینې یعنې د مجلس او خبرو له پاره ننوزي داسې مثال لري لکه د نورو

---

(۱) غنية الناسك: ص ۱۳۸/ الهندية: ج ۱ص ۲۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



خلکو ښائسته شیانو ته چي ګوري او خوښیږي یې خو وررسیږي نه.(۱)

او مسجد نبوی شریف ته پر باب جبرائیل دروازه ننوتل افضل دي خو اکثریت وخت د باب جبرائیل دروازه بنده وي نو پر باب السلام یا بله هره دروازه چي وي ور ننوزي، د داخلیدو پر مهال به راسته پښه دمخه کړئ او دا دعاء به وو ایاست:

«بِسْمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ رَبِّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوبِيْ وَ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»(۲)

ژباړه: شروع کوم د الله په نامه سره درود او سلام دي وي پر رسول الله ﷺ اي لویه څښتنه زما ګناه را وبخښه او زما له پاره خپل د رحمت دروازې خلاصي کړه.

(۱)رواه ابن ماجة: رقم الحديث ۲۲۷.

(۲) غنية الناسك: ص ۳۷۶/ اللباب مع الشرح: ص ۵۵۷/ الفتاوى الهندية: ج ۱ ص ۲۲۵.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې مسجد نبوی شریف ته ننوزي که مکروه وخت نه وي اول به دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ وکړي په ټوله مسجد نبوي شریف کې صحیح دی، خو ښه دا دی چې په ریاض الجنة د رسول الله ﷺ د منبر سره نژدې وسې په دې شرط چې ګڼه ګونه به نه وي، که وخت کم وي او یا د فرضي لمانځه جماعت ولاړ وي په دغه وخت کې به يې نه کوې او تحیة المسجد په دغه فرض لمانځه باندې اداء کیږي.(۱)

له تحیة المسجد څخه تر سلام ګرځولو وروسته چې فارغه سوې نو پر همدغه لوی نعمت الله ﷻ ته د شکر سجده اداء کړئ، زموږ د حنفي علماوو په نزد دلته د شکر سجده کول جائز ده یا د شکرانې په نیت دوه رکعته لمونځ وکړئ.(۲)

## (ریاض الجنة)

ریاض الجنة د روضې شریفې په نامه یادیږي د نبوي مسجد په همدغه برخه کې د منبر څخه بیا د رسول الله ﷺ تر کوره

---

(۱) غنیة الناسك: ص ۳۷۷/ اللباب مع الشرح: ص ۵۵۸.

(۲) رحمت بیان ص ۲۹۸/ شرح لباب ص ۵۰۷/ فتح القدير: ج ۳ ص ۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



يعني د ختيځ خوا ته د مسجد نبوي سره موښتې ده، دا برخه رسول الله ﷺ د جنت د باغچو څخه يو باغچه بللې ده، په حقيقت کې د جنت يوه ټوټه ده چې دې دنيا ته را نقل سوې ده او د قيامت په ورځ به دا ځاى و جنت ته ور شامليږي دا برخه اوس په زرغونو غاليو فرش ده لکه ټول مسجد نبوي شريف چې مخکې په سپينو رنګو غاليو فرش وه.

ابو هريرة رضي الله عنه روايت کړى دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

﴿مَا بَينَ بَيْتِيْ وَمِنْبَرِيْ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، وَمِنْبَرِيْ عَلٰى حَوْضِيْ﴾(١)

ژباړه: زما د کور او منبر تر منځ د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده او زما منبر پر حوض کوثر دى او د منبر بنياد په جنت

---

(١) مجمع الانهر: ج ١ ص ٣٧٨ ، رواه البخاري: رقم الحديث ١١٩٦ ، رواه مسلم: رقم الحديث ١٣٩١.

ketabton.com - The Digital Library



کې دی، دلته په دغه رياض الجنة کې چې د جنت ځمکه ده که وخت پيدا سي نو نفل کول د جنت په ځمکه کې زيات ثواب لري، څرنګه چې الله ﷻ و حضرت ابراهيم عليه السلام ته حجر الاسود د جنت څخه ورکړی چې خليل الله دی دغسې يې حضرت رسول الله ﷺ ته روضه شريفه ورکړې چې حبيب الله دی او روضه شريفه ټوله شل (۲۰) ستون ده څلور ستونه په عرض ده پنځه ستونه په اوږدو ده هر ستون او هر ځای د روضې شريفې د رسول الله ﷺ د لمونځو ځای دی، يا د اصحابو دی يو ځای هم د روضې شريفې د فضيلت څخه خالي نه دی نو بايد ځان په مشرف کړو.(۱)

۱ فتح القدير: ج ۳ ص ۹٦ ، الهندية: ج ۱ ص ۲٦٦.

ketabton.com - The Digital Library



په روضة شريفة کې د مسجد نبوي شريف (۸) ستونونه خاص فضيلت لري چې پر هر ستون لوړ خپل نوم په ژړ (ذهبي) رنګ نوشته دي.(۱)

۱- ستون: چې اسطوانة المخلقة يې بولي يا په بل نوم باندې اسطوانة الحنانة هم بلل کيږي دا ستون (تنبه) د محراب نبوي په څنګ کې متصل د هغه خورما د تنې پر ځای ولاړ دی چې د هغه ستون سره به حضرت رسول الله ﷺ خطبه ويل او کله چې منبر مبارک جوړ سو او حضرت رسول الله ﷺ د خطبې ويلو له پاره منبر ته وختی د حضرت رسول الله ﷺ د فراق په وجه د دغه تنې څخه د ژړا او پرياد اواز راپورته سو حضرت رسول

---

(۱) وفاء الوفاء: ج ۱ ص ۲۶۳/ معراج الحجاج والمعتمرين: تأليف مولوي ګل رحمان حقاني ص ۳۲۰.

ketabton.com - The Digital Library



الله ﷺ بیرته د منبر مبارک څخه راکښته سو دغه تنه یې په لاس مبارک سره مسح کړه او هغه ارامه سوه او بیا بیرته منبر مبارک ته وختی.(۱)

۲- ستون: چې أسطوانة عائشة رضی الله عنها بلل کیږي دغه ستون په منځ د روضې شریفې کې دی د منبر د لمر خاته خوا ته دریم ستون دی او د قبر مبارک د قبلې له طرفه دریم ستون دی او حضرت رسول الله ﷺ دلته فرضې لمونځ کوی او ډیرو مبارکو (افاضیل) صحابه کرامو دلته لمونځونه کړي دي او د حضرت رسول الله ﷺ روایت دی چې زما په مسجد کې داسې یو ځای سته که د خلکو په هغه ځای باندې علم راسې بیا به بل ځای لمونځ ونه کړي، حضرت عائشة رضی الله تعالی عنها فرمایي چې هغه ځای دغه ستون دی چې ځای د

(۱) وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۳۹/ تاریخ مدینة المنورة: ص ۳۲/ خلاصة فضائل مدینة المنورة: ص ٦٥ الشیخ ملا عبد الغني رحمه الله.

ketabton.com - The Digital Library



قبلیدو د دعاوو دی دغه ستون دري نومه لري ۱- أسطوانة العائشة ۲-أسطوانة المهاجرين ۳-أسطوانة القرعة.(۱)

۳- ستون: أسطوانة ابي لبابه يي بولي داهغه ستون دی چي ابولبابة رضي الله تعالی عنه خپل ځان د توبي د قبليدو له پاره پوري تړلی وو دا ستون د منبر مبارک د خوا څخه څلورم ستون دی او د قبر مبارک د خوا څخه دوهم ستون او د قبلي د خوا څخه دريم ستون دی دغه ستون پنځه فضيلته لري.

۱- حضرت رسول الله ﷺ به د سهار لمونځ په محراب کي اداء کړی بیا به و دغه ستون ته راتلی.

۲- حضرت رسول الله ﷺ به سنن او نوافل په مسجد شريف کي پر دغه ځای اداء کول.

۳- چهارپايي د اعتکاف به يي کله دلته وه.

---

(۱) اخبار مدينه ص ۹۱/ وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۴۰/ فتح الباري: ج ۱ ص ۵۵۷/ تاريخ مسجد النبوي الشريف: ص ۱۲۵/ خلاصة فضائل المدينة المنورة: ص ۶۴ الشيخ ملا عبد الغني رحمه الله.

ketabton.com - The Digital Library



۴- حضرت رسول الله ﷺ به تکیه دغه ستون ته کول چي مخ مبارک به یې قبلې او شا به یې دغه ستون د ابي لبابة ته وه.

۵- څرنګه چي حضرت رسول الله ﷺ د تبوک غزا ته ولاړی ابولبابة او د ده ملګري چي تقریباً لس نفره وه، نه ولاړه بیا ابولبابة او ملګرو یې ډیره پښیماني کوله په دغه مخالفت، بیا یې وویل چي امید سته چي الله بخښنه راته وکړي د دغه تبوک غزا ته د نه تلو، راځئ چي د حضرت رسول الله ﷺ څخه بخښنه وغواړو بیا به ځانونه په ستونانو د حرم شریف وتړو چي الله جل جلاله هم بخښنه راته وکړي نو ټولو ځانونه په یوه یوه ستون پوري وتړل مشر د دوی ابو لبابة صاحب و هغه په دغه ستون پوري ځان وتاړه چي بیا یې توبه قبوله سوه.(۱)

(۱) السنن کبری: ج ۵ ص ۲۴۷/ الموسوعة الفقهیة: ج ۲۷ ص ۲۴۷/ تاریخ مسجد النبوي الشریف: ص ۱۲۷/ خلاصة فضائل مدینة المنورة: ص ۶۶/ الشیخ ملا عبد الغني رحمه الله ، تفسیر المعارف: ج ۴ ص ۳۱۵.

ketabton.com - The Digital Library



۴- ستون: أسطوانة السرير دی. دا هغه ستون مبارک دی چي د حضرت رسول الله ﷺ چهار پايي د اعتكاف د استراحت له پاره په وخت کي دلته ايښودل کېده نو ځکه په أسطوانة السرير سره يادېږي او دا چهار پايي د خرما د رسی څخه جوړه وه او دا ستون د حجره شريفي سره موښتی دی د أسطوانة ابي لبابة په شرق طرف کي د هغه اوسپني د پنجري سره متصل ولاړ دی.(۱)

۵- ستون: أسطوانة المحرس دی يا په بل نوم أسطوانة امير المؤمنين علي بن ابي طالب، دا هغه ستون دی چي د حضرت علي کرم الله وجهه د لمانځه او ناستي ځای وو چي د حضرت رسول الله ﷺ د پيري له پاره مخامخ پر حجرو مبارکو

(۱) صحيح البخاري: ج ۱ ص ۳۷۱/ وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۴۷ داراحياء التراث العربي الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۲۴۷/ تاريخ مسجد النبوي الشريف: ص ۱۳۰/ خلاصة فضائل مدينة المنورة: ص ۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



کښېنستی او دا ستون د أسطوانة ابولبابه په شمال کي د أسطوانة السرير په څنګ کي ولاړ دی.(۱)

۶- ستون: أسطوانة الوفود دی، حضرت رسول الله ﷺ د راغلو وفدو عسکري، جهادي مشرانو او جليل القدر اصحاب کرامو سره پر دغه ځای مشوره کوله نو ځکه دا ستون په وفود سره مشهور دی او دا ستون د أسطوانة المحرس په شمالي طرف کي ولاړ دی.(۲)

۷- ستون: أسطوانة التهجد دی چي رسول الله ﷺ د دي ستون سره د تهجد د شپي لمونځ کوی او دا ستون شمالي طرف ته د بي بي فاطمة رضی الله عنها د کور شا ته ولاړ دی.(۳)

(۱) معالم دار الهجرت ص ۶۰/ وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۴۸/ وتاريخ مسجد النبوي الشريف ص ۱۳۰/ خلاصة فضائل مدينة المنورة ص ۷۰/ الشيخ ملا عبد الغني رحمه الله.

(۲) وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۴۹/ غنية الناسك: ص ۳۸۲/ خلاصة فضائل مدينة المنورة: ص ۷۱ الشيخ ملا عبد الغني رحمه الله.

(۳) صحيح مسلم: ج ۱ ص ۱٦٦/ غنية الناسك: ص ۳۸۲/ وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۵۰.

ketabton.com - The Digital Library



۸- ستون: أسطوانة مربعة القبر يا په بل نوم اسطوانة مقام جبريل عليه السلام هم بلل کيږي چي حضرت جبريل عليه السلام به دلته تشريف راوړی دا ستون چي اوس په دننه کي د آبادی د حجرې شريفي په شرقي طرف کي د أسطوانة الوفود په صف کي ولاړ دی.(۱)

مواجهي شريفي او روضي شريفي ته ستا ورتګ تر محبت پوري اړه لري که دي محبت په حقيقت کي درلودی نو زيارت ته به ډېر ورځې هر څونه چي ډېر ورځې هغومره به دي محبت ورسره ډېريږي که د روضې مبارکي شوق لرې نو د ماخستن د لسو بجو ۱۰:۰۰ څخه وروسته چي ورسي هر ځای چي دي زړه غواړي هلته لمونځ کولای سي.

په دې رياض الجنة کي چي به رسول الله ﷺ امامت کاوه پر دغه ځای اوس يو ښائسته محراب جوړ سوی دی چي ورته نبوي محراب ويل کيږي د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته

---

(۱) وقد حُرِمَ الناسُ الصلاةَ إلى هذه الأسطوانة، إدارةَ الشُّبَّاكِ الدائرِ على الحجرةِ الشريفةِ، وغلقِ أبوابِها، وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۴۵۰.

ketabton.com - The Digital Library



د رسول الله ﷺ د مصلي په برکتمن ځای کې د تعظیم ساتلو په غرض حضرت ابو بکر رضي الله عنه د نبي کریم ﷺ د لمانځه کولو پر ځای دېوال جوړ کړی د پښو مبارکو ځای یې پرېښودی ترڅو د ده مبارک د سجدې ځای دخلګو تر پښولاندې د راتلو څخه خوندي سي، اوس چې امام د رسول الله ﷺ د مصلی پر ځای لمونځ کوي په سجده کې د ده تندی د رسول الله ﷺ د پښو مبارکو پرځای راځي.(۱)

تر تحیة المسجد کولو وروسته په ډېر آدب او درناوي د رسول الله ﷺ مرقد مبارک ته ورسې مخامخ به په عاجزۍ او حیا د زړه په بشپړ حضور سره ودرېږې کښته به د حجرې مبارکې دېوال ته وګورې او اندامونو ته به حرکت نه ورکوي او د دنیاوي او نورو وسوسو څخه به خپل زړه را فارغه کړې پر خپل عادي ولاړه به ودرېږې د نورو مسلمانانو به ډېر خیال ساتې چا ته به تکلیف نه ورکوي او سر به کوږ نه نیسي او داسې فکر به کوي چې رسول الله ﷺ حاضر او ناست دی ما ته ګوري زما

(۱) د حج او عمرې مسئلې: مولانا محمد رفعت قاسمي حفظه الله ص ٤٣٩.

ketabton.com - The Digital Library



په درېدو او سلام ويلو خبر دی د هر سلام جواب په وعليکم راته وايي، د رسول الله ﷺ شرف او قدر به دي په زړه کي وي او پر دوه متره اندازه به ودرېږې او تر دغه به نه ورنژدې کېږې په ميانه آواز سره چي تر قبر مبارک پوري رسيږي نه په ډېر لوړ او نه په ډېر کښته آواز سره به په دغه الفاظو پر رسول الله ﷺ صلوة او سلام ووايي:

«السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا حَبِيبَ اللّٰهِ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ رَسُولُ اللّٰهِ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ أَرْسَلَكَ اللّٰهُ لَنَا رَحْمَةً،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَيرَ خَلْقِ اللّٰهِ،

ketabton.com - The Digital Library



الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ الْمُرْسَلِينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا إِمَامَ الْمُتَّقِينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا شَفِيْعَ الْمُذْنِبِينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا بَشِيراً يَا نَذِيْرًا،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُبَشِّرَ الْمُحْسِنِينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَاتَمَ النَّبِيِّينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلَى سَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينْ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ الطَّاهِرِيْنَ،

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلَى أَزْوَاجِكَ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينْ،

وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلَى آلِكَ وَأَصْحَابِكَ وَأَتْبَاعِكَ وَجَمِيْعِ أَمْوَاتِ الْمُسْلِمِينْ، وَعَلَيْنَا مَعَكُمْ أَجْمَعِينْ، آمِينْ، اللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ هَذَا آخِرَ

ketabton.com - The Digital Library



**الْعَهْدِ بِقَبْرِ نَبِيِّنَا عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَارْزُقْنَا الْعَوْدَ إِلَيْهِ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ».(١)**

بیا نو خپلې دعاوې وکړه!

او یو گز به پر راسته طرف لیرې سې پر ابو بکر صدیق رضي الله عنه به سلام وو ایاست:

**«السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُولِ اللّٰهِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا وَزِيْرَ رَسُولِ اللّٰهِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللّٰهِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَفِيَّ رَسُولِ اللّٰهِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ثَانِيَ اثْنَيْنِ فِيْ الغَارِ،**

**وَرَفِيْقَهُ فِيْ الْأَسْفَارِ، وَأَمِيْنَهُ فِيْ الْأَسْرَارِ، وَعَلَمَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ،**

---

(١) الهندية: ج ١ ص ٢٦٥/ إعلاء السنن: ج ٧ ص ٣٦١٩/ مجامع المناسک: ص ٦٥٠/ مجمع الانهر: ج ١ ص ٣٧٩ (طبع دار الاحياء).

ketabton.com - The Digital Library



**جَزَاكَ اللّٰهُ عَنْ رَسُولِهِ وَعَنِ الْإِسْلَامِ وَأَهْلِهِ خَيرَ الْجَزَاءِ».(١)**

بیا به یو گز خپل پر راسته طرف لیري سي پر عمر فاروق رضي الله عنه به سلام ووایاست:

**«السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنينَ، عُمَرَ الفَارُوْقَ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ثَانِيَ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللّٰهِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ أَعَزَّ اللّٰهُ بِكَ الْإِسْلَامَ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سِرَاجَ أَهْلِ الْجَنَّةِ،**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ قَالَ فِيْ حَقِّكَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيرٌ مِنْ عُمَرَ".**

**السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ عَاشَ حَمِيْدًا، وَخَرَجَ مِنَ الدُّنْيَا شَهِيْدًا،**

**جَزَاكَ اللّٰهُ عَنْ نَبِيِّهِ وَخَلِيْفَتِهِ وَأُمَّتِهِ خَيرَ الْجَزَاءِ».(٢)**

---

(١) الفتاوى الهندية : ج ١ ص ٢٦٦ ، فتح القدير: ج ٣ ص ٩٥.

(٢) فتح القدير: ج ٣ ص ٩٥.

ketabton.com - The Digital Library



که یو چا درته ویلي وه چي زما له طرفه پر رسول الله ﷺ سلام ووایه نو د دغه سلام رسول واجب دي او داسي به یې ووایې چي د فلاني کس چي د فلاني زوی دی د هغه له طرفه څخه دي پر تا باندي سلام وي یا رسول الله ﷺ.(۱)

که یو چا یا ډېرو خلګو د سلام درته ویلي وي او ستا د هغه یا د پلار نوم نه وي په یاد نو دغه سلام به داسي ووایې چي د ټولو هغه خلګو له طرفه دي پر تا باندي اې رسول الله ﷺ سلام وي چي ماته یې ستا له پاره د سلام ویلي وه:

«السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مِنْ جَمِيْعِ مَنْ أَوْصَانِيْ بِالسَّلَامِ عَلَيْكَ».(۲)

پس له درود او سلام ویلو به په مواجهه شریفه کي شا و قبر مبارک ته نه ګرځوي چي دعاء کوي ولي چي رسول الله ﷺ خپله قبله د دعاء ده.(۳)

---

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۲٦٥/ فقه على المذاهب الأربعة: ج ۱ ص ٦٤٠.

(۲) معلم الحجاج ص ۳۲۷/ الفتاوي الهندية: ج ۱ ص ۲٦٦.

(۳) ولا يستدبر القبر المقدس في صلوة ولا غيرها/ مجامع المناسك: ص ٦٥٤/ اللباب: ص ٥٦٧/غنية الناسك: ص ۳۸۲.

ketabton.com - The Digital Library



د رسول الله ﷺ قبر مبارک ته چې دعا کوئ لاسونه مه پورته کوئ چې هلته عسکر ولاړ دي خلک نعرې درباندي وهي، چې مخ کعبې ته کړې بیا چې لاسونه پورته نه کړې بیا کار نه درلري او که په مواجهه شریفه کي ګڼه ګوڼه وه بیا د روضي شریفي له خوا څخه خپل صلوة او سلام ووایاست!

د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د خلافت په دوه (۲) کاله دوره کي او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په لس (۱۰) کاله دوره کي او د سیدنا عثمان رضي الله عنه د خلافت تر دریم (۳) کال پوري چې دغه درې دورې پنځلس کاله کیږي ټولو صحابه کرامو د روضي شریفي له خوا صلوة او سلام وایه.

امام ابو حنیفة رحمة الله علیه د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت کوي چې ابن عمر رضي الله عنهما فرمایلي دي: د رسول الله ﷺ د قبر مبارک سنت طریقه دا ده چې شا و قبلې ته کړه مخ د ده مبارک و قبر ته کړه راسته لاس پر چپه لاس کښېږده نو سلامونه ووایه.

ketabton.com - The Digital Library



او د امام ابو حنیفة صاحب د مذهب مطابق د حجرې مچول او پر هغه ځان منښلول یا مچول د پنجرو او دیوالو مسح کول او کوږ مغزی نیول یا لاسونه ورته پورته کول یا سر ورته ټیټول جائز نه دي دغه کارونه شیعه ګان کوي او ځیني ښځي یې کوي دغه کارونه د ادب خلاف او بدعت دی د نبي کریم ﷺ پر قبر یا پر هر قبر چي وي طواف پر کول او یا د قبر لور ته لمونځ کول جائز نه دي، ځکه رسول الله ﷺ په خپله د یوه لا شریک الله جَلَّ جَلَالُهُ له پاره د عبادت او سجدې کولو تبلیغ کړی دی دغه عبادت یې یوازې د کعبې شریفې خوا ته خاص کړی دی هغه هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نامه.(۱)

په مواجهه شریفه کي چي کوم درې سورې مخامخ دي، اول غټ سوری د رسول الله ﷺ د قبر برابري ده، دوهم سوری د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د قبر برابري ده دریم سوری د عمر فاروق رضي الله عنه د قبر برابري ده.

---

(۱) فصل زيارة الأولين والآخرين: ج ۱ ص ۲۶۳ ط: دارالتراث العربي، بيروت.

ketabton.com - The Digital Library



چا ته چي د اوږدو سلامونو د ویلو وخت نه پیدا کیږي یا یې نسي یادولای یا جماعت دریږي یا بل کوم ضرورت وي نو هغه ته په ډېرو لنډو الفاظو لارښوونه سوې ده، د صلاة او سلام کومي صیغي او کلمې چي راغلي دي دا د علماوو کرامو له خوا غوره سوي دي خو په دې کلمو کي کوم خاص تحدید او تاکل نسته کوم صلاة او سلام چي چا ته غوره وي د زیارت کوونکي خوښ وي هغه دي ووایي، خو داسي الفاظ چي د رسول الله ﷺ د شان سره ښایي.(۱)

په مسجد نبوي شریف کي که چیري ګڼه ګونه وه چي هر چیري ودریږي هلته درود او سلام ووایاست رسول الله ﷺ یې اوري.(۲)

---

(۱) ومن ضاق وقته عما ذكرنا أو عجز عن حفظه اقتصر على بعضه و أقله السلام عليك يا رسول الله، غنية الناسك: ص ۳۷۹/ فتح القدير: ج ۳ ص ۹۵.

(۲) تذكرة الخليل ص ۳۹۸/ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: ﴿إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ، يُبَلِّغُونَ عَنِّي سَلَامَ أُمَّتِي﴾، وهو حديث صحيح رواه النسائي: رقم الحديث ۱۲۸۲.

ketabton.com - The Digital Library



هر کله چې د رسول الله ﷺ د قبر په مقابل کې تېرېږئ که په مسجد نبوي کې یاست یا دباندې یاست ورته ودرېږئ او سلام ورته اداء کوئ.

په مسجد نبوي شریف کې دننه و حجرې مبارکې ته یا د مسجد څخه و زرغونې ګنبدې ته یا د دباندې څخه و زرغونې ګنبدې ته کتل عبادت دی.(۱)

کله چې له سلامونو څخه فارغه سوې څه چې له الله تعالی څخه غواړئ د رسول الله ﷺ په وسیله یې وغواړئ او د رسول الله ﷺ شفاعت طلب کړئ.(۲)

تر څه وخته چې په مدینه منوره کې اوسې تر خپل طاقته روژې نیسئ که څه هم مسافر یاست د خپل توان او طاقت مطابق فقیرانو ته خیرات ورکوئ او په نبوي مسجد کې لږ تر لږه یوه شپه په ویښه تېره کړئ تر څو د الله جل جلاله عبادت وکړئ خو پام

(۱) معلم الحجاج ص ۳۲۵/ ملا علي قاري ص ۵۶۰/ غنية الناسك: ص ۳۸۲.

(۲) فتح القدير: ج ۳ ص ۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



کوئ چي د لمونځ کوونکو مخ ته تیر نسئ ځکه: چي دا ډېره لویه ګناه ده.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

که د لمانځه و مخ ته تېرېدونکی پوه سي چي دا عمل څومره ګناه لري نو دی به ودرېږي څلوېښت؛ هغه راوي وايي چي زه نه پوهیږم چي (۴۰) کاله، یا (۴۰) میاشتي او که يې (۴۰) ورځي وویل لکن ابو هریره رضي الله عنه وايي چي (۴۰) کاله دي چي خلک وبیریږي.(۱)

په حرمینو شریفینو کي او په ټوله دنیا کي د لمانځه مختته مه تېرېږئ بې له طوافه چي بیان يې مخکي سوی دی د دغه ځینو

(۱) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ، لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ.﴾ قَالَ أَبُو النَّضْرِ: "لَا أَدْرِي، قَالَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، أَوْ شَهْرًا، أَوْ سَنَةً." متفق عليه صحيح البخاري: رقم الحديث ۵۱۰/ صحيح مسلم: رقم الحديث ۵۰۷.

ketabton.com - The Digital Library



خلکو په قول مه کوئ چي وايي په حرمينو شريفينو کي پروا نه لري.

## (د جماعت د لمانځه بيان)

د جماعت لمونځونو ته کوښښ کوئ چي هر وخت حاضر سئ، رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

د جماعت لمونځ تر يوازي لمانځه اوه ويشت درجي فضيلت لري.(١)

پنځه لمونځونه په جماعت اداء کول زموږ د امامانو د صحيح قول له مخي واجب دي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تر ټولو درانه او سخت لمونځونه پر منافقينو باندي د ماخستن او د سهار لمونځونه دي او که دوی ته د دغو دوو لمونځونو ثوابونه معلوم وای نو بيا به پر ښکېدو هم ورته راتللای او

(١) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: ﴿صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً﴾ رواه البخاري: رقم الحديث ٦٤٥.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي چي ما قصد کړی وي چي د لمانځه د اداينې حکم وکړم اقامت يې وسي او بيا يو څوک امر کړم چي خلکو ته لمونځ ورکړي او زه څه کسان چي لرګي ورسره وي د ځان سره بوخم، هغوی خلکو ته ورسو چي د جماعت لمانځه ته نه حاضريږي د هغوی کورونه په اور وسوزم.(۱)

رسول الله ﷺ پر خپل امت ډير مهربان دی البته څوک چي لمونځ په جماعت نه اداء کوي د هغو څخه ناراضه کيږي.

د جماعت په لمانځه کي د خلکو له پاره حکم دا دی چې:

د ښځو څخه به په جلا د مخ په صفو کي ودريږي که چيري د خلکو څخه مخته ښځي پوره صف ولاړي وي، د شا په صف کي د يوه نارينه لمونځ کول هم په امام پسي نه صحيح کيږي، او که چيري يوه يا دوې ښځي د مخ په صف کي ولاړي وي نو

(۱) صحيح البخاري: ج ۱ ص ۱۳۲ رقم الحديث: ٦٥٧./ مسلم عن أبي هريرة: رقم الحديث ٦٥١.

ketabton.com - The Digital Library



شا ته چې كوم سرى د دوى پر برابر مخامخ ولاړوي دهغه لمونځ نه صحيح كيږي.(١)

## (څلوېښت لمونځونه په مسجد نبوي شريف كې)

په مسجد نبوي شريف كې پوره څلوېښت لمونځونه كول.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَبِيْ ﷺ قَالَ:﴿مَنْ صلَّى فِيْ مَسْجِدِيْ هَذَا أَرْبَعِينَ صَلَوٰةً لَا تَفُوتُهُ الصَّلٰوةُ كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ الْعَذَابِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ﴾.(٢)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هر هغه څوك چې زما په مسجد كې پوره د څلوېښتو وختو لمونځونه اداء كړي، په دې ډول چې په منځ كې يو لمونځ ځني قضاء نه سي نو هغه لره به د

(١) حاشية رد المحتار: ج ٢ ص ٤٢٣ (القاهرة)/حاشية ابن عابدين: كتاب الصلاة، باب الإمامة ج ١ ص ٥٥٤./ بدائع الصنائع: ج ١ ص ٣٥٥/ الفتاوى الهندية: ج ١ ص ٨٧.

(٢) رواه أحمد والطبراني الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ١ ص ٥٢٤/ فتاوى دار العلوم زكريا: ج ٣ ص ٤٧٤/ فتاوى محمودية: ج ١٠ ص ٤٤١/كنز العمال: ج ١٢ ص ١١٦/ مجمع الزوائد: ج ٤ ص ٨ دار الفكر.

ketabton.com - The Digital Library



جهنم د اور څخه له عذابه څخه او له نفاق څخه خلاصون ليکل کيږي.

لکه څرنګه چې په حديث شريف کې يوازې لمونځ ذکر سوی دی او په جماعت اداء کول يې شرط نه دی په جماعت اداء کول يې د فضائلو څخه دي، حديث شريف ته وګورئ د جماعت او د وختي لمانځه شرط نه لري که يوه ورځ د جماعت لمونځ د رڅخه تېر سي او بې له جماعته دي اداء کړی دغه لمونځ دي هم په هغه څلويښتو لمونځو کې حساب دی.

د مسجد نبوي شريف د لمانځه ثواب د رسول الله ﷺ د وختو په مسجد پورې اختصاص نه لري بلکې دغه نوې برخه چې په ګډه سوې ده په ثواب کې فرق نه لري ځکه چې اوسنی ټول مسجد د رسول الله ﷺ مسجد دی د فضائلو او ثواب له اړخه يو مسجد بلل کيږي.(١)

(١) الشامي: ج ص ٣١٤ غنية الناسك: ص ١٤٣ رد المحتار: ج ١ ص ٣٩٦/ الموسوعة الفقهية: ج ٣٧ ص ٢٥٢.

ketabton.com - The Digital Library



څرنګه چې په حديث مبارک کې مسجدي هذا ويل سوی دی او مسجد هغه ځای ته ويل کيږي چې ټول کال او د هر وخت لمونځ په کښي کيږي او د معتکف اعتکاف په کښې صحيح کيږي او تر مسجد دباندي دائره که څه هم فرش په کښي هوار وي خو اعتکاف نه پکښې صحيح کيږي، دغه دباندي دائره کي د مسجد د حمامو او د اوداسه ځايونه دي او حايضاتي ښځې او موټران تګ او راتګ په کښې کوي.

که ګڼه ګوڼه وه په مسجد کي دننه ځای نه پيدا کېدی بيا په دباندي دائره کي لمونځ هم حکم د دننه حرم غوندي لري کامل ثواب لري خو کوښښ کوئ چي دننه لمونځ وکړئ، ځکه هر وخت دننه مسجد شريف خالي وي خو بې له عذره او د غفلت له وجهي د مسجد دباندي لمونځ مه کوئ.(۱)

او يو ساعت تر آذان مخکي مسجد شريف ته راځئ نو ټول لمونځونه په داخل کي د مسجد شريف سي، که دننه مسجد خالي وي دباندي لمونځ کول يا د مخ صفونه خالي وي د شا په

---

(۱) پښتو معلم الحجاج: ص ۲۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



صفو کي لمونځ کول، نو د لمانځه ثواب يې ناقص بلل کيږي، د امام صاحب مذهب مطابق لمونځ يې مکروه دی، د عمره کوونکو په شپو کي دننه تهول مسجد نبوي شريف خالي وي لکن ځيني کسان دباندي لمونځونه کوي چي ورته وو ايې چي محترم وروره دننه مسجد تهول خالي دی، دی محترم غلط جواب درکړي خو په دې نه وي خبر چي په مسجد کي د صفو اتصال او يووالي شرط دی، پام کوئ چي د مسجد نبوي شريف دباندي د اقتداء کولو په وخت کي د جماعت د لمانځه پر مهال داسي ځای ونه دريږئ لکه د باب السلام دباندي يا د باب البقيع دباندي د بې خبري حالت کي تر امام مخکي و نه دريږی ځکه که تر امام مخکي سئ لمونځ يې صحت نه لري باطل دی.(۱)

او د ميلانو تر منځ په کوچني صفو کي چي شپږ کسان کيږي لمونځونه مه کوی البته په لوی صفو او د مخ په صفونو کي لمونځ کوئ، چي لمونځ کوئ ښه سم لمونځ به کوئ د خپله

---

(۱) الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ۳۸۱.

ketabton.com - The Digital Library



ځانه به حکم نه کوئ چې په داسې ګڼه ګوڼه کې هره ول لمونځ صحیح دی دغه څلوېښت (۴۰) لمونځونه چې داسې لوړ فضیلت لري هغه صحیح لمونځونه دي په ښه کامل او دس سره چې ټوله د لمانځه شرائط او ارکان یې پر صحیح طریقه او په ښه ارامه رکوع او سجده ارامه ناسته او په ښه حضور او اطمینان سره یې اداء کړي وي، په دغه څلوېښت لمونځو کې یو حکمت همدغه دی چې په راتلونکي وخت کې د مسجد سره عادت ونیسي او خپل ټول لمونځونه په جماعت سره په مسجد کې اداء کړي، د کور، دکان، دفتر، باغ او د نورو ځایو د لمونځونو څخه منعه سي چې د مسجد امام صاحب یو رکعت کوي تاسو بیا ټول لمونځ اداء کړی وي او هر څوک باید کوښښ وکړي چې په اول صف کې و دریږي، ځکه نبي کریم ﷺ فرمایي چې د نارینوو په صفونو کې ښه او افضل اول صف دی او شریې اخرنی صف دی.(۱)

---

(۱) قال رسول صلی الله علیه وسلم: ﴿خیر الصفوف الرجال اولها وشرها اخرها﴾ رواه مسلم: رقم الحدیث ۹۸۵.

ketabton.com - The Digital Library



هغه لمونځونه چې دي په مسجد کې په امام پسې اداء کړي دي هغه ټوله صحیح دي او هغه لمونځونه چې دي یوازي کړي دي او پر قرائت دي خوله نه وي ښورولې هغه لمونځونه دي صحت نه لري ځکه قرائت په خوله ویل فرض دی د خیال قرائت او په پټه خوله قرائت ویل صحت نه لري چې هر څو کاله دي همدغسې لمونځونه کړي دي او هر څومره لمونځونه چې وي په قضاء راوړلو يې مکلف يې دومره به يې په زوره په خوله وايي چې په ځان به يې اوري.(۱)

څوک چې د بې خوابۍ له وجهې په لمانځه کې بیده وي لمونځ يې صحت نه لري او ده محترم ته دغه حکم نه دی ور معلوم چې په لمانځه کې ویښتوب شرط دی، که یوچا، رکوع، سجده یا آخره ناسته په خوب کې اداء کړه دغه رکن يې صحیح نه دی لمونځ يې فاسد سو بیرته به لمونځ راګرځوي، که يې راونه

(۱) نجم الفتاوی: ج ۲ ص ۳٤۹.

ketabton.com - The Digital Library



ګرځوي او د دغه لمانځه وخت تېر سي قضاء بلل کيږي، د هغه ۴۰ لمونځونو څخه ووتی.(۱)

په لمانځه کي که يو چا اشاره درته وکړه چي ليري سه يا رانيزدي سه يا که تر شا وې رامخته دي کړي يا که مخته وې راشا ته دي کړي نو که تا د ده په حکم سره حرکت وکړئ لمونځ دي فاسد سو، ځکه تعليم او تعلم په کښي راغلی او که دی نا اميده سو بيا ته په خپله ځان ته وګوره، ځکه شرعا مکلف يی که غلط ولاړ وي نو ځان به سم کړې بيا دي لمونځ نه فاسديږي.(۲)

## (پای جامه)

پای جامه يعني پرتوګ يا لنګ تر بجلکو لوړ ساته تر بجلکو لاندي په ځړولو باندي الله تعالی ناراضه کيږي که چيري د دي عمل له عذابه خبر سي نو بيا به هيڅ وخت زړه ورته ښه نه کړي

(۱) در المختار: ج ۱ ص ۳۳٦، واجبات الصلوة.

(۲) الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۲۵٤ وص ۲۵۵.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ وفرمایل: پایڅې تر بجلکو لاندې ځړوونکې ته به الله جل جلاله د رحمت نظر ونه کړي.(۱)

## (د رخصتېدلو درود او سلام)

د مدینې منورې ښځه چې کله د رخصتېدلو ورځ او وخت مو راسي نو مسجد نبوي شریف ته دې حاضر سي او دوه رکعته نفل لمونځ دې وکړي، بیا پر سید الانبیاء رحمة للعالمین ﷺ درود او سلام دې ووایي، بیا به د حاجاتو دعاء وکړي چې یا الله جل جلاله ستا د محبوب پیغمبر مسجد ته راغلی یم یا الله په خپل خاص فضل و کرم سره مو معاف کړې، زما حج، زیارت او دعاګاني قبول کړې او له دې ځای ښځه مې محروم مه لیږې او زما حاضري آخرنی حاضري مه ګرځوې، یا الله جل جلاله په ورځ د قیامت باندې د خپل حضرت رسول الله ﷺ شفاعت او قرب مي په نصیب و ګرځوې، آمین. له دعاء ښځه ورسته له مسجد

(۱) بخاري شریف: ج ۲ ص ۸۶۱ رقم الحدیث ۳۴٦٥/ مسلم شریف: ج ۲ ص ۱۹۴ رقم الحدیث ۲۰۸۵ (ما أسفل من الكعبين من الإزار ففي النار) اخرجه البخاري رقم الحديث (٥٧٨٧) والنسائي رقم الحديث (٥٣٣١) و احمد رقم الحديث (٢٠٠٩٨).

ketabton.com - The Digital Library



نبوي شريف څخه دي ووزي په دعاء او استغفار سره بيا به درود شريف کرار کرار ووايي.(۱)

## (دعاء)

د حجاجو او عمره کوونکو دعاء مستجابه ده هر چا ته چي دعاء وکړي هغه قبليږي، امام جزري په حصن حصين کي ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د قبر مبارک سره دعاء قبوله نه سي نو بل کوم ځای به قبليږي؟ خو حلاله نفقه يې شرط دی بايد د نفقې پر حلاليت ډېر کوښښ وکړو چي ټوله شيان مو صحيح او پر شرعه برابر سي، په حرامو پيسو باندي حج يا عمره کول هيڅ ثواب نه لري، بايد چي ډېر زيات کوښښ وسي تر څو په هر طاعت کي خصوصاً په حج او عمره کي د حرامو پيسو څخه استفاده ونه سي بايد د هغه ځايونو څخه چي د سړي مال يعني پيسې حرامي وي لکه سود، رشوت، غلا يا د يتيمانو حق خوړل او يا د داسي نورو ځايونو څخه چي نفقه حراموي يعني هغه نفقه چي شريعت ورته حرامه ويلي وي

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۲٦۷/ ارشاد الساري: ص ٥٨٦.

ketabton.com - The Digital Library



خپل ټول مالونه وساتو او که نفقه حرامه وه بیا هیڅ عبادت که عمره وي یا حج یا کوم بل داسي عبادت نه قبلیږي او نه حق خبره اوري که یې واوري نو عمل نه په کوي موږ چي د نبي کریم ﷺ زیارت ته راغلي یو باید پر صراط المستقیم ظاهراً او باطنا او پر شریعت او سنتو ځانونه برابر کړو.

## (مکة مکرمة او مدینة منورة)

مکه مکرمه او مدینه منوره د دنیا تر ټولو ښارو نه غوره او افضله دي خو په دې کي اختلاف دی چي په دې دوو ښارونو کي کوم یو افضل دی زموږ په مذهب او د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په مذهب مکه مکرمه تر مدینې منورې افضله ده د امام مالک رحمه الله په مذهب مدینه منوره تر مکې مکرمې افضله ده، خو دا اختلاف د رسول الله ﷺ د مرقد او قبر مبارک څخه ماسېوا دی ځکه د ځمکي هغه ټوټه چي د حضرت محمد ﷺ جسد مبارک په کښي خوندي دی

ketabton.com - The Digital Library



هغه په اتفاق سره تر هر ځای افضل او مشرف دی او تر مسجد الحرام، کعبې، عرش او تر کرسي هم افضل دی.(۱)

په ډېرو احاديثو کې راغلي دي چې دوه رکعته نفل په مسجد نبوي شريف کې اداء کول د يوه حج ثواب لري او په مسجد قباء کې دوه رکعته نفل اداء کول د يوې عمرې ثواب لري.(۲)

بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها وايي چې ټول ښارونه د عربو په زور فتح سوي دي، مګر يو مدينه منوره په قرآن کريم سره فتح سوې ده نو په مدينه منوره کې روژې نيول، ډېر درود شريف ويل، قضائي لمونځونه راګرځول او د جمعې لمونځ کول ډېر فضيلت لري، په دغه سبب چې روژه او د جمعې لمونځ په مدينه منوره کې فرض سوي دي.

---

(۱) معلم الحجاج ص ۲۹۱/ مختار المناسک ص ۱۵۶/ رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الابصار: ج ٤ ص ٥٣/ مرقات المفاتيح: ج ۲ ص ۱۳۰، ۱۹۰.

(۲) جذب القلوب إلى ديار المحبوب ص ۱۶/ مناسک ملا على قارى ص ٥٧٣/ غنية الناسک ص ۳۸۷.

ketabton.com - The Digital Library



## (په مسجد نبوي شريف کې د لمانځه فضيلت)

د ځمکې پر مخ د سپېڅلتيا له مخې د دغه (۳) درو مسجدونو؛ مسجد حرام، مسجد نبوي، مسجد اقصی څخه پرته نور مسجدونه د شرف له مخې کوم توپير نه لري.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

﴿لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الرَّسُولِ ﷺ، وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصَى﴾.(۱)

ژباړه: د درو مسجدونو يعني مسجد حرام، مسجد نبوي او مسجد اقصی څخه پرته نورو مسجدونو ته د سفر له پاره پر اوښو کتې نه تړل کيږي، نو ځکه د مسجد له پاره د يوه ښار څخه بل ښار ته سفر نه کيږي البته دا درې مسجدونه ځان ته ځانګړی شرف لري.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

---

(۱) رواه البخاري: رقم الحديث ۱۱۸۹ و رواه مسلم: رقم الحديث/۱۳۹۷ و ابوداؤد: رقم الحديث ۲۰۳۳/ والنسائي رقم الحديث ۷۰۰/ وهذا لفظهما.

ketabton.com - The Digital Library



﴿صَلَاةٌ فِيْ مَسْجِدِيْ هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيْمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾(١)

ژباړه: زما په دې مسجد کې يو لمونځ کول د نورو مسجدونو په پر تله د لمانځه د ثواب له اړخه تر زرو لمونځونو غوره دي البته د مسجد حرام د لمانځه ثواب تر دې هم زيات دی.

او په مسجد نبوي شريف کې يوازې بې جماعته يو لمونځ يو په زر ثواب لري چې په دننه مسجد کې وي په سرک او لارو کې نه وي او که په جماعت سره وي يو لمونځ (٢٧٠٠٠) اوه ويشت زره درجې ثواب لري.

ابو هريره رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زما په دې مسجد کې يو لمونځ کول د پنځوسو زرو لمونځونو سره برابر ثواب لري، بېله د مسجد حرام څخه.(٢)

---

(١) متفق عليه: بخاري رقم ١١٩٠ او مسلم رقم ١٣٩٥.

(٢) وروي ابن ماجة: ﴿صلاة في مسجدي هذا تعدل بخمسين ألف صلاة﴾، مجامع المناسک: ص ٦٢٢ دارالعلوم ديوبند: ج ٦ ص ٤٤٥/ کفايت المفتي: ج ٥ ص ٣٧٥.

ketabton.com - The Digital Library



څرنګه چې په حدیث شریف کې یوازې لمونځ ذکر سوی دی نو دغه ثواب په دغه مسجدو کې یوازې په فرضو لمونځونو پوري نه دی ځانګړی بلکې د فرضو نفلو لمانځه پرته نور عبادتونه لکه اعتکاف، روژه یعني هر عبادت د پنځوس زره په اندازه ثواب لري.(۱)

په مسجد الحرام او مسجد نبوي شریف او یا بل مسجد کې خوراک او خوب کول د اعتکاف کوونکو له پاره پروا نه لري او د بل چا له پاره مکروه دی که څوک د خوب او خوراک اراده لري نو د اعتکاف نیت دې وکړي بیا پروا نه لري.(۲)

## (اصحاب الصفة)

د اصحاب الصفة رضي الله تعالی عنهم ځای په مسجد نبوي کې دننه د مسجد د شمالي دېوال سره د هجرت په دوهم کال د

---

(۱) مجامع المناسک: ص ۶۲۶/ دار العلوم دیوبند: ج ۶ ص ۴۴۵/ وفاء الوفا: ج ۱ ص ۴۲۱ وص ۴۲۳.

(۲ )الشامي: ج ۲ ص ۱۴۶/ الموسوعة الفقهیة: ج ۳۹ ص ۲۰۹/ البحر: ج ۲ ص ۵۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ په امر هغه وخت جوړ سو چي قبله د بيت المقدس څخه بيت الله ته ګرځېدلې وه او کله چي رسول الله ﷺ د هجرت په اووم کال د مسجد نبوي پراخېدل وکړه نو د اصحاب الصفه ځای د اسطوانة عائشه رضي الله عنها د شمال خواته د پنځم ستون سره سو چي اوس په موجوده وخت کي هم دی. او دغه بله تنګاچه چي اوس د باب جبرائيل او باب النساء په منځ کي ده دا د دوی خپل د اوسېدلو ځای نه دی بلکي دا د ارغوات د تنګاچې په نامه سره يادېږي.(۱)

## (د جنة البقيع «هديري» زيارت)

دغه هديره په مدينه منوره کي د رسول الله ﷺ په زمانه کي موجوده وه بيا ترننه پوري د مديني منورې د اوسېدونکو له

(۱) بيوت الصحابة: ص ۴۴.

(ارغوات): ارغوات هغه خصيان خلګ وه چي د حر مينو شريفينو د خدمت له پاره به حبشو وقف کړي وه او د حرمينو شريفينو خدمت به يې کاوه.

ketabton.com - The Digital Library



پاره ده تقریبا لس زره صحابه کرام په دغه هدیره کې دفن دي.(۱)

او په مدینه منوره کې د أحد د شهیدانو پرته د نورو صحابه کرامو معلومه هدیره د جنت البقیع څخه پرته نه سته تر مسجد نبوي شریف او روضې شریفې او د دوو اصحابو یعني ابو بکر صدیق او عمر ابن الخطاب رضي الله عنهما تر زیارت وروسته تر ټولو ښه مقام دغه جنة البقیع ده، د جنة البقیع زیارت ته هره ورځ خصوصاً د جمعې په ورځ ورتلل مستحب دي.(۲)

په دې هدیره کې زیات د رسول الله ﷺ بي بي ګانې، لوڼې او اهل بیت او ستر صحابه رضي الله عنهم، تابعین او تبع تابعین

(۱) غنية الناسك: ص ٣٨٤/ اللباب مع الشرح: ص ٥٦٩/ وقال مالك رحمه الله : مات بالمدينة من الصحابة نحو عشرة الاف غير أن غالبهم لا يعرف عين قبره ولا جهته، وفاء الوفاء: ج ٢ ص ١١٥٤/ والمعالم الاثيرة: ص ٥٢/ و آثار المدينة: ص ١٧١.

(٢) يستحب أن يخرج كل يوم إلى البقيع بعد زيارة النبي ﷺ وصاحبيه رضي الله عنهما فيزور القبور التي به خصوصا يوم الجمعة، الموسوعة الفقهية: ج ٣٦ ص ٣١٣/ فتح القدير: ج ٣ ص ٩٦/ اللباب: ص ٥٦٩.

ketabton.com - The Digital Library



رحمة الله علیهم او بې شمېره ائمه او اولیاء الله په آرام کې دي خو د ډېرو صحابه کرامو د قبرونو نښې او نښانې یې لیرې کړې دي نو په مشخص ډول قبرونه نه دي معلوم، په ځینو نقشو کې د ځینو کسانو د قبرو ځایونه ښودل سوي دي خو په دغه بقیع کې دفن دي.

په جنة البقیع کې د دریم خلیفه د قرآن کریم را ټولوونکي حضرت عثمان رضي الله عنه د زیارت څخه شروع کول افضل دي او د اسلام رڼا د ده په وخت کې د خراسان سیمې ته رارسېدلې ده او په بقیع کې تر ټولو افضل د عثمان غني رضي الله عنه د آرام ځای دی، له ام المؤمنین بي بي خدیجې رضي الله عنها او بي بي میمونې رضي الله عنها څخه پرته نورې ټولې ازواج مطهرات یعنې بیبیانې په همدې هدیره کې په آرام کې دي، د رسول الله ﷺ رضاعي یعنې د شیدو مور حلیمة السعدیة رضي الله عنها او د نبي کریم ﷺ زوی سیدنا ابراهیم رضي الله عنه چې د ۱۷ میاشتو په عمر ؤ، بي بي فاطمة

ketabton.com - The Digital Library



الزهراء رضي الله عنها او د نبي ﷺ نوري لوڼي او سيدنا عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه، حضرت امام حسن رضي الله عنه، زين العابدين رضي الله عنه محمد الباقر رضي الله عنه، امام جعفر الصادق رضي الله عنه، د نبي ﷺ عمه ګانې؛ عاتکه، اروی، صفيه رضي الله عنهن، عقيل بن ابي طالب رضي الله عنه، عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه، د عراق فاتح سعد بن وقاص رضي الله عنه، ابي سفيان بن الحارث رضي الله عنه، چي د رسول الله ﷺ د شيدو ورور دی، ابو هريره رضي الله عنه، ابو سعيد الخدري رضي الله عنه، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، صاحب د مذهب امام مالک رحمه الله او نور ډېر جليل القدره صحابه کرام په همدغه جنة البقيع کي آرام کوونکي دي يعني دفن دي. جنة البقيع ته چي ورسئ دغه دعا وواياست او رسول الله ﷺ جنة البقيع هديري ته تللی دی او هلته به يې داسي ويل:

ketabton.com - The Digital Library



﴿السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَ أَتَاكُمْ مَا تُوْعَدُوْنَ غَدًا مُؤَجَّلُوْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُمْ﴾.(١)

ژباړه: السلام عليکم اې د هديرې اوسېدونکو مؤمنانو د قيامت په ورځ به تاسو ټولو ته هغه څه درکول کيږي چي ستاسي سره يې وعده سوې ده، تاسي د حساب تر ورځي ځنډېږئ او موږ هم ان شاء الله تاسو ته درتلونکي يو، ستاسو سره يو ځای کېدونکي يو اې الله د بقيع غرقد و مړو ته بخښنه وکړه موږ او هغو ته بخښنه وکړه.

په بقيع کي حضرت عثمان رضي الله عنه ته په دې تورو سلام وواياست:

السلام عليکم يا امير المؤمنين ورحمة الله وبرکاته، الله جَلَّ جَلَالُهُ دې تا ته د اسلام او مسلمانانو لخوا د نيکي بدله درکړي، اې الله ته له ده څخه راضي سې.

(١) رواه مسلم: ج ١ ص ٣١٣ رقم الحديث ٩٧٤/ غنية الناسك: ص ٣٨٤/ الفقه الاسلامي وأدلته: ج ٣ ص ٢٤٠٥/ اللباب مع الشرح: ص ٥٦٩/ فتح القدير: ج ٣ ص ٩٦ طبع مكتبة حقانية/ سنن نسائي: ج ١ ص ٢٠٦/ كنز العمال: ج ١٢ ص ٢٦٢.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ چې د مديني منورې د قبرونو سره تېرېدی قبرونو ته به يې مخ وروا ړوه او داسي به يې وويل:

﴿السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَ نَحْنُ بِالأَثَرِ﴾(١)

ژباړه: السلام عليکم اې د قبرو خاوندانو الله تعالى دې موږ او تاسي ته مغفرت او بخښنه وکړي تاسو تر موږ مخکي تللي ياست او موږ هم درپسې يو.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي هر څوک چې يوې هديرې ته ورسي او (١١) واره سورة الاخلاص يعني «قُل هو الله أحد» سورة ووايي او ثواب يې و ټولو مړو ته د هديرى ور وبخښي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به د دغه مړو په شمېر ده ته ثواب ورکړي په سر او پای کي يې درود شريف ووايا ست.(٢)

---

(١) رواه الترمذي عن ابن عباس قال: مر رسول الله صلى الله عليه وسلم بقبور المدينة فأقبل عليهم بوجهه فقال: ﴿السلام عليكم يا أهل القبور الخ﴾ حديث: ١س٥٣.

(٢) مجمع الفوائد فضائل سورة الإخلاص: ص ١٠٢.

ketabton.com - The Digital Library



او رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

﴿فَزُوْرُوْا الْقُبُوْرَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ﴾(١)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي د قبرونو زيارت کوئ ځکه چي دا مرګ را يادوي.

## (د مسجد قباء بيان)

مسجد قباء اول مسجد دی چي رسول الله ﷺ يې په خپلو مبارکو لاسونو بنياد کښېښود. د اسلام په تاريخ کي همدغه مسجد تر ټولو مخکي ودان سوی دی، رسول الله ﷺ چي په لومړي ځل مديني منورې ته تشريف راوړی د مديني منورې د ښار څخه دباندي د بنو عمرو بن عوف د قبيلې په کلي يعني د قباء په کلي کي څوارلس ورځي پاته سو هلته يې د قباء مسجد بنياد هم کښېښود ی او هلته يې لمونځونه هم په کښې وکړه، قباء په اصل کي د يو څاه نوم دی چي دغه علاقه د دغه څاه په نامه سره مشهوره وه.

(١) صحيح مسلم: رقم الحديث ٩٧٦/ جامع الترمذي: رقم الحديث ١٠٥٤.

ketabton.com - The Digital Library



مسجد قباء هغه مسجد دی چې د اولې ورځې څخه د تقوا پر بنیاد جوړ سوی دی او حقداره دی الله ﷻ د دې مسجد یادونه په قرآن پاک کې کړې ده، دغه مسجد تر مسجد الحرام، مسجد نبوي او مسجد الاقصی وروسته افضل مسجد دی رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کوم څوک چې په کور کې اودس وکړي مسجد قباء ته راسي دوه رکعته لمونځ اداء کړي د یوې عمرې ثواب لري ځکه د شنبې په ورځ رسول الله ﷺ د سهار په وخت کې کله پیاده او کله پر سپرلی ورته راتلی او دوه رکعته لمونځ به یې په کښې اداء کاوه، او مسجد قباء ته هره ورځ هر وخت ورتلل او هلته لمونځ اداء کول مستحب دي، دصحیح حدیث له مخې دیوې عمرې ثواب لري.(۱)

(۱) ﴿کان النبي صلی الله علیه وسلم یأتي مسجد قباء کل سبت ماشیاً وراکباً فیصلي فیه رکعتین﴾، رواه البخاري: رقم الحدیث ۱۱۹ ومسلم: رقم الحدیث ۳۳۹.

ketabton.com - The Digital Library



قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿مَنْ تَطَهَّرَ فِيْ بَيْتِهِ ثُمَّ أَتَى مَسْجِدَ قُبَاءَ فَصَلَّى فِيْهِ صَلَاةً كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ عُمْرَةٍ﴾(۱)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې په کور کې اودس وکړي مسجد قباء ته راسي او هلته نفل لمونځ وکړي، نود يوي عمري ثواب لري.

رسول الله ﷺ په قباء کې د څوارلسو ورځو تېرولو وروسته د مدينې منورې د ښار پر خوا د خپلو ماما خيلو او نورو صحابه کرامو په بدرګه کوچ راوکړ د جمعې په ورځ په لاره کې و چې د جمعې د لمانځه وخت پر راغلی بيا يې د جمعې لمونځ د قبا پرلار په هغه ځای کې ادا کړی چې اوس مسجد جمعه دی د لمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ پر اوښه سپور سو او ويې فرمايل چې تاسو زما اوښه مخته پرېږدئ دا ماموره ده چيري چې مسجد نبوي جوړ سوی دی هلته يې اوښه چوخه سوه رسول الله ﷺ وويل: ان شاء الله همدا مو ځای دی دلته نژدې

(۱) رواه ابن ماجه بسند صحيح، غنية الناسك: ص ۳۸۷/ اللباب مع الشرح: ص ۵۷۲/ معلم الحجاج ص ۳۳۵ فتح القدير: ج ۳ ص ۹۷/ سنن الترمذي: ج ۱ ص ۷٤ وسنن الكبرى: ج ص ۲٤۸ .

ketabton.com - The Digital Library



د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه کور و هلته په هغه کور کي هستوګن سو، ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د رسول الله د ماما خیلو څخه کیږي او مسجد قباء د مسجد نبوي په جنوب کي تقریبا (۳۲۰۰) درې زره او دوه سوه متره لیري واقع دی.

**(د سید الشهداء سیدنا حمزه رضي الله عنه بیان)**

د أحد شهیدانو، مسجدونو او د أحد غره ته ورتلل مستحب دي.(۱)

افضله ورځ د دغه شهیدانو د زیارت له پاره د پنجشنبې ورځ ده او دا هغه غر دی چي رسول الله ﷺ یې په هکله فرمایلي دي:

﴿هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ﴾ (۲)

---

(۱) تفسیر قرطبي: ج ۹ ص ۳۱۲/ البدایة والنهایة: ج ٤ ص ٦٥/ دلائل النبوة: ج ٦ ص ۳۰٦.

(۲) رواه البخاري: رقم الحدیث ۱٤۸۲/ فتح القدیر: ج ۳ ص ۹۷/ ارشاد الساري: ص ٥۷٥/ وفاء الوفاء: ج ۱۲ ص ۱۱۲.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: أحد هغه غر دی چي دی زموږ سره محبت لري موږ د ده سره محبت لرو.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿أُحُدٌ عَلَى رُكْنٍ مِنْ أَرْكَانِ الْجَنَّةِ﴾(١)

ژباړه: د أحد غر د جنت د کونجانو څخه پر يو کونج دی.

رسول الله ﷺ چي مدينې منورې ته هجرت راوکړ نو د جهاد حکم ورته وسو، رسول الله ﷺ په ډېرو سنګرو کي د کافرانو سره وجنګيدی د رسول الله ﷺ په غزاګانو کي يوه د أحد غزا وه د همدې غره په لمن کي د هجرت په دريم کال د شوال په مياشت کي سوي ده رسول الله ﷺ له مديني منورې څخه راووتی او د اسلام د جنګياليو سره د أحد غره ته ولاړی سره له دې چي د مسلمانانو شمېر کم وو خو په جبل الرماة غونډۍ کي د أحد د غزا په ورځ پنځوس کسان صحابه کرام د عبدالله بن جبير رضي الله عنه په مشرۍ نبي کريم ﷺ هلته کښېنولي

(١) كنز العمال: رقم الحديث ٣٤٩٨٨.

ketabton.com - The Digital Library



وه او دغه غونډۍ د أحد د شهیدانو په جنوب طرف کې د هدیرې د دروازې پر مخامخ د وادي القناة شیلې پر څنګ واقع ده، په لومړي سر کې یې برۍ په برخه سو وروسته چې ځیني غازیان د غنیمت په مال پسې ولاړه کفارو یرغل راوړ، د أحد د جنګ ورځ د مسلمانانو سخته ورځ وه، خو د الله ﷻ په مرسته د مکې د مشرکانو لښکر د جنګ د ګر پرېښود او بیرته مکې ته راوګرځېدل. په دې غزا کې مؤمنانو ډېر ژوبل سول، چې خپله رسول الله ﷺ هم په کښې سخت زخمي سو او اویا تنه جلیل القدره صحابه په کښې په شهادت ورسېدل، د شهیدانو په جمله کې د رسول الله ﷺ بهادر اکا سیدنا حمزه رضي الله عنه هم وو، کوم چې رسول الله ﷺ د شهیدانو د قافلې سردار، سید الشهداء او لوی مجاهد في سبیل الله بللی دی، د جنګ څخه وروسته ځینو کسانو خپل شهیدان مدینې منورې ته وړل، بیا د رسول الله ﷺ حکم وسو چې ټول شهیدان دلته د أحد د غره په لمن کې دفن کړئ همداسې وسول په بېلابېلو شامیو کې دفن کړه سول، سیدنا حمزه رضي الله عنه د أحد په غزا کې د ۵۷ کلنۍ په عمر شهید سو او په مکه

ketabton.com - The Digital Library



مکرمه کي يې د ابو جهل سره هم مقابله کړې وه او د حضرت رسول الله ﷺ ملاتړی وو او د رسول الله ﷺ سره يې مدينې منورې ته هجرت وکړ.(۱)

د أحد غر د دې نړۍ د مبارکو ځايونو څخه دی او دا جبل أحد په دې بولي چې دا غر يوازې دی د بل غره سره نه دی موښتی اوس نو لومړی د سيد الشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه زيارت وکړئ، په ډېره خشوع او ادب سره سلام ورته ووایاست رسول الله ﷺ پر سيدنا حمزه رضي الله عنه باندي ډېر زيات ژړلي دي او د هغه سره عبدالله بن جحش او مصعب بن عمير رضي الله عنهما په يوه شامۍ کي دفن سوي دي هغوی ته هم سلامونه ووایاست بيا د نورو شهيدانو زيارت وکړئ او سلامونه ورته ووایاست په معتمدو رواياتو ثابته ده چې حضرت ابو بکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما به هم دلته تشريف راوړی او تاسو هم دغه قدرمنو شهيدانو ته په مسنونه طريقه ورسئ او سلام ورته عرض

(۱) رواه مسلم: رقم الحديث ۲۷۳۲.

ketabton.com - The Digital Library



کړئ. د هغو له پاره د الله ﷻ څخه د مغفرت او رحمت دعاء وغواړئ او د الله ﷻ او رسول الله ﷺ سره د رښتني وفادارۍ او پر دين د استقامت له پاره ځانته دعاء وغواړئ، د أحد غر د مسجد نبوي شريف څخه څلور کيلو متره ليرې د شمال په طرف کې واقع دی د مسجد نبوي شريف باب ملک الفهد ۲۲ نمبر دروازه د احد پر غره برابره ده.

## (د سبعة المساجد «اووه مسجدونو» بيان)

مساجد الفتح چې اوس په سبعة المساجد سره مشهور دي دغه مسجدونه د جبل السلع غره په لمن کې په لوېديز طرف کې پر هغه ځای جوړ سوي دي چې پر هغه ځای باندې رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم د خندق د غزا په وخت کې موجود وه.

رسول الله ﷺ چې خېمه مبارکه درولې وه په جبل السلع کې لږ لوړه وه د لمانځه او مشورې ځای و او هلته يې د کفارو د شکست له پاره درې ورځې پوره ښېراوې کولې، د فتح موندلو له پاره د ښېرا په دريمه ورځ باندې جبرائيل عليه

ketabton.com - The Digital Library



السلام د فتح زیری ورته راوړی، رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم پر دښمن په څلورمه ورځ چې د چهارشنبې ورځ وه فاتحان او کامیاب سول او دغه د خیمې مبارکي پر ځای چې کوم مسجد جوړ دی له همدې وجهي دغه مسجد ته مسجد الفتح وایي ځکه فتح یې په برخه سوه او سورة الفتح هم دلته نازل سوی دی سنه (۵) هجري.(۱)

د مسجد الفتح لاندي دوهم مسجد د سلمان فارسي رضي الله عنه دی چي د رسول الله ﷺ مستشار وو، دریم مسجد د ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی څلورم مسجد د عمر فاروق رضي الله عنه دی، پنځم مسجد د حضرت علي کرم الله وجهه دی، شپږم د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه دی او دغه بل مسجد چي د فاطمة الزهراء رضي الله عنها په نامه یادیږي اصل نه لري ځکه دا د شیعګانو درواغ دي.

په ۱۴۲۸ هجري قمري سنه کي یو غټ مسجد د مسجد الخندق په نامه جوړ سو چي د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه

(۱) وفاء الوفاء: ج ۲ ص ۳۹.

ketabton.com - The Digital Library



مسجد يې په ګډه کړی او د جبل السلع غر د مسجد نبوي شريف څخه تقريبا (۷۰۰) متره ليري واقع دی اووم مسجد بني حرام دی د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم په زمانه کي جوړ سوی دی او دغه مسجد د بني حرام د قبيلې دی او د جبل السلع په لوېديز طرف کي او د سبعة المساجد په جنوب طرف کي د مسجد الفتح څخه تقريبا (۵۰۰) متره ليري او د جبل السلع په طرف کي په يوه کوڅه کي واقع دی چي اوس پنځه وخته لمونځونه پکښې اداء کيږي.(۱)

## (د خندق اندازه)

د خندق د غزا له پاره خندق د مسجد مستراح سره نژدې شروع سوي دی بيا د جبل الذباب په شمال کي تېر سوي دی بيا جبل السلع ته نژدي مساجد الفتح ته مخامخ رسېدلی دی. د خندق دغزا له پاره د خندق اندازه تقريبا (۲۵۰۰) متره اوږدوالی او (۴) متره بر او (۳) متره ژورو.(۲)

(۱) تاريخ مدينة المنورة: ص ۹۸.

(۲) تاريخ مدينة المنورة: ص ۹٦.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مسجد قبلتین بیان)

رسول الله ﷺ د نبوت د اولي ورځي څخه بیا تر هغه وخته چي مدیني منورې ته یې هجرت راکاوه لمونځونه یې د کعبې شریفي ولور ته کول، کوم وخت چي یې مدیني منورې ته په هجرت سره تشریف راوړی امر پر وسو چي لمونځونه د بیت المقدس و لور ته کوه نو حضرت رسول الله ﷺ (۱۸) میاشتي اووه ورځي لمونځونه د بیت المقدس و خوا ته کول او په یو بل روایت کي راغلي دي چي (۱۶) یا (۱۷) میاشتي یې لمونځونه د بیت المقدس و خوا ته کول بیت المقدس د مدیني منورې د شمال خوا ته راځي او مکه مکرمه د مدیني منورې د جنوب خوا ته راځي، رسول الله ﷺ او صحابه کرام د بیت المقدس و طرف ته د جماعت پر لمانځه ودرېدل د ماپښین وخت و رسول الله ﷺ جماعت ورکاوه کله چي دریم رکعت ته راولاړ سو وحي راغله او د مخ د ګرځولو حکم ورته وسو او په همدغه لمانځه کي رسول الله ﷺ خپل مخ مبارک د بیت المقدس څخه د مکي مکرمي و خوا ته وګرځوئ، سره له مقتدیا نو اخر دوه رکعته یې د کعبې شریفي و طرف ته اداء

ketabton.com - The Digital Library



کړل، د مقتديانو له جملې څخه لس صحابه کرام يعني عشره مبشره وه چي په لمانځه کي يې له کومي خبري پرته په هغه رکعت کي فوراً په رسول الله ﷺ پسي مخونه د کعبې شريفي خوا ته راوګرځول او دوی ته د جنت زيری راغلی او رسول الله ﷺ د جنت زيری پر وکړی، نومونه يې په دې ډول دي:

۱- ابو بکر الصديق رضي الله عنه

۲- عمر الفاروق رضي الله عنه

۳- عثمان بن عفان رضي الله عنه

۴- علي بن ابي طالب رضي الله عنه

۵- طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه

۶- زبير بن العوام رضي الله عنه

۷- عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه

۸- سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

۹- سعيد بن زيد رضي الله عنه

۱۰- ابو عبيده بن عامر جراح رضي الله عنه

ketabton.com - The Digital Library



دوی ټول عشره مبشره د قریش او مهاجرینو څخه دي.

کله چې رسول الله ﷺ ته د بیت المقدس څخه د مکې مکرمې ته د مخ ګرځولو امر وسو د بدر غزا څخه دوې میاشتې وړاندې د دوشنبې ورځ (۱۵) د رجب المرجب وه او د هجرت دوهم کال و دا قول د جمهورو علماؤ دی په ځینو روایاتو کې ویل سوي دي چې هغه د مازدیګر لمونځ و، په دې مسجد کې دوه محرابه جوړ سوي دي یو محراب د بیت المقدس و خوا ته و چې اوس یې هم د پخوانی محراب علامه سته او بل د کعبې شریفې و خوا ته جوړ سوی دی، همدا مسجد د قبلتین په نامه یادیږي په دغه سبب چې دا مسجد دوې قبلې لري، دا مسجد د خالد بن ولید رضي الله عنه پر سړک د مسجد نبوي شریف څخه درې نیم کیلو متره لیرې واقع دی.(۱)

(۱) تاریخ مدینة المنورة: ص ٦٤/ خلاصة فضائل المدینة المنورة: ص ١٣٩/ وفاء الوفاء: ج ٢ ص ٤٥/ اخبار مدینة: ص ١١٥/ طبقات ابن سعد: ج ٢ عنوان تحویل قبله.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مسجد الجمعة بيان)

د دې مسجد شريف دوه نومونه نور هم دي مسجد الوادي او مسجد عاتکه، دا هغه مسجد دی چې کله رسول الله ﷺ له مسجد قباء څخه مديني منورې ته تشريف راوړی، نبي کريم ﷺ لومړی ځل د جمعې لمونځ په همدغه ځای کي اداء کړی، بيا پر دغه ځای دا مسجد شريف جوړ کړل سو، نو ځکه دا مسجد شريف د مسجد الجمعه په نامه يادېږي او دغه مسجد شريف د مسجد قباء څخه د شمال په خوا کي دی چې د مسجد نبوي شريف څخه د قباء پر لور روان سې نو په لار کي راځي او د مسجد قباء څخه تقريبا (۹۰۰) سوه متره ليري واقع دی.(۱)

## (د مسجد غمامة بيان)

دا مسجد پر هغه ځای جوړ دی چې پر هغه ځای باندي رسول الله ﷺ د هجرت په دوهم کال د کوچني او لوی اختر لمونځ کړی وو او د خطبې ويلو په وخت کي وريځې سايه پر کړې وه او په ځينو رواياتو کي راځي چې د استسقاء لمونځ يې هم دلته

---

(۱) المدينة المنورة تاريخ ومعالم: ص ٦٤/ اخبار المدينة: ص ٦٨.

ketabton.com - The Digital Library



اداء کړې دی او دغه مسجد شریف د مسجد نبوي شریف په جنوب غرب طرف کي باب السلام ته نژدې په څو متره کي واقع دی.(۱)

## (د مسجد الإجابة بيان)

مسجد الإجابة ته رسول الله ﷺ یوه ورځ تشریف راوړی او لمونځ یې په کښې اداء کړی چي تر ډېره لاس په دعاء وو تر څو چي یې دعاء قبوله سوه، مسجد الإجابة د جنت البقیع په شمال کي مستشفی الانصار ته مخامخ دی.(۲)

## (د مسجد ابي ذر رضي الله عنه بيان)

مسجد ابي ذر الغفاري رضي الله عنه چي اوس د مسجد السجدة په نامه سره یادیږي، دغه مسجد د مسجد نبوي شریف په شمال طرف کي تقریبا (۹۰۰) متره لیري د ټکسي اډې و څنګ ته واقع دی، په دغه مسجد کي رسول الله ﷺ

(۱) المدينة المنورة تاريخ ومعالم: ص ۷۷/ فتح الباري: ج ۱ ص ٤٤٩.

(۲) د حج او عمرې مسئلې مولانا محمد رفعت قاسمي حفظه الله: ص ٤٥٨.

ketabton.com - The Digital Library



هغه وخت د شکر سجده وکړه چي جبرائيل عليه السلام دا زيری ورته راوړی چي الله ﷻ فرمايي کوم څوک چي پر تا باندي درود شريف وايي زه رحمت پر کوم او کوم څوک چي پر تا باندي سلام ووايي زه سلام پر کوم.(١)

## (د مسجد المستراح بيان)

مسجد المستراح يا مسجد بني حارثه دا هغه ځای دی چي رسول الله ﷺ د أحد د غزا څخه د راتللو پر مهال دلته د هوسايي او استراحت په خاطر کښېنستلی دی او لمونځ يې په کښي اداء کړی دی دا مسجد د مسجد نبوي شريف څخه ۲ کيلو متره ليري د شمال په خوا کي د سيد الشهداء پر زاړه سرک واقع دی چي اوس پنځه وخته لمونځونه په کښي اداء کيږي.(٢)

---

(١) المدينة المنورة تاريخ ومعالم : ص ٦٦.

(٢) تاريخ مدينة المنورة: ص ٩٤.

ketabton.com - The Digital Library



## (د مسجد سقيا بيان)

مسجد سقيا په عنبريه کي د مسجد نبوي شريف د جنوب غرب خوا ته په سکة الحديد کي دننه و بناروالۍ ته مخامخ دی، سقيا د يو څاه نوم دی چي د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په ځمکه کي وو دغه مسجد سقيا پر هغه ځای جوړ سوی دی چي پر هغه ځای باندي رسول الله ﷺ د بدر غزا ته د تللو په وخت کي لمونځ کړی دی او د مدينې منورې له پاره يې د برکت دعاوي کړي دي.(١)

## (د مسجد الميقات بيان)

مسجد الميقات چي مسجد ذي الحليفة او مسجد الشجرة او مسجد المحرم هم ورته ويل کيږي، نبي کريم ﷺ چي کله به مکې مکرمې ته تلی نو په دغه مسجد کي به يې لمونځ کوی او چي کله به بيرته له مکې مکرمې له خوا راستون سو نو دلته به يې لمونځ وکړی او شپه به يې هم تېرول او د مدينې منورې د خلکو له پاره مسجد ذو الحليفة ميقات هم دی چي اوس د

(١) تاريخ مدينة المنورة: ص ٥٤.

ketabton.com - The Digital Library



ابیارعلی په نامه یادیږي او د مسجد نبوي شریف څخه تقریبا (۱۲) کیلو متره لیري دی.(۱)

## (د مسجد علي رضي الله تعالی عنه بیان)

دا مسجد د مسجد غمامه په شمال غرب کي پر هغه ځای جوړ سوی دی چي پر هغه ځای رسول الله ﷺ او بیا خلفاء راشیدینو هم دلته د اختر لمونځ اداء کړی دی.(۲)

## (د مسجد ابوبکر الصدیق رضي الله تعالی عنه بیان)

د مسجد غمامه څخه ثلویښت متره لیري پر هغه ځای باندي جوړ سوی دی چي پرهغه ځای باندي رسول الله ﷺ د عیدګاه لمونځ کړی دی او وروسته بیا ابو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه هلته د عیدګاه لمونځ کړی دی.(۳)

---

(۱) معالم دار الهجرت: ص ۱۵۷.

(۲) المدینة المنورة تاریخ ومعالم: ص ۸٤ / معالم دار الهجرت: ص ۱٤۳.

(۳) تاریخ مدینة المنورة : ص ۵۸ / معالم دار الهجرت: ص ۱٤۳.

ketabton.com - The Digital Library



## (د بئر حا بیان)

بئر حا دا څاه د حضرت طلحة رضي الله عنه و او د ده په باغ کي د مسجد نبوي شريف په شمال طرف کي وو او رسول الله ﷺ به هلته ورتلی او د دغه څاه اوبه به يې څښلې او اوس دغه څاه نه سته په مسجد نبوی شريف کښ سوی دی چي ځای يې اوس هم معلوم دی پر باب ملک فهد (۲۱) نمبر دروازه چي مسجد ته ننوزې د دروازې څخه څو متره ليري په چپه لاس کي دی چي پر هغه ځای باندي په ډبرين فرش کي دري ګول دايرې جوړې دي.

## (د بئر غرس بیان)

بئر غرس دا هغه څاه دی چي رسول الله ﷺ به د دغه څاه اوبه څښلې او دا وصيت يې کړی وو چي ما ته تر وفات وروسته د دغه څاه په اوبو باندي غسل راکړئ چي وروسته د دغه څاه په اوبو باندي غسل ورهم کړل سو او دغه څاه د مسجد قباء په

ketabton.com - The Digital Library



شمال شرق د دار الهجرة مدارس الشاوي وڅنګ ته نژدې واقع دی.(۱)

## (د بئر رومة بیان)

بئر رومة چې په بئر عثمان بن عفان رضي الله عنه مشهوره دی دا هغه څاه دی چې کله رسول الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوړی او په دغه وخت کې په مدینه منوره کې د دغه څاه څخه پرته نوري خوږې او به نه وې او دغه څاه د یو یهودي و، اوبه به یې خرڅولې بیا رسول الله ﷺ وفرمایل څوک چې دغه څاه رانیسي او د مسلمانانو له پاره یې وقف کړي زه د هغه له پاره د جنت اعلان کوم دغه څاه سیدنا عثمان بن عفان رضي الله عنه په (۱۲۰۰) درهم رانیوی او د مسلمانانو له پاره یې وقف کړه چې اوس هم سته او د مسجد قبلتین څخه تقریبا (۱۰۰۰) متره لیري د سلطانه پر سرک په الازهري کلي کې واقع دی.(۲)

---

(۱) مناسک الملا علي قاري: ص ٤٩٥.

(۲) تاریخ مدینة المنورة: ص ۱۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



## (د بدر غزا)

د بدر د غزا ځای د مدينې منورې په جنوب غرب طرف کې پر زړه لاره (۱۶۴) کيلو متره او پر نوې لاره چې اوس خلک پر ځي (۱۵۲) کيلو متره ليرې واقع دی.

بدر په اسلامي تاريخ کې هغه تاريخي ځای دی چيرې چې د مسمانانو او مشرکينو ترمنځ دهجرت په دوهم کال د رمضان د مياشتې په (۱۷) تاريخ د جمعې مبارکې په ورځ لومړنۍ ستره (لويه) غزا سوې وه په دې ځای کې الله تعالی مسلمانانو ته چې په ډير کم عدد کې وه د کفارو د لوی لښکر په مقابل کې بری ورپه برخه کړی او تقريباً اويا (۷۰) مشرکين مردار او تر اوياوو نور محبوسين (بنديان) سوه او څوارلس (۱۴) صحابه کرام شهيدان سوه او د بدر په دې غزا کې د الله تعالی ډير نصرت ښکاره سوه، يو له هغو څخه دا چې ملائکو د حضرت جبريل عليه السلام په مشرۍ په دې جنګ کې شرکت کړی و، نو حجاج مبارکان د نبي کريم ﷺ ميلمانه دي

ketabton.com - The Digital Library



باید د بدر د شهیدانو او د دې سیپڅلي د غزا میدان او ځای ته ورسي او زیارت یې وکړي.(۱)

## (د توبې بیان)

هر څوک که له ګناه څخه توبه وکاږي نو الله ﷻ یې توبه قبلوي البته له ګناهونو څخه به پرهېز کوي لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوْا تُوْبُوْا إِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾(۲)

ژباړه: اې مؤمنانو! الله ته توبه وباسئ، خالصه توبه. یعني رښتینې توبه.

توبه تر هغه وخته قبلیږي چې لمر د مغرب له خوا څخه نه وي را پورته سوی او یا د ځینو علماوو په قول چې د انسان روح ستوني ته نه وي راغلی او که لمر د مغرب لخوا څخه را پورته سي او یا د انسان روح وستوني ته راورسیږي یعني د ځکندن

(۱) الفقه الاسلامي و ادلته: ج ۳ ص ۲۳۰۶.

(۲) سورة التحريم: (۸)

ketabton.com - The Digital Library



حالت یې سي نو په همدې وخت کي د ځینو علماوو د قول مطابق توبه نه قبلیږي. تو به ډېره اسانه ده هغه دا چي پر کړل سوي ګناه پښېمانه کېدل او هغه ګناه نور پرېښول او په راتلونکي وخت کي د نه کولو قصد کول او الله ﷻ د بنده په توبه ډېر راضي کیږي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

په الله قسم چي الله ﷻ د خپل بنده په توبه تر دې ډېر خوشحاله کیږي لکه په تاسو کي چي یو څوک ورکه سپرلۍ په د بنت کي پیدا کړي.(۱)

## (د اووه ویشتم د عمرې بیان)

یوه خاصه او اړینه خبره چي په صحیحو احادیثو سره ثابته ده لکه د روژې عمره، د روژې عمره د اول ساعت څخه بیا د روژې د میاشتي تر اخیري ساعت پوري سره برابره ده، د داسي حج سره برابریږي لکه تا چي د رسول الله ﷺ سره حج کړی وي، لکن عوام غلط قیاس کوي په اووه ویشتم پوری خاص

(۱) رواه مسلم عن أبي هريرة: رقم الحديث ۲٦٧٥.

ketabton.com - The Digital Library



ارتباط ورکوي، هغه عام فضل الهي ته نظر نه کوي چي په شپه او ورځ او ټوله میاشت کي د روژې د عمري همدغه ثواب دی د اووه ویشتم په شپه په ډېره ګڼه ګوڼه کي عمره وکړي، چي ځیني کسان په جده طائف او مدینه منوره کي سر وخروي چي د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب مطابق دم پر لازمیږي او د ځینو کسانو څخه د اووه ویشتم د عمرې په سبب لمونځونه خراب یا قضاء سي، او چي هر څه عمري وکړي د دغه لمانځه جبیره چي قضاء سي نه په اداکیږي ولي عمره سنت ده لمونځ فرض دی تر دغسي عمرو، چي په (۲۷) د روژې په میاشت کي کیږي عمري کول چي په آرامه او پر شریعت برابري وي افضل دي عمره په ټول کال کښي جائزه ده مګر د عرفات په ورځ عمره کول مکروه تحریمي عمل دی او همدارنګه د اختر په ورځ او درې ورځي وروسته د اختر تر ورځي عمره مکروه تحریمي ده ځکه چي دا د حج ورځي دي عمره د قارن حاجي له پاره د عرفات په ورځ مکروه نه ده او

ketabton.com - The Digital Library



متمتع حاجي لره د عمرې تکرار جائز دی ځکه دا یو مستقل عبادت دی.(۱)

ډېرې عمرې کول ښه کار دی که څه هم په یوه ورځ کښې وي او کوم چا چې عمره د متمتع حاجي له پاره ګناه بللې ده، دغه خبره يې د قرآن او سنت څخه مخالفه ده.(۲)

## (ابي قبيس غر)

ابراهيم عليه السلام چې کله د بيت الله د ترميم څخه فارغ سو الله ﷻ امر ورته وکړ، چې خلک حج ته راوبوله نو دی مبارک د ابي قبيس غره ته وختی او خلکو ته يې آواز وکړ چې بيت الله

---

(۱) حج قران هغه حج ته وايي چې د عمرې او حج دواړو احرام پر يوه ځای باندې وتړي او دواړه په يوه احرام سره اداء کړي. الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ۴۲/ غنية الناسك: ص ۲۰۱. او حج تمتع هغه حج ته وايي چې د ميقات څخه د عمرې احرام وتړي او بيا د عمرې څخه د فارغ کېدلو وروسته د حج له پاره احرام وتړي. الهندية: ج ۱ ص ۲۳۸/ اللباب: ص ۲۹۸.

(۲) قاضي خان: ج ۱ ص ۳۰۱/ إرشاد الساری ص ۲۸۹/ فقه الاسلامي: ج ۳ ص/ العلاج في امراض الحجاج ص ۱۹۲.

ketabton.com - The Digital Library



ته د حج له پاره راسئ! دغه اوازيې الله تعالى د ټولو خلکو تر غوږو پورې ورساوه، آن تر دې هغه ځوک که به د پلار په ملا کښې ؤ که به د مور په رحم کښې ؤ، هر چا چې هر څو واره جواب په «لبيک» سره ورکړی وي د هغه په اندازه به حجونه کوي.(۱)

جبل ابي قبيس دا غر د مسجد الحرام د شرق په طرف کې د صفا دغونډۍ سره نږدې هغه غر دی چې د حضرت نوح عليه السلام پر قوم باندې د طوفان د راتللو په وخت کښې الله ﷻ حجر اسود د امانت په توګه په همدغه غره کښې اېښې وه او په همدغه وجه باندې دې غره ته تر اسلام مخکې د امين په نامه ويل کېده او تقريباً (۱۲۰) متره لوړ دی او د ځمکې پر مخ لومړنی غر دی.(۲)

(۱) العلاج في امراض الحجاج: ص ٥

(۲) مكة المكرمة تاريخ ومعالم: ص ۱۱۰

ketabton.com - The Digital Library



# دوهمه برخه

# د حج مدلل مسائل

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّيْ عَلٰى رَسُولِهِ الْكَرِيْمِ

اما بعد !

## (د حج فضلیت)

حج د اسلام یو عظیم الشان رکن دی، د اسلام د کاملېدو اعلان د حجة الوداع پر موقع وسو او په حج سره د اسلام د ارکانو تکمیل کیږي.

د حج د فرضیت اثبات په قرآن کریم باندی سوی دی الله ﷻ په خپل کلام قرآن کریم کي فرمايي:

﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً﴾ آل‌عمران: آیة ۹۷

ژباړه: د الله ﷻ له پاره پر خلکو حج فرض دی کوم څوک چي د حج توان او طاقت ولري. د حج په فضیلت کي زیات احادیث راغلي د هغوی له جملي څخه یو څو حدیثونه ذکر کیږي:

ketabton.com - The Digital Library



**١- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ‹خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: ‹ يَا أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوْا. فَقَالَ رَجُلٌ: أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ فَسَكَتَ، حَتَّى قَالَهَا ثَلاَثًا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: لَوْ قُلْتُ: نَعَمْ، لَوَجَبَتْ، وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ›.(١)**

ژباړه: د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته وينا کوله او ويې فرمايل: الله جل جلاله پر تاسو حج فرض کړی دی نو حج وکړئ، يو سړي (اقرع بن حابس رضي الله عنه) عرض وکړی: اې د الله رسوله: حج يوازي يو ځل فرض دی او که هر کال رسول کريم ﷺ د يو څه وخت له پاره خاموش سو هغه صحابي درې ځله دغه سوال راتکرار کړ نو رسول کريم ﷺ د ناراضوالي اظهار وکړ او ويې فرمايل: که چيري ما داسي ويلي وای چي هر کال فرض دی بيا به هر کال فرض وای ليکن تاسو به يې طاقت نه درلودلای بيا يې وفرمايل يوازي يو ځل حج فرض کيږي.

(١) رواه مسلم: كتاب الحج، باب فرض الحج مرة في العمر ١٣٣٧.

ketabton.com - The Digital Library



۲- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ﴾. (۱)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله تعالى عنه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: څوک چې د حج اراده وکړي، نو د هغه په اداء کولو کې دې ډېر تلوار کوي.

۳- رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ﴾(۲)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې د الله جل جلاله له پاره حج وکړي او په حج کې بېهوده خبرې د فسق خبرې او کارونه ونه کړي، هغه به د ګناه څخه داسې پاک راستون سي لکه له مور څخه چې اوله ورځ پيدا سوی وي.

۴- ﴿وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ﴾(۳)

---

(۱) ابوداؤد کتاب المناسک: ج ۱ ص ۲۴۲.

(۲) بخاري: ج ۱ ص ۲۰۶ رقم الحديث ۱۵۲۱/ و مسلم: ج ۱ ص ۲۳۶ رقم الحديث ۱۳۵۰.

(۳) بخاري: ج ۱ ، باب الحج رقم الحديث ۱۷۷۳ ومسلم: رقم الحديث ۱۳۴۹.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: قبول سوی حج بې له جنت څخه بل اجر او ثواب نه لري

٥- عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿ النَّفَقَةُ فِيْ الْحَجِّ كَالنَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِسَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ ﴾(١)

ژباړه: نبي کريم ﷺ فرمايي: په حج کي مال مصرفول لکه په جهاد کي چي مال مصرفوي يو په اووه سوه (٧٠٠) چنده اجر او ثواب لري.

٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:﴿ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحَاجِّ وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ﴾(٢)

نبي کريم ﷺ دعا کړې ده چي يا الله جَلَّ جَلَالُهُ بخښنه وکړي حاجي او هغه چا ته چي ورته دعاء کوي.

(١) رواه الامام احمد في مسنده: رقم الحديث ٢٣٠٠٠.

(٢) رواه البيهقي: رقم الحديث ١٠٣٨١.

ketabton.com - The Digital Library



په بل روايت کې فرمايي: ترڅو چې کور ته نه وي راغلی د حاجي هره دعاء قبلیږي.(۱)

محترمو مسلمانانو! دا خو يو څو حديثونه دلته ذکر سول، ليکن د حج په فضيلتو کي مستقل کتابونه ليکل سوي دي، علاوه دا ده حاجي چي د کوره څخه وځي پر هر گام يې يوه نيکي ليکل کيږي او يوه گناه يې رژيږي.(۲)

## (حج څه وخت فرض سو؟)

علامه عيني رحمه الله د حج د فرضيت په سلسله کي د (۵) هجري څخه بيا تر (۱۰) هجري پوري متفرق اقوال ذکر کړي دي.(۳)

---

(۱) رواه النسائي رقم الحديث ۲۸۹۳.

(۲) رواه ابن حبان و عبد الرزاق، اخرجه البخارى/ ۱۷۷۳ و مسلم: ۱۳۴۹/ والترمذي: ۹۳۳.

(۳) عمدة القاري: ج ۹ ص ۱۲۱.

ketabton.com - The Digital Library



علامه شامي رحمه الله تعالی وايي: حج د هجرت په نهم کال فرض سو او نبي کريم ﷺ حج د هجرت په لسم کال باندي د زيات شمېر صحابه کرامو رضي الله عنهم په ملتيا اداء کړی چي دې حج ته حجة الوداع يعني د رخصت کولو حج هم وايي.(۱)

او پر نورو انبياء عليهم وعلی نبينا اکمل الصلوة والتسليم باندي هم حج فرض وو او پر امتيانو يې حج ندی فرض سوی.(۲)

## (د حج فرضيت)

حج په ټول عمر کي يو ځل اداء کول په اجماع سره فرض دی پر هر هغه چا چي د حج د فرضيت شرايط په کښي موجود سي، حج پر مسلمان باندي فرض عين دی چې حر وي، بالغ وي، د عقل خاوند وي، په بدن جوړ وي او په دې شرط چې لاره به يې په امن وي، د لارې پر خرڅ باندي به قدرت لري، بل شرط دا

(۱) رد المحتار: ج ۲ ص ۱۵۱.

(۲) الدر المنثور في التفسير بالماثور للسيوطي: ج ۲ ص ۵۸۱.

ketabton.com - The Digital Library



دی چې دومره مال به لري چې د هستوګنې تر ځای او د اولاد تر نفقې او خرڅ به زیات وي؛ ترڅو دی بېرته خپل کورته راځي که یو غریب حج وکړي د فرضي حج ځای نیسي د فرضي حج د اداء کولو له پاره غناء شرط نه ده که یو سړی غریب وي خو په یو طریقه سره د بلوغ څخه وروسته حج اداء کړي، نو فرضي حج یې اداء سو، که د حج اداء کولو وروسته مالداره (غني) سو بیا دوهم ځلي حج باندي کول نسته.(۱) او که پر یو چا حج فرض سي او حج ونه کړي، بیا مسکین سي نو د ده له ذمې څخه حج نه ساقطیږي.(۲)

که چا په کوچنیوالي (ماشومتوب) کي حج وکړی نو دغه نفلي حج د فرضي حج ځای نه نیسي د بلوغ څخه وروسته که غني (مال دار) سو بیا به فرضي حج کوي.(۳)

---

(۱) ارشاد الساري ص ۷۲ الهندية: ج ۱ ص ۲۱۷/ فتاوی عثمانية: ج ۲ ص ۳۴۱./ الهندية: ج۱ ص ۱۷.

(۲) الهندية: ج ۱ ص ۱۷.

(۳) بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۲۴۱/ الهداية: ج ۱ ص ۲۱۵/ فتاوی فریدیه: ج ٤ ص ۲۲۹.

ketabton.com - The Digital Library



## (په حرام مال سره حج نه فرض کیږي)

که چا حرام مال (دنیا) ډیره درلوده د هغه په وجه پر ده باندي حج نه فرض کیږي، حرام مال مالک (خاوند) ته یي رسول فرض دي که مالک یي ورته معلوم نه وي نو بیا دي پر مسکینانو باندي صدقه کړي او خیرات کول یي واجب دي خو بیا هم که په حرامو روپو حج وکړي فرض یي اداء کیږي په ظاهره کي حاجي صاحب بلل کیږي او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد یي حج نه صحیح کیږي هیڅ ثواب نه ورکول کیږي.(۱) څوک چي په حرام مال سره حج کوي او بیا داسي ووایي: لبیک وسعدیک، نو د الله جَلَّ جَلَالُهُ له لوري ورته وویل سي چي: لا لبیک ولا سعدیک.(۲)

که یو څوک د شوال په میاشت کي د عمرې د اداء کولو لپاره مکې مکرمې ته ولاړ سي او عمره اداء کړي، چونکه د شوال

(۱) رد المحتار: ج ۳ ص ۶۲۹/ مناسك الحج الجدید الکامل ص ۱۰۱ الشیخ ملا عبد الغني آخند.

(۲) مناسک الملا علي القاري: ص ۳۸۸.

ketabton.com - The Digital Library



میاشت په اشهر الحج کي حساب ده نو آیا پر دغه شخص باندي حج فرض کیږي که یا؟

جواب یې دا دی چي پر دغه شخص باندي هغه وخت حج فرض کیږي چي دا راتلونکي درې شرطونه موجود وي:

اول- مخکي به یې حج نه وي کړی، دوهم- د حج تر وخته پوري چي کوم مصارف کیږي دغه شخص به یې طاقت لري، دریم امن د لاري به وي یعني هلته د ده په اوسېدلو به ده ته د حکومت لخوا څه مشکل نه وي، که دا درې شرطونه پر ځای وه نو حج فرض کیږي او که نه وه پر ځای بیا حج نه دی پر فرض.(۱)

## (د حج لغوي او شرعي معنی)

حج په لغت کي د یو لوی شي قصد کولو ته ویل کیږي او په شرع کي د هغه خاص ځای زیارت کول په خاص وخت او خاص کار او طریقه سره دي.

---

(۱) البحر الرائق: کتاب الحج ج۲ ص ۵۳۸، ۵۳۹/ الشامي: کتاب الحج ج۲ ص ۴۵۹/ فتاوی فریدیة: ج ۴ ص ۳۳۱/ آپ کے مسائل اور ان کا حل: ج ۵ ص ۲۴۲.

ketabton.com - The Digital Library



## (اخلاص)

کله چې څوک د حج یا عمرې په سفر ځي دا واجب ده چې دغه حج یا عمره به یوائې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضاء له پاره کوي؛ ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ یوازې هغه عمل قبلوي چې خالص د ده د رضاء له پاره سوی وي هر ښه عمل به د الله تعالی له پاره کوي.

رسول کریم ﷺ فرمایلي دي چې:

د اعمالو ثواب پر نیت موقوف دی او دا واجب دی چې د تګ مخکې به د ټولو ګناهونو څخه په اخلاص توبه کاږي په داسې طریقه سره چې په زړه کې به پر تیرو ګناهونو پښېماني کوي، په خوله به د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه د تیرو ګناهونو بخښنه غواړي په راروان وخت کې به د دغه ګناهونو د نه کولو ټینګه اراده وکړي او دوه رکعته د توبې لمونځ به وکړي، د لمانځه وروسته به د دعاء له پاره لاسونه پورته کړي.(۱)

(۱) مجامع المناسک: ص ۳ الی ص ۲۵.

ketabton.com - The Digital Library



## (د حج د پرېښودلو سزا)

په کوم کال چې حج فرض سي په هغه کال يې اداء کول فرض دي حج بې له عذره ځنډول ګناه لري.(۱)

څوک چې د حج له فرضيت څخه منکر سي کافر دی او پرېښوونکی يې فاسق دی که چا پر ځان باندې حج نذر کړ نو حج کول پر واجبيږي.

فرض او نذر حجونه دواړه په يوډول اداء کيږي رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلٰى بَيْتِ اللّٰهِ الْحَرَامِ وَلَمْ يَحُجَّ، فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوْتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا... ﴾(۲)

---

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲۱٤/ بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۱۸۰ وص ۱۸۲/ البحر الرائق: ج ۲ ص ٥٤۲/ رد المحتار: ج ۳ ص ٦۳۰

(۲) رواه الترمذی: ج ۱ رقم الحديث ۸۱۲.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: نبي کریم ﷺ فرمايي ځوک چې دومره توښه او سپرلۍ ولري چې بيت الله ته په رسېدلای سي او حج ونه کړي نو د ده له پاره هيڅ فرق نه لري که پر يهوديت مړ کيږي او که پر نصرانيت.

که پر چا خپل حج فرض سو او ده د خپل مور او پلار له پاره حج وکړی نو د مور او پلار له پاره په حج کولو سره د ده فرضي حج نه اداء کيږي، پر ده باندي خپل فرضي حج کول لازم دی.(۱)

## (د حج اقسام او د کولو طريقه)

حج دري قسمه دی (۱) قِرَان (۲) تَمَتُّع (۳) اِفْرَاد

د احنافو په نزد حج قران تر حج تمتع افضل او بهتر دی. حج قران د هغه چا له پاره ښه دی چې تر ميقات د باندي اوسيږی او بل د حج تر اداء کېدو پوري پر خپل ځان باندي د احرام د

---

(۱) فتاوی محمودية: ج ۱۰ ص ۳۰۴ فتاوی دار العلوم: ج ٦ ص ٥٤٢ هکذا آپ کے مسائل: ج ص ۷۲.

ketabton.com - The Digital Library



ممنوعاتو څخه د حفاظت باور ولري څوک چې باور نه لري د هغه له پاره بیا تمتع تر قران ښه دی، دوهم تمتع بیا مُفرِد.(۱)

اول – حج قِرَان هغه حج ته ویل کیږي چې له میقات څخه د عمرې او حج دواړو په نیت احرام پر یوه ځای باندې وتړي او دواړه په یوه احرام سره اداء کړي حج قران معنی حج او عمره یو ځای اداء کول. په شریعت کي د حج او عمرې د احرام یو ځای تړلو ته قران ویل کیږي. قارن بې له حلق (سر خریلو یا کوچنی کولو) عمره اداء کوي، بیا به د همدغې عمرې په احرام سره حج اداء کوي، دي حج کوونکي ته قارن ویل کیږي.(۲)

دوهم– حج تمتع هغه حج ته ویل کیږي چې اول له میقات څخه د حج په میاشتو کې یوازې د عمرې په نیت احرام وتړي، عمره

---

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۲۳۹/ شامي: ج ۲ ص ۲۰۶ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۴۷۱ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۶۲۶.

(۲) القران، وهو أن يُهِلَّ بالعمرةِ والحجِّ جميعاً، فيأتيَ بهما في نُسُكٍ واحد، الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ۴۲/ غنية المناسك ص ۲۰۱/ التبيين: ج ۲ ص ۳۳۲.

ketabton.com - The Digital Library



اداء کړي بیا په دغه کال کې د کور تر تګ د مخه د حج په شپو کې د حج احرام وتړي او حج اداء کړي.

د تمتع لغوي معنی ده تر یو وخته پوري د یو شي څخه ګټه اخستل، په اصطلاح کي دې ته ویل کیږي چي اول د میقات څخه د عمرې احرام وتړي، د عمرې د افعالو طواف سعي صفا او مروه حلق (سر خرپیل یا کوچنی کول) څخه د فراغت وروسته احرام خلاصوي، بیا د ذوالحجې په اتم (۸) تاریخ باندي د مسجد الحرام څخه د حج احرام تړي، دي حج کوونکي ته متمتع ویل کیږي پر متمتع او قارن باندې دم پسه (د شکریې) واجب دی.(۱)

دریم– حج افراد معنی یوازي او جلا کار کول او د شریعت په اصطلاح کې حج افراد هغه حج ته ویل کیږي چې د سفر په وخت کي د احرام تړلو پر مهال یوازي د حج په نیت احرام وتړي

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۲۳۸/ الخانية على هامش الهندية: ج ۱ ص ۳۰۴/ اللباب: ص ۲۹۸/ العناية شرح الهداية: ج ۲ ص ۷۰ وص ۷۱ (بيروت)/ رد المحتار: ج ۳ ص ۷۶۱ (القاهرة).

ketabton.com - The Digital Library



او یوازي د حج افعال اداء کړي د عمرې نیت ورسره ونه کړي، دې حج کوونکي ته مُفرِد ویل کیږي پر مفرد باندي دم (پسه د شکریې) نه سته.(۱)

د مکې شریفي او داخل د میقات اوسېدونکي یوازي حج افراد اداء کولای سي، قران او تمتع نه سي اداء کولای، که یې قرآن یا تمتع اداء کړل حج یې صحیح کیږي لیکن یو دم باندې لازم دی.(۲)

## (د حج فرائض)

په حج کي (۳) دري فرضونه دي اول (۱) د عرفات تر درېدلو مخکي د احرام تړل دي، دوهم (۲) پر عرفات دریدل په خپل وخت کي، دریم (۳) طواف زیارت.(۳)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ٤۲/ شرح النقابة: ج ۲ ص ۲۲۶.

(۲) فتاوی رحیمیه: ج ۵ ص ۲۲۱.

(۳) وفرائض الحج ثلاثة أشياء الخ. الحاوي القدسي: ج ۱ ص ۳۳۸/ الدر المختار: ج ۳ ص ۶۴۸ القاهرة/ الشامي: ج ۲ ص ۱۶۰ لباب ص ۷۳.

ketabton.com - The Digital Library



## (د حج واجبات)

دحج واجبات شپږ (۶) دي:

(۱) د مزدلفي شريفي وقوف (دريدل) په خپل وخت کي، (۲) شيطانان ويشتل، (۳) د حج شکريي (قرباني) حلالول د قارن او متمتع له پاره (۴) د صفا او مروا په منځ کي تګ راتګ (سعي) کول (۵) (حلق) د سر وريښتان خرييل يا کوچني کول (۶) طواف وداع د خداى په آمانى طواف د آفاقي له پاره چي د ميقات څخه دباندي او سيږي.(۱)

## (د حج سنت افعال)

اول (۱) د احرام له پاره غسل کول (۲) طواف قدوم: د قران او افراد حج کونکي له پاره چي افاقي وي (۳) په طواف کي (رمل) تيز روان وي اوږي ښوروي په پهلواني سره (۴) په

(۱) مجمع الانهر: ج ۱ ص ۴۱۱/ البدائع: ج ۲ ص ۳۲۲/ الشامي: ج ۲ ص ۱۶۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۵ ص ۱۱/ اللباب مع الشرح: ص ۱۰٤/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۷۲/ رد المحتار: ج ۳ ص ٦٤٩.

ketabton.com - The Digital Library



سعي کي نارينه د صفا او مروا ترمنځ د لومړي زرغونو ګروپانو څخه تر زرغونو ګروپانو پوري په ميانه ځغستلو سره وځغلي (۵) د عرفي شپه په منی کي تيرول (۶) له منی څخه و عرفات ته له لمر ختلو وروسته تلل (۷) د عرفات د وقوف دريدو له پاره غسل کول (۸) په مزدلفه کي د اختر شپه تيرول (۹) د اختر شپي او ورځي په منی کي تيرول (۱۰) د اختر په دوهمه دريمه او څلورمه ورځ شيطانان په ترتيب سره ويشتل.(۱)

دحج نور ډير سنتونه سته چي د حج په مسائلو او احکامو کي ذکر سوي دي.

د سنتو پرېښودل په قصد سره ښه کار نه دی او په اداء کولو سره ثواب لري، خو په پرېښودلو سره يې کوم شی نه لازميږي.

(۱) ارشاد الساري الى مناسك الملا علي القاري ص ۸۲ ۸۳ ۲۷۶ مكتبة الحقانية الهندية: ج ۱ ص ۲۴۲ بيروت البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۱۰ الموسوعة الفقهية: ج ۳۹ ص ۵۸.

ketabton.com - The Digital Library



## (د حج کولو نیت)

د حج او عمرې له پاره په زړه سره نیت کول کفایت کوي، بله ضروري خبره دا ده چې زموږ اکثره وروڼو ته د حج نیت نه وي معلوم، نو هېره دې نه وي چې نیت اصلاً د زړه نیت معتبر دی، د هر ډول حج نیت چې دې په زړه کې کړی وي هغه ته اعتبار دی، د نفلي حج په نیت کولو سره فرضي حج نه اداء کیږي، د نیت کولو په وخت کې که حج فرض وي او یا نه وي.(۱)

په ژبه سره نیت کول ښه او افضل دی نیت په خپله مورنی ژبه سره هم کولای سي خو په عربي ژبه سره ښه دی، نو د حج افراد نیت دې داسي وکړي:

**اللّٰهُمَّ إِنيِّ أُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ!**

---

(۱) رد المحتار: ج ۳ ص ۶۸۳/ ارشاد الساري: ص ۱۲۰.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: اې الله ﷻ زه حج کول غواړم راته اسانه او را څخه قبول يې کړې.

د تمتع نيت دې دا ډول وکړي:

**اللّٰهُمَّ إِنِيِّ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ!**

## (د اوومې «۷» ورځې د طواف قدوم بيان)

چې د لوی اختر د مياشتې اوومه ورځ سي لومړی دې د سر، بريتو، او ږيرې وريښتان برابر او سم کړي، دوهم دې د لاسو او پښو نوکان واخلي دريم دې د بغلو او تر نامه لاندې وريښتان لرې کړي، څلورم دې د سنتو په نيت غسل وکړي او که غسل تکليف و نو به اودس تازه کړي بيا به په کوټه کې کالي وکاږي احرام به وتړي و حرم شريف ته به د حج د احرام د نيت کولو له پاره راسې دوه رکعته سنت لمونځ د احرام به وکړي، پس له لمانځه به نيت د فرضي حج د اسلام وکړي بيا به تلبيه درې (۳) ځله ووايي، بيا به اوه (۷) شوطه طواف قدوم

ketabton.com - The Digital Library



چې سنت دی وکړي طواف قدوم هغه طواف ته ویل کیږي چې اول ځلي سړی کعبې شریفي ته ورسي او طواف کوي، دغه طواف ته طواف التحیه او طواف اللقاء هم ویل کیږي طواف قدوم د هغه افاقي له پاره سنت دی چې حج افراد (یوازي حج) کوي او یا حج قران (حج او عمره دواړه) په یوه نیت کوي او د تمتع او عمره کوونکي له پاره نه دی سنت.(۱)

که څوک طواف قدوم پرېږدي هیڅ شی نه پر لازمیږي؛ البته سنت ځني پاته سوه که طواف قدوم شروع کړي بیا یې تر پوره کېدو مخکي پرېښودی اوس که یې د طواف قدوم ډېر

(۱) وهو سُنَّةٌ للأفاقي المُفْرِد بالحج والقارن. لباب المناسک: ص ۱۵۶ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۰/ غنية الناسك: ص ۱۰۸ الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ۶۳/ حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح: ص ۶۰۲.

ketabton.com - The Digital Library



شوطونه پرېښې وه دم پر لازم دی او که يې لږ شوطونه پرېښي و صدقه لازمه ده.(۱)

که طواف قدوم د طواف په نيت يا د نفلي طواف په نيت وکړي دغه طواف د طواف قدوم پر ځای درېږي.(۲)

## (د اتمي د ورځې او منی بيان)

د اتمي په ورځ د حاجيانو له پاره سنت دا دی چې تر لمر ختلو وروسته تر زوال مخکې ووځي او تر لمر ختلو مخکې وتل د سنت خلاف دي او تر زوال وروسته وتل هم پروا نه لري؛ خو په دې شرط چې د ماپښين لمونځ په منی کې وکړي او د عرفات

(۱) من ترک طواف التحية لم يلزمه شيء الفتاوی الولوالجية: ج ۱ ص ۲۹۰/ غنية الناسک ص ۲۷۶/ فتح القدير: ج ۲ ص ۴۶۴/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۲/ ارشاد الساري ص ۳۹۰.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۸۱/ لباب المناسک: ص ۱۴۱/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۶.

ketabton.com - The Digital Library



تر سهار پورې په منی کې پاته سي، دغه پنځه لمونځونه او د غه شپه به په منی کې وکړي.(۱)

د اتمې په ورځ منی ته تلل سنت دي.(۲)

که معلمین حاجیان د اتمې تر ورځې مخکې منی ته بوزي پروا نه لري.(۳)

د اتم تاریخ د شپې څخه حاجیان منی ته حرکت شروع کوي، نو باید پر وخت باندې د حج د احرام له پاره آمادګې ونیسي؛ ترڅو د معلمینو تر قیادت او نظم لاندې په منی کې خپلو استوګنځایو ته ورسیږي او د معلم له خوا چې د پېژندګلوي کوم کارډ ورکول کیږي هغه دې د ځان سره وساتي؛ ترڅو د

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۳۹ ص ۵۸/ غنية الناسک: ص ۱۴۶/ ارشاد الساري: ص ۲۰۸ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۸.

(۲) الموسوعة الفقهية: ج ۳۹ ص ۵۸/ شرح الباب: ص ۲۰۸.

(۳) غنية الناسك: ص ۱۴۶/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۲۰۱۷/ حاشية الطحطاوي: ص ٦٠٤/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۵۸۸/ اللباب: ص ۲۰۸ وص ۲۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



ورکېدو په وخت کې په منی او عرفات کې خپله خیمه او معلم پیدا کړي.
که یو څوک د نهمي شپه له منی څخه پرته په بل ځای کې وکړي روا ده خو ښه کار نه دی؛ ځکه ډېر سنتونه یې پرېښودل چې هغه په منی کې پنځه لمونځونه او شپه کول وه که د نهمي (عرفات) په ورځ تر سپېدو مخکې یا د سهار د لمانځه مخکې د منی څخه عرفات ته روان سي د سنت خلاف کار دی البته شی نه پر لازمیږی.

## (د نهم د ورځې وظیفه او د عرفات مسائل)

د نهمي په ورځ د سهار د لمانځه وروسته دي عرفات ته حرکت وکړي، که څه هم د معلمینو موټران د شپې له خوا هم حاجیان صاحبان د منی څخه عرفات ته انتقالوي؛ لیکن ښه دا ده چې د سهار لمونځ په منی کې اداء کړي، سنت دا دی چې د نهم د ورځې تر لمر را ختلو پوري په منی کې پاته سي، دغه پنځه

ketabton.com - The Digital Library



(۵) لمونځونه د اتمي (۸) د ماپښین څخه د عرفات تر سهار پوري په منى کي کول سنت دي.(۱)

## (د عرفات درېدل په حج کی فرض دي)(۲)

رسول الله ﷺ فرمايي: (الحج عرفة) يعني حج د عرفې د ورځې څخه عبارت دى په دې ورځ پر عرفات درېدل د حج ستر رکن دى که په خپل وخت کي د عرفي درېده د رڅخه پاته سوه تېوله خواري مو ولاړه پر کال به بيا حج ته ځئ. په عرفات کي د وقوف (درېدلو) وخت تر زوال وروسته شروع کيږي نو د زوال څخه مخکي دي د ډوډۍ او ضرورياتو څخه ځان فارغه کړي.(۳)

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۳۹ ص ۵۸/ غنية الناسک: ص ۱۴۶/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۷۱.

(۲) الدر المختار: ج ۳ ص ٦٤٨.

(۳) وفرائض الحج ثلاثة اشياء الاحرام، والوقوف بعرفة، وطواف الزيارة. الحاوي القدسي: ج ۱ ص ۳۳۸/ الشامي: ج ۲ ص ۱۴۰/ البحر: ج ۲ ص ۵۹۴/ المبسوط للسرخسي: ج ص ۳۵.

ketabton.com - The Digital Library



## (د عرفات د درېدو د صحت شرطونه دوه دي)

۱- درېدل به د عرفات په ځمکه کي وي.

۲- د عرفات په وخت کي به وي.

د عرفات د درېدو له پاره غسل کول سنت دي.(۱)

د عرفات پر میدان درېدل د نهمي د ورځي د زوال وروسته بیا د اختر د ورځي تر دوهمو سپېدو یعني صبح صادق پوري په عرفات کي وخت تېرول که څه هم ډېر لږ وي، لکه یوه دقیقه او یا تر دغه کم یوه لحظه تېرول فرض دي او دا یو خاص ځای او خاص وخت دی یوه لحظه هم مه ضائع کوی او تر مابنامه پوري په تلبیه ویلو توبه استغفار غوښتلو په ژړا زاریو او دعاء وخت تېر کړی که حاجیان د زوال څخه ډېر مخکي عرفات ته ورسېدل نو د ضرورت په اندازه دي تر زواله آرام وکړي هیڅ

---

(۱) وأما سنته فالاغتسال للوقوف، البحر: ج ۲ ص ۵۹۴/ غنیة الناسک ص ۱۶۰/ الموسوعة الفقهیة: ج ۴۵ ص ۳۱۷ الهندیة: ج ۱ ص ۲۲۹.

ketabton.com - The Digital Library



شی وربانديي نه ستهِ، خو بيا دي زوال ته لږ په نزدي وخت کي راپورته سي غسل يا اودس دي وکړي.(۱)

عرفات په ولاړې کول مستحب دی په ناسته هم روا دی.(۲)

که یو څوک د اختر په شپه کې عرفات ته ولاړ سي د سنت خلاف کار دی خوفرض په اداء کيږي او شی نه پر لازميږي.(۳)

که يو څوک په خپله خوښه د عرفات په وخت کې عرفات ته په ناپاکي کي ورسيږي او يا په دې نه وي خبر چې دا عرفات دی يا بيده وي، يا ليونی وي يا بيهوښه وي او يا په عرفات کي تېر سي په ټولو حالاتو کي د عرفات فرض په اداء کيږي او د

---

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲۲۷/ الهندية: ج ۱ ص ۲۷۷.

(۲) البدائع: ج ۲ ص ۳۰۳/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۹/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۰۷۵/ غنية الناسک ص ۱۵۹/ اللباب: ص ۲۲۶.

(۳) شرح اللباب: ص ۲۲۷/ الشامي: ج ۲ ص ۱۶۱/ غنية الناسک ص ۱۵۹.

ketabton.com - The Digital Library



عرفات پر میدان باندي د درېدو له پاره له ماشتني عادت څخه پاکی نه ده شرط.(۱)

رسول الله ﷺ د عرفات په ورځ د عرفات د غونډۍ لاندي د لاري راسته طرف ته چې کومي غټې توري ډبري دي چې اوس په مسجد الصخرات سره مشهوري دی هلته درېدلی دی نو هلته درېدل سنت دي او که بل چا ته ضرر رسیدی بیا به دغه ځای ته نه ورځي.(۲)

د عرفات غونډۍ ته ورختل دغه عمل د سنت خلاف دی ځيني کسان جبل رحمت ته ختل ثواب بولي سره له دې چې دا حقيقت نه لري نو د غونډۍ د ختلو څخه ځان ساتل په کار دي.(۳)

---

(۱) غنية الناسك: ص ۱۵۹/ اللباب: ص ۲۲۶.

(۲) تبيين الخالق: ج ۲ ص ۲۸٦/ فتاوى الهندية: ج ۱ ص ۲۲۹.

(۳) الموسوعة الفقهية: ج ۴۵ ص ۳۲۶/ البحر: ج ۲ ص ۵۹۵/ الهندية: ج ۱ ص ۲۲۹/ غنية الناسك: ص ۱۶۹.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله ﷺ په حج کې د عرفات په ورځ روژه نه ده نیولې.(۱)

د عرفات د ورځې روژه د هغه حاجي له پاره مستحب ده چې تکړه وي د روژې نیولو په وجه د هغه د عرفات په درېدلو او دعاوو کې فرق نه راځي او د هغه حاجي له پاره مکروه ده چې د روژې په وجه کمزوری کیږي.(۲)

## (مسجد نَمِره «د عرفات مسجد» ته د تللو حکم)

ځنې حنفي مذهبه حاجیان مسجد نمره ته په عرفات کې د حاضرېدلو ډېر زیات اهتمام کوي؛ ترڅو د مسجد نمره فضیلت حاصل کړي، د امام په اقتداء کې د ماپښنین او مازدیگر لمونځونه یو ځای وکړي، نو عرض دا دی چې اول خو په حنفي مذهب کې د ماپښنین او مازدیگر لمونځونه سره

---

(۱) منحة الخالق: ج ۲ ص ۵۹۵/ شرح اللباب: ص ۲۲۸/ الفقه الاسلامي و آدلته: ج ۳ ص ۲۲۴۰.

(۲) منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۵۹۵/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۸ ص ۹۱/ الشامي: ج ۲ ص ۹۱.

ketabton.com - The Digital Library



یو ځای کول د حاجي له پاره په عرفات کې واجب نه دي بلکې سنت دي، په ځینو وختونو کې د دغه مسجد امام بې له دې چې مسافر وي لمونځ قصر (دوه رکعته) کوي چې دا د احنافو په نزد جائز نه دي.

دوهم دا چې دا دوه لمونځونه سره یوځای کول څو شرطونه لري:

۱ - تر دغه لمونځو مخکې به یې د حج احرام تړلی وي.

۲ - دواړه لمونځونه به په جماعت سره کوي.

۳– د وخت امام او یا د هغه نائب به دغه لمونځونه ورکوي.

۴ -د ماپښین لمونځ به د مازدیګر د لمانځه دمخه کوي.

۵– تر زوال وروسته د مازدیګر د وخت تر داخلیدو مخکې به وي.

۶-په عرفات کې یا به عرفات ته نژدې وي؛ که په دغه شرطونو کې یو شرط نه وي پر ځای هغه نور پنځه تول پر ځای وي نو بیا

ketabton.com - The Digital Library



به د ماپښين لمونځ د ماپښين په وخت کي په اذان او اقامت سره په جماعت اداء کړي د مازديګر لمونځ به د مازديګر په وخت کې په اذان او اقامت سره په جماعت اداء کړي او د مازديګر لمونځ او ماپښين لمونځ چي په عرفات کي پر يو ځای باندي کيږي په دغه يو ځاي والي کي مقيم او مسافر فرق نه لري.(۱)

په عرفات کي مخامخ قبلي ته درېدل مستحب دي.

په عرفات کي تر لمر لوېدو پوري پاتېدل واجب دي.(۲)

په عرفات کی سنت دا دي چي ځان به د غفلت او کوتاهي څخه ساتي ځکه دا ورځ بيا هر وخت نه پيدا کيږي ډېري ښې ښې دعاوي به کوي تلبيه به وايی استغفار به وايی پر رسول الله

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۴۵ ص ۳۲۴/ غنية الناسک: ص ۱۵۱/ جواهر الفقه: ج ۲ ص ۱۳۳/ شرح اللباب ۲۳۱/ ارشاد الساري: ص ۲۱۲.

(۲) فتاوى دارالعلوم ديوبند: ج ۶ ص ۵۴۷/ الشامي: ج ۲ ص ۱۶۱ ، وينبغي أن يقف مستقبل القبلة، الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۷۳/ اللباب: ص ۲۲۸/ غنية الناسک: ص ۱۶۱ و ص ۱۵۹.

ketabton.com - The Digital Library



ﷺ به درود وايي، ذکر به ډېر ډېر کوي، په اخلاص سره به د خپلو ټولو ګناهونو څخه توبه کاږي، بخښنه به غواړي، ژړا به کوي او د خدای ﷻ د رضا له پاره به خپل غټ تليفون بند کړي، قصدي او غير قصدي ګناهونه دربخښل کيږي، هر چاته چي دي دعاء کوي هغه ته هم مغفرت کيږي چي زه حقير د دغه مناسک ترتيب کوونکی سيد نور الله آغا (مدني) دي هېر نه سم قبول وخت په لاس درغلی دی چي د رڅخه خطا نه سي او خپل دا قيمتي وخت په ښه ارام او سکون سره د الله ﷻ په ياد او ذکر کي تېر کړه دغه دعاء کوه چي حج دي قبول سي د ټولو ګناهونو څخه به خلاص سې او دا به وايې يا الله ﷻ زما ټولي دعاکاني زما له طرفه څخه قبولي کړه آمين ثم آمين!

د عرفات ټوله ځمکه د هر معلم خېمې او سړکان د دعاء د قبول او دربدلو ځای دی غير له شېلو څخه يعني عُرَنَه شيله کي دربدل جائز نه دي چي د مسجد نمره لويديځ اړخ ته ده.(۱)

(۱) ومن السنة أن يكثر من الدعاء، والتكبير والتهليل والتلبية، والاستغفار، وقراءة القرآن والصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم الخ. البحر: ج ۲ ص ۵۹۵/ الموسوعة

ketabton.com - The Digital Library



که یو څوک تر لمر لوېدو مخکې له عرفات څخه د عذر په وجه یا بې له عذره ووځي یو دم پر لازم دي، معذور او غیر معذور فرق نه لري؛ البته که تر لمر لوېدو مخکې بېرته راوګرځي او بیا تر لمر لوېدو وروسته ووځي یو اځي په دغه حالت کې له دغه لازم دم څخه خلاصیږي او که تر لمر لوېدو وروسته عرفات ته راوګرځي د هغه دم څخه نه خلاصیږي که یو څوک تر لمر لوېدو وروسته په عرفات کې ډېر وځنډیږي که د عذر په وجه وځنډیږي پروا نه کوي او که بې له عذره وي نو بیا مکروه کار دی.(۱)

په عرفات کې د حدودو خیال باید وساتل سي، د مسجد نمره زیاته برخه په عرفات کې داخله ده البته یو څه حصه یې د محراب له خوا څخه سم نیمی تقریباً په عرفات کې داخله نه ده، ځیني ناخبره حجاج په دغه برخه کې وقوف (درېده) کوي،

---

الفقهية: ج ۴۵ ص ۳۲۷ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۴۵/ معلم الحجاج: ص ۱۸۸/ ارشاد الساري: ص ۲۳۱.

(۱) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۷۶/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۱/ اللباب: ص ۲۳۲/ اللباب مع الشرح: ص ۲۳۵.

ketabton.com - The Digital Library



که یوڅوک د اول څخه تر اخره پورې په همدې ځای کې د مسجد نمره وقوف (درېده) وکړي نو له هغه څخه د حج رکن (فرض) وقوف عرفه فوت (تیر) سو او حج یې خراب سو.(۱)

## (د مزدلفې شریفې د وقوف «درېدلو» بیان)

د عرفات څخه د لمر لوېدو وروسته حاجیان صاحبان مزدلفې شریفې ته روانېږي کله چې مزدلفې شریفې ته په خیر ورسیږي، د ماښام او ماخوستن لمونځونه په مزدلفه شریفه کې کول واجب دي، که یې په جماعت سره کوي که یې یوازې کوي؛ ځکه چې په جماعت سره اداء کول یې شرط نه دی، په جماعت سره یې کول سنت مؤکد دي.

په مزدلفه شریفه کې د ماښام او ماخوستن د لمونځونو د یو ځای کولو پنځه شرطونه دي:

۱– د حج احرام به یې تړلی وي.

---

(۱) ارشاد الساري: ص ۲۳۱ مکتبه حقانية.

ketabton.com - The Digital Library



۲- پر عرفات به مخکې درېدلی وي.

۳- د اختر شپه به وي.

۴- په مزدلفه شریفه کې به وي.

۵- ماخوستن وخت به وي.

که په دغه پنځو شرطونو کې یو پاته سي نو بیا د ماښام او ماخوستن د لمونځونو جمع کول روا نه دي.(۱)

په مزدلفه شریفه کې د ماښام او ماخستن دواړه لمونځونه دي یو ځای د ماخستن په وخت کې اداء کړي، د دواړو له پاره دي یو آذان او یو اقامت وکړي اول به د ماښام درې رکعته فرض لمونځ په نیت د حاضر وخت د ماخستن وکړي، قضاء نه بلل کیږي؛ ځکه چې دغه تاخیر د شریعت په امر سره دی تر سلام

(۱) والجماعة سنة مؤكدة في هذا الجمع وليست بشرط، غنية الناسک: ص ۱۶۳ وص ۱۶۵/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۱/ اللباب: ص ۲۳۷ وص ۲۴۰ جواهر الفقه: ج ۲ ص ۱۳۸.
وللجمع بمزدلفة شروط هي الاحرام بالحج الخ. الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۹۶.

ketabton.com - The Digital Library



ګرځولو ورسته دي د تشریق تکبیرونه ووایي، تلبیه دي ووایي، د لمانځه د ولاړېدو په حال کي، بیا دي بې له اقامت څخه فوراً د ماخستن فرض په جماعت سره اداء کړي سلام دي وګرځوي، د تشریق تکبیرونه دي ووایي، تلبیه دي ووایي که مسافر وو د ماخستن دوه رکعته فرض به وکړي، که مقیم وو نو څلور رکعته فرض به وکړي، تر دي وروسته دي د ماښام دوه رکعته سنت بیا د ماخستن دوه رکعته سنت او وروسته دي درې رکعته وتر اداء کړي، خو د دغه دوو فرضونو تر منځ دي سنت او نفل نه کوي دا دوه فرضونه یو ځای کول واجب دي.(۱)

---

(۱) البدائع: ج ۲ ص ۳۵۵/ الهدایة مع الفتح: ج ۲ ص ۳۷۷/ البحر: ج ۲ ص ۵۹۷/ غنیة الناسک: ص ۱۶۳/ الشامي: ج ۲ ص ۱۸۸ وص ۱۹۲/ منحة الخالق علی البحر: ج ۲ ص ۵۹۰./ مناسک ملا علي القاري: ص ۲۱۷.

وینوی المغرب اداء لاقضاء، اللباب: ص ۲۳۷/ النهر الفائق: ج ۲ ص ۸۵/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲٤۲.

ketabton.com - The Digital Library



که چیري یو څوک مزدلفې شریفې ته له رسېدلو څخه مخکې په لاره د ماښام لمونځ اداء کړي نو هغه لمونځ یې صحت نه لري په مزدلفه شریفه کې د ماخستن په وخت دوهم ځل ورباندې راګرځول واجب دي.(۱)

د مزدلفې شریفې شپه ډېره د برکت او فضیلت شپه ده، ځینو علمای کرامو د لیلة القدر تر شپې هم ښه بللې ده نو کوښښ وکړئ چې ښه په عبادت سره یې تېره کړئ په مزدلفه شریفه کې د اختر شپه تېرول سنت مؤکد ده که یو څوک دغه شپه بل ځای وکړي د سنت خلاف عمل دی البته شی نه پر لازمیږی.(۲)

د مزدلفې شریفې درېدل واجب دي د درېدلو اول وخت یې دا دی: له صبح صادق څخه چې (دوهمې سپېدې) راوخيژي بیا د اختر د ورځې تر لمر ختلو پوري دی، د صبح صادق په راختلو او آذان سره متصل دي حجاج مبارکان سنت اداء کړي

---

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲۲۹/ ارشاد الساري: ص ۲۳٦.

(۲) غنية الناسک: ص ۱۶۵ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۳/ فتح القدير: ج ۲ ص ۱۸۱/ الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۹۶/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲٤٤.

ketabton.com - The Digital Library



او د سهار لمونځ دې په اول وخت کې په جماعت سره اداء کړي او بیا دې وقوف وکړي نو که یو څوک تر سپېدو مخکې یا تر لمر راختلو وروسته ودرېږي په دغه درېدلو واجب نه اداء کېږي او د مزدلفې شریفې واجب وقوف په لږ درېدو سره هم اداء کېږي، که څه هم تر دقیقه لږ وخت وي. په مزدلفه کې د سپېدو وروسته بیا د لمر راختلو لږ مخکې دغه ټول وخت سنت دي.(۱)

په مزدلفه شریفه کې د وادي (شېلې) محسر څخه ماسېوا د مزدلفې شریفې په هر ځای کې چې ودرېږي واجب اداء کېږي خو ښه دا دي چې د مشعر الحرام پر غونډۍ باندې ودرېږي که اسانه وي او که نه وي بیا تر غونډۍ لاندې او یا غونډۍ ته نژدې به ودرېږي. که یو څوک بېده یا لیونی یا نشه یا بېهوښه وي نور خلک یې مزدلفې شریفې ته یوسي په دغه باندې د ده

---

(۱) رد المحتار: ج ۲ ص ۲٤٤ والوقوف بمزدلفة واجب مجمع الانهر: ج ۱ ص ٤۱۱/ الزیلعي: ج ۲ ص ۳۰۰/ التاتارخانیة: ج ۲ ص ۱٦٥/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۳/ الدر المختار: ج ۳ ص ٦٤٨/ الموسوعة الفقهیة: ج ۳۷ ص ۱۰۱/ الهدایة: ج ۱ ص ۲۲٥ وص ۲۲۹.

ketabton.com - The Digital Library



په مزدلفه شریفه کې د درېدو واجب اداء کېږي او که یو څوک د اختر د ورځې د سپېدو وروسته او تر لمر راختلو مخکې په موټر کې په مزدلفه شریفه کې تېر سي او راکښته نه سي د مزدلفې شریفې واجب په اداء کېږي او شی نه پر لازمیږي.(١)

که مریض، ضعیف او یا ښځه د مزدلفې شریفې درېدل پرېږدي شی نه پرې لازمیږي او که له دغو درو څخه پرته بې له عذره څخه بل څوک د مزدلفې شریفې درېدل پرېږدي او یا لږ وخت هم پاته نه سي او یا په شپه کې تر صبح صادق مخکې له مزد لفې شریفې څخه ولاړ سي؛ دم پر لازم دی او که د ښځې محرم او یا د ضعیف او مریض ملګری د دوی په وجه د مزدلفې

(١) الشامي: ج ٢ ص ١٩١ وص ١٩٣/ فتح القدير: ج ٢ ص ٣٨١/ الزيلعي: ج ٢ ص ٣٠٠/ اللباب: ٢٤٣/ زبدة المناسك: ص ١٨٠/ غنية الناسک: ص ١٦٥ وص ١٦٦/ المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ٧٢.

ketabton.com - The Digital Library



شريفي دريدل پرېږدي دم پر لازم دي همدا راز که جوړ سړی د رش (ګڼه ګوڼې) له کبله د مزدلفې شريفي دريدل پرېږدي دم پر واجبيږي.(۱)

که څوک د مزدلفې شريفي د دريدو په وخت کي په خيمه کي وي او خيمه يې په مزدلفه شريفه کي وي لکه په دا موجوده وخت کي چي معلمانو د منی يو څه خيمې په مزدلفه کي درولي وي د شپې سنت او د مزدلفې شريفي د دريدو واجب په اداء کيږي؛ خو که دغه خيمه په محسر شپله کي ولاړه وي بيا روا نه دي.(۲)

---

(۱) اللباب: ص ۲۴۲/ الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۸۰/ معلم الحجاج: ص ۱۷۳/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۳/ غنية الناسک ص ۱۶۶/ البحر: ج ۲ ص ۶۰۰.

(۲) الموسوعة الفقهية: ج ۳۷ ص ۹۵/ شرح النقابة: ج ۲ ص ۲۵۶/ غنية الناسک: ص ۱۶۷/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۱.

ketabton.com - The Digital Library



که یو څوک عرفات ته د شپې په اخیر کې ورسېدی او وروسته د خپل کوښښ کولو سره تر لمر راختلو مخکې و مزدلفې شریفې ته نه ورسېدی او یا څوک مزدلفې شریفې ته روان وي خو د وخت د تنګوالي په وجه پر دې وېرېږي چې تر سپېدو مخکې مزدلفې شریفې ته نه سم رسېدلای نو دغه سړی پر لارې باندې د ماښام او ماخستن لمونځونه کولای سي او هیڅ شی نه سته؛ نه دم او نه صدقه او حجاج چې د حج په مناسکو مشغول وي د اختر لمونځ نسته باندې.(۱)

## (د مشعر الحرام غر)

مشعر الحرام چې د مزدلفې شریفې مسجد ته پر چپه لاس نژدې پر (۱۵۰) متره یو کوچنی غر دی نښه یې دا ده چې د غره

(۱) البدائع: ج ۲ ص ۳۵۶/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۰/ الزيلعي: ج ۲ ص ۲۹۸/ غنية الناسک: ص ۱۶۶/ ارشاد الساري: ص ۲۴۱/ زبدة المناسك: ص ۱۸۱/ الشامي: ج ۲ ص ۷۲۴/ المبسوط للسرخسي: ج ۱۲ ص ۲۴/ شرح اللباب: ص ۲۶۰.

ketabton.com - The Digital Library



پر یوه برخه باندي یې بلډنګ (عماره) دی چي دې مبارک غره ته ورختل هم سنت دي او د هر حاجي صاحب به دا عقیده وي چي زما ټول حوائج او دعاګاني الله تعالی ﷻ په همدې ځای کي راپوره کوي؛ ځکه د رسول الله ﷺ ټولې غوښتني د امت په باره کې په همدې ځای (مشعر الحرام) کي الله ﷻ قبولي کړي دي، الله تعالی دي زموږ د ټولو حاجیانو ټول حاجتونه او دعاګاني په همدې مشعر الحرام کي را پوره کړي، آمین ثم آمین!

## (د لسم د ورځې وظیفه او بیان)

د لسم په ورځ چي د اختر اوله ورځ ده د مزدلفې شریفي څخه و منی شریفي ته چي تاسو راورسیږئ، په دغه ورځ د اعمالو تر منځ ترتیب واجب دی که کوم عمل مخ یا شا ته سو نو بیا دم پر لازمیږي، چي ترتیب یې په لاندي ډول دی:

اول– کله چي حج کوونکی منی ته ورسیږي نو لومړی به جمرة العقبة (غټ شیطان) په اوو (۷) ډبرو سره وولي د شیطانانو

ketabton.com - The Digital Library



ويشتل واجب دي، د اختر د ورځې سره په څلور ورځو کې واجب دي؛ خو په څلورمه ورځ کې هغه وخت واجب کيږي چې د دغه څلورمي ورځې سپېدې په منی کې پر راوخيژي او که تر دغه مخکې د منی څخه ولاړ شي بيا د دغه څلورمي ورځې شيطانان ويشتل نه دي واجب او که د څلورمي ورځې تر سپېدو وروسته ولاړ سي دم پر لازم دی.

د ډبرو ويشتلو طريقه دا ده: د جمرة العقبة څخه به لږ تر لږه پنځه گزه ليري ودريږي بيا به د راسته لاس په بټه او د شهادت په گوتو سره به يوه ډبره ونيسي او وبه يې ولي په نورو طريقو سره هم ويشتل روا دي پر هره ډبره به داسي وايې د الله تعالی د رضا او د شيطان د ترټلو له پاره **بِسْمِ اللّٰهِ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ** او که د دغه کلماتو پر ځای نورې کلمې ووايي هم پروا نه کوي، که هيڅ شی نه وايي او پټه خوله ولاړ وي دغه هم روا دي؛ خو د سنت

ketabton.com - The Digital Library



خلاف او مکروه کار دی د اولي شګي (ډبري) په ويشتلو سره دي تلبيه قطعه (بنده) کړي بيا دي يې نه وايي، د جمرة العقبة د ستني په بيخ کي به يې وروغورځوي، که چا په دومره زور سره ځلی وويشتی چي تر ويشتلو وروسته ډبره بېرته له هغه ځايه ولاړه د جمرې له احاطې څخه ووته نو دا ويشتل يې صحيح نه سول دويم وار به يې بيا ولي، که نه اوس خو يې الحمد لله ډېر سم کړي چي ډبره اخور ته ورسيږي نو صحت لري.(١)

دوهم– بيا به د شکريې پسه حلالوي.

(١) اتفق الفقهاء على ان رمي الجمار واجب. الموسوعة الفقهية: ج ٢٣ ص ١٥٠/ البدائع: ج ٢ ص ٣٢٢/ الهداية: ج ١ ص ٢٣٠/ الشامي: ج ٢ ص ١٦١/ غنية الناسك: ص ١٧١/ اللباب: ص ٢٤٧ وص ٢٧١/ مجامع المناسک ص ٢٦٣/ زبدة المناسک: ص ١٨٨/ احسن الفتاوي: ج ٤ ص ٥٦٨ کتاب الحج.

ketabton.com - The Digital Library



دريم- سر به خريي او يا به يې کوچنی کوي. د افراد حج کوونکي له پاره د شکريې پسه حلالول نه سته، اول به غټ شيطان وولي، بيا به سر خريي يا کوچنی کوي.

د شيطانانو له پاره په مزدلفه شريفه کي د ډبرو ټولول يعني جمع کول ښه کار دی چي جمله (۴۹) ډبري کيږي او که يې د څلورمي ورځي شيطانان ويشتل بيا (۷۰) دانې ډبري کيږي او هر شيطان به په اوو (۷) ډبرو باندي ولي او مستحب دا ده چې د اختر د ورځي (۷) ډبري د غټ شيطان له پاره د مزدلفي شريفي څخه راواخلي او د نورو ورځو ډبري چي د هر ځای څخه راواخلي روا دي، خو يو د مسجد شريف ډبري، مرداري ډبري او هغه ډبري چي شيطان په ويشتل سوی وي په دغه درې قسمه ډبرو باندي ويشتل مکروه دي. د هري ډبري اندازه به د غټ نخود يا د غټي لوبيا يا د خرما د منډکي په اندازه وي او که تر دغه ډبري غټي وي روا دي خو مکروه دي او که لږ کوچنۍ وي روا دي، خو د مستحب خلاف دي، دغټي

ketabton.com - The Digital Library



ډبري په ماتولو او د هغه په ټوټو باندي د شیطانانو ویشتل مکروه دي.(۱)

د ځینو حاجیانو د شیطانانو په ویشتلو کي دا ګمان وي چي دغه جمرات (ځلي) عیني شیطانان دي، ځیني حاجیان ورونه له دي وجهي ډیر جذباتي او په غضب سي په غټو غټیو ډبرو یا په چپلکو سره شیطانان ولي او خلګو ته تکلیف ورکوي، د شیطانانو ویشتل د الله جَلَّ جَلَالُهُ د عبادت په طور اداء کیږي نو باید د شریعت د طریقي موافق وویشتل سي.(۲)

## (په شیطانانو کي د وکالت بیان)

په شیطانانو کي وکالت په خاص ډول بیا په جمرة العقبة (غټ شیطان) کي جائز نه دی که نر وي او که ښځه، جوړ وي او که ناجوړه او که ضعیف وي هر یو به یې په خپله ولي؛ مګر د هغه

---

(۱) الزیلعي: ج ۲ ص ۳۰۲/ البحر: ج ۲ ص ۶۰۱/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۴/ الموسوعة الفقهیة: ج ۱۵ ص ۲۷۸/ غنیة الناسك: ص ۱۶۸/ الهدایة: ج ۱ ص ۲۳۰ بدائع الصنائع: ج ۲ ص ۲۳۵ البحر الرائق: ج ۲ ص ٦۰٤/ فتح القدیر: ج ۲ ص ۳۸۵.

(۲) الهدایة: ج ۱ ص ۲۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



چا له پاره وکالت جائز دی چې داسې مریض وي چې د فرضي لمونځ په ولاړې باندې د اداء کولو قدرت نه لري په ناسته يې کوي يا دومره کمزوری وي چې تر جمراتو (شیطانانو) پورې پر سوارلۍ باندې هم په تکلیف وي یا يې د ناروغۍ د لا زیاتوالي خطره وي یا دومره ناروغ وي چې تر جمراتو پورې پر خپلو پښو نه سي تللای او تر جمراتو پورې د سوارلۍ شی هم نه پیدا کیږي داسې کسان شرعاً معذور دي.(۱)

چې بې له شرعي عذره خپل واجب پریږدي یو خو ګناهګاره دی بل يې حج ناقص سو او په شرعي عذر کې دي یو بل څوک د ځان له پاره وکیل (نائب) وټاکي، هغه دي د ده له پاره شیطانان وولي د ښځو له پاره یا د ضعیفو او ناجوړو له پاره چې ازدحام ګڼه ګوڼه وي ماښام مهال د شیطانانو ویشتل ښه دي هیڅ کراهت نه لري. د شیطانانو ویشتل په راسته لاس سنت دي، د اختر په ورځ به یوازي جمرة العقبة یعني غټ

(۱) الفتاوى الهندية: ج ۱ ص ۱۳٦.

ketabton.com - The Digital Library



شیطان ولي مخامخ به په داسي طریقه سره ورته دریږي چې چپه اوږه به مو د مکې شریفي خوا ته وي او راسته اوږه به مو د منی و خواته وي، چې د کعبې شریفي د طرفه څخه اول ځلی دی او د منی د طرفه څخه دریم ځلی دی او د خپلو ډبرو د لویدو ځای به ویني او که یې د بل طرفه څخه وولي هم روا دي؛ خو د سنت خلاف کار دی.(۱)

که یو څوک جمرة العقبة یعني غټ شیطان د اختر د ورځي تر سپیدو مخکي وولي نه صحیح کیږي دوهم وار به یې په خپل وخت کي بیا ولي.(۲)

---

(۱) غنیة الناسك: ص ۱۷۱/ فتح القدیر : ج ۲ ص ۳۸۳/ ارشاد الساري ص ۲۶۲.

یجب في یوم النحر رمی جمرة العقبة وحدها فقط، الموسوعة الفقهیة: ج ۲۳ ص ۱۵۵/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۴/ مجامع :المناسک ص ۲۶۲ و ص ۲۶۴. و یستقبل في الرمي جمرة العقبة یجعل منی عن یمینه والکعبة عن یساره، الهندیة: ج ۱ ص ۲۳۳ البدائع: ج ۲ ص ۳۶۰ رد المحتار: ج ۲ ص ۳۹٤/ مسائل رفعت قاسمي: ج ۳ ص ۳٤۲.

(۲) ولو رمي قبل طلوع فجر لم یصح اتفاقاً، الشامي: ج ۲ ص ۱۹۶/ الهندیة: ج ۱ ص ۲۳۳/ البحر: ج ۲ ص ۶۰۴.

ketabton.com - The Digital Library



او نور دوه شیطانان له هر طرفه روا دي خو ښه يې دا ده چې مخ يې پر قبله وي او که يو څوک د اختر په ورځ دوهم او دريم شيطان وولي مکروه کار دی.(۱)

د اختر په دوهمه او دريمه ورځ به دري سره شيطانان ولي او هر يو به جلا جلا په اوو (۷) ډبرو سره وولي او سنت دا دی چې د زوال وروسته تر لمر لوېدلو پوري يې وولي وروسته بيا د دغه بلي ورځي تر سپېدو پوري روا دي؛ البته مکروه دي، د ښځو او ضعيفو خلکو له پاره نه دي مکروه؛ ولي د ځان ساتنه فرض ده او تر زوال مخکي ويشتل نه صحيح کيږي.(۲)
که يو څوک په يوه ځل شيطان په اوو (۷) ډبرو سره وولي دغه اوه ډبري پر يوه ډبره حساب دي د شپږو نورو ډبرو ويشتل پر لازم دي.(۳)

---

۱ غنية الناسك: ص ۱۷۱/ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۶۰۲.

(۲) وفي بقية الأيام يرمى الجمار كلها، العناية على هامش الفتح: ج ۲ ص ۳۸۲/ مجامع المناسک: ص ۲۸۴/ اللباب: ص ۲۶۲.

(۳) الموسوعة الفقهية: ج ۲۳ ص ۱۵۳/ غنية الناسك: ص ۱۸۷/ المبسوط للسرخسي: ج ص ۷۵ الهداية: ج ۱ ص ۲۳۰ (كتاب الحج).

ketabton.com - The Digital Library



د اختر په دوهمه دریمه او څلورمه ورځ ټول شیطانان په ترتیب سره ویشتل کیږي، سنت دا دی چې اول ځل به کوچنی شیطان وولي بیا دوهم (میانه) بیا دریم (غټ) شیطان وولي، که یې بې له ترتیبه وولي یعني اول ځل غټ شیطان وولي بیا دوهم (میانه) بیا اول (کوچنی) شیطان وولي نو د سنت خلاف عمل دی؛ خو ښه کار دا دی چې له سره درې سره شیطانان پر ترتیب وولي په راتلونکو پاته ورځو کې د ټولو شیطانانو د ویشتلو همدغه لیکل سوي طریقه ده غفلت مه کوئ، په معمولی عذر سره حاجیان صاحبان د نورو خلکو په واسطه رمي کوي خصوصاً ښځې چې اکثر یې د هغوی محرم نارینه د هغوی له طرفه څخه بې له کوم شرعي عذره رمي یعني د شیطان ویشتل کوي، دا بالکل جواز نه لري په داسې رمي کولو سره دم لازمیږي.(۱)

---

۱ البحر: ج ۲ ص ۶۱۰، و ما ذكرنا من الترتيب في الجمار الثلاث سنة عند الأكثر هو المختار، غنية الناسک: ص ۱۸۵/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۰/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۹۱/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۴ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



د جمرة العقبة د ويشتلو وروسته به د دعاء له پاره په يوه ورځ کې هم د جمرة العقبة (غټ شيطان) وروسته نه دريږي.(۱)

د اول (کوچني) شيطان او دوهم (ميانه) شيطان د ويشتلو وروسته به د دعاء له پاره دريږي؛ خو معلومه دعاء لازمه نه ده، هره دعاء چې يې خوښه وي هغه دې وکړي او سنت دا دی چې مخامخ قبلې ته به ودريږي او لاسونه به د دعاء په شان پورته کړي، د الله تعالی ﷻ حمد به ووايي، اَللّٰهُ أَكْبَرُ به ووايي او لا اله الا الله به ووايي، پر نبي کريم ﷺ به درود شريف ووايي او په عاجزي سره به دعاء وکړي، د ځان له پاره د خپل مور او پلار

(۱) ولا يقف عندها لأن النبي عليه السلام لم يقف عند جمرة العقبة، مجمع الانهر: ج ۱ ص ۴۱۳ البدائع: ج ۲ ص ۳۶۱/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۱۴۵/ الهداية: ج ۱ ص ۲۳۲/ ارشاد الساري: ۲۶۸ وص ۲۶۹.

ketabton.com - The Digital Library



او نورو قريبانو دوستانو او ټولو مسلمانانو لپاره؛ ځکه دغه د دعاء د قبلېدو ځای دی.(۱)

د شيطانانو د ويشتلو ډبرې پريوللمستحب دي که دغه ډبرې يقيني مردارې وي نو په دغه ډبرو باندې ويشتل روا دي؛ خو مکروه دي او که يقيني مردارې نه وي بيا مکروه نه دي.(۲)

که يو څوک تر اول او دوهم شيطان وروسته د دعاء له پاره نه ودريږي د سنت خلاف کار دی؛ خو شی نه لازميږي.(۳)

(۱) المبسوط للشيباني: ج ۲ ص ۳۵۹/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۲/ شرح النقابة: ج ۲ ص ۲۶۶/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۹۲/ المبسوط للسرخسي: ج ص ۷۸. و الوقوف عند الأولين سنة في الأيام كلها، الشامي: ج ۲ ص ۲۰۰.

(۲) فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۵/ الشبلي على الزيلعي: ج ۲ ص ۳۰۲.

(۳) والوقوف عند الأولين بعد الرمي سنة في الأيام كلها، وإن لم يقف جاز، ولا شيء عليه، مجامع المناسك: ص ۲۹۰/ المبسوط للشيباني: ج ۲ ص ۳۵۷.

ketabton.com - The Digital Library



که د یو چا ځخه د جمرة عقبة (غټ شیطان) ویشتل پاته سوه، یا په ټولو ورځو کي شیطانان ویشتل پاته سوه یا د یوې ورځي شیطانان پاته سوه، په همدغه ټولو وختونو کي یو اځي یو دم لا زمیږي او که د یو چا ځخه د یوې ورځي په ویشتلو کي د شیطانانو د یوه شیطان ویشتل پاته سوه، بیا صدقه ورباندي لازمیږي چي د هري ډبري په بدله کي به نصف صاع (نیمه کاسه) صدقه ورکوي، د نیمي کاسې اندازه یو کیلو او یو سل دوشپیته ګرامه کیږي.(۱)

په اوس وخت کي چي پر شیطانانو لوړ منزلونه جوړ سوي دي په هغه کي د شیطانانو ویشتل صحیح دي لوړ او کښته فرق نه

---

(۱) الهداية: ج ۱ ص ۲٥٦ كتاب الحج.

ketabton.com - The Digital Library



لري، د شیطانانو د ویشتلو له پاره اودس کول او درېدل لازم نه دي افضل دي، نو که یې په بې اودسي یا په ناسته وولي روا دي.(۱)

## (د شکریې «قرباني» مسائل)

د اخترپه ورځ دوهمه وظیفه د شکریې (پسه) حلالیده دي. افضل او ښه کار دا دی چي په خپله یې حلال کړي که یې حلالول زده وي یا ورته حاضر سه او حضرت رسول الله ﷺ خپله شکریه په خپل مبارک لاس حلاله کړیده، او یا خو یو قابل اعتماد سړی چي پر هغه باندي مو یقین وي وکالت ورته وسپارئ، د ښځي له پاره مستحب دا دی چي په وکیل یې حلال کړي او وکیل چي د یو سړي اختری یا شکریه حلالوي نو د حلالولو په وخت کي د هغه سړي نوم په خوله باندي یادول نه

(۱) غنیة المناسک: ص ۱۸۶/ اللباب: ص ۲۷۶.

ketabton.com - The Digital Library



غواړي، د زړه نیت صحیح دی له بلي داسي لاري چي د خلکو څخه روپۍ او وکالتونه اخلي شکریه ورحلالوي او وخت یي مجهول وي د داسي اداري له لاري څخه د شکریه کولو څخه ډډه وکړئ ځکه چي هغوی د شکریه حلالول او د سر خرپیلو یا کوچني کولو تر منځ ترتیب واجب نه بولي مستحب یي بولي، نو حاجیان مبارکان اول باید شکریه حلاله کړي بیا وروسته د سر خرپیل یا کوچني کول وکړي. په اوس وخت کي په هیڅ باور نه سته په خلکو مه خطا وزئ، ښه خبره داده چي په خپله یا د یو معتمد وکیل په لاس یي حلاله کړئ.(۱)

---

(۱) والأفضل أن یذبح بنفسه إن کان یحسن ذلك وإلا یستحب له الحضور عند الذبح، اللباب: ص ۲۴۹/ غنیة الناسک ص ۳۵۸ وص ۳۵۹. والسنة للمرأة أن توکل عنها ولیس علی الوکیل أن یقول عند الذبح عمن لأن النیة تجزئ، الفقه الاسلامي وأدلته: ج ۲ ص ۲۷۳۶ وص ۲۷۳۷/ رد المحتار: ج ۱ ص ١٦٤. (ثم انصرف إلی المنحر فنحر ثلاثا وستین بیده ثم أعطي علیا فنحر ما غبر) رواه مسلم في باب حجة النبي ﷺ: رقم الحدیث ۱۲۱۸.

ketabton.com - The Digital Library



شکريه تر جمرة العقبة (غټ شيطان) ويشتلو وروسته که مو حج قران او تمتع وي نو د شکريه حلالول واجب دي او که مو حج افراد کړی وي نو بيا د شکريي حلالول مستحب دي.(۱)

په شکريه کي هر هغه حيوان حلالول جائز دي چي د لوی اختر په اختريانو کي يې حلالول جائز وي نو د حج د شکريي حيوان ښه ګورئ، داسي حيوان اخيستل په کار دي چي صحيح او سالم وي عيب و نه لري، عمر يې پوره وي؛ تر څو شکريه صحيح اداء سي، دغه ډول په اوښ، غوايي او ګامېښه کي د اوو (۷) کسانو او يا تر دغه لږ نفرو شرکت صحيح دی او د ډېرو نفرو شرکت نه صحيح کيږي او په دې شرط شراکت صحيح دی چي ټول به د ثواب نيت لري، نو که يو په دغه خلکو کي د غوښو نيت ولري نو د ټولو اختری يا شکريه نه صحيح کيږي او په دې شرط چي د يوه برخه به هم تر اوومه کمه نه وي

(۱) يجب بإجماع العلماء على القارن والمتمتع أن يذبح هدايا، الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ۴۳/اللباب: ص ۲۹۰/ البدائع: ج ۲ ص ۳۶۱. ثم ذبح إن شاء لأن المفرد لا يجب عليه دم بل يستحب له، شرح النقاية: ج ۲ ص ۲۶۳/ الحاوي القدسي: ج ۱ ص ۳۶۲/ ارشاد الساري ص ۲۴۹.

ketabton.com - The Digital Library



که کمه وي نو بیا د ټولو شریکانو اختری یا شکریه نه صحیح کیږي.

او تر جمرة العقبة (غټ شیطان) ویشتلو مخکي د شکریې حلالول جائز نه دي، که یو سړي د اختر په ورځ شیطان ویشتل وځنډول، په شپه کي یې وویشتی نو شکریه دي هم تر هغه وخته پوري وځنډوي.(۱)

د اختر په ورځ د ذوالحجې په لسم تاریخ شکریه کول ضروري نه ده، د شکریې له پاره درې ورځې مقرري سوي دي؛ د ذوالحجې لسمه، یوولسمه او دوولسمه تر لمر لوېدو پوري په شپه او ورځ چي وغواړي شکریه حلالولي سي، یعني د

(۱) التاتارخانیة: ج ۲ ص ۲۳۸/ الهندیة: ج ۱ ص ۲۶۱/ مجمع الانهر : ج ۲ ص ۱۴۸/ الهندیة: ج ۵ ص ۳۰۴۰/ فتح القدیر: ج ۸ ص ۴۲۹ وص ۴۳۵.

ketabton.com - The Digital Library



اختر په درو ورځو او دوو شپو کي حلالول يې واجب دي او تر دغه مخکي نه دي روا او وروسته روا دي خو دم د تاخير پر لازميږي.(۱)

د شکريې حلالول د حرم دباندي نه صحيح کيږي يعني شکريي او دم دواړو ته د حرم ځمکه شرط ده، په منى کي حلالول يې ضروري نه دي، د حرم د حدود و څخه يې د باندي حلالول جائز نه دي د مکې شريفي پرته په ټوله نړۍ کي صحت نه لري، نو بايد ډير احتياط وکړئ، چي فرض او واجب در څخه خراب نه سي.(۲)

---

(۱) الدر مع الشامي: ج ۲ ص ۲۷۱/ الفقه على المذاهب الأربعة: ج ۱ ص ۶۲۷/ الهندية: ج ۱ ص ۲۶۱.

(۲) اللباب مع الشرح: ص ۲۹۰/ الموسوعة الفقهية: ج ٤۲ ص ۲۵۱/ مجامع المناسک: ص ۳۱۷.

ketabton.com - The Digital Library



د شکریه حلالول تر شیطان ویشتلو وروسته او تر سر خریلو مخکې د قارن او متمتع له پاره واجب دي، که چیری هغوی تر شکریې کولو مخکې د سر وریښتان وخرپیل یا کوچني کړل نو دم پر لازمیږي په دې کې باید له ډېر احتیاط څخه کار واخلي.(۱)

که قارن یا متمتع تر شیطان ویشتلو مخکې شکریه حلاله کړه دم پر لازم دی.(۲)

که قارن یا متمتع د شکریې پسه د اختري په نیت حلال کړي او پر دغه سړي اختری هم واجب و همدغه پسه یې د اختري سو او که مسکین یا مسافر و دغه پسه یې خیرات سو او د حج قرآن یا تمتع د شکریې په نیت به بل پسه حلالوي او که تر دغه

(۱) الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ٤۹٤/ الدر مع الشامي: ج ۲ ص ۲۲٦.

(۲) وإنما يجب دم واحد باعتبار التقديم، البحر: ج ۳ ص ٤٥/ تبيين الحقائق: ج ۲ ص ۳۷٥.

ketabton.com - The Digital Library



دوهم وار شکریې حلالولو مخکې سر وخریې یا کوچنی کړي نو د دغه په وجه دم هم پر لازمیږي او شکریه حلالول هم پر لازم دي.(۱)

که یو څوک د شکریې حلالولو له پاره بل څوک وکیل کړي او هغه وکیل بیا د ده بې اجازې بل سړی وکیل کړي نو صحیح دی پروا نه کوي، که یو څوک بل چاته د خپل شکریې د حلالولو وکالت ورکړي؛ خو هغه وکیل دغه شکریه د خپل ځان په نیت حلاله کړي دغه شکریه د دغه سړي صحیح ده او د وکیل نه ده.(۲)

د شکریې د حلالو په وخت کي دغه الفاظ (بسم الله والله اکبر) یا (بسم الله الرحمن الرحیم) یا په بله طریقه باندي د الله ذکر کول د حلالوونکي له پاره ویل مستحب دي، که په هېره باندي پاته

---

(۱) التبیین: ج ۲ ص ۳۵۱/ مجامع المناسک: ص ۵۷۲/ البحر: ج ۲ ص ٦٤٨/ الهدایة: ج ۱ ص ۲٤۰.

(۲) الشامي: ج ۲ ص ۱۲/ البحر : ج ۲ ص ۳۷۱/ خانیة علی هامش الهندیة: ج ۳ ص ۳۵۵/ مجمع الضمانات: ص ۱۷.

ketabton.com - The Digital Library



سي او يا حلالوونکی ګونګی وي نو پروا نه کوي او که يې قصداً پرېښې دي نو بيا د دغه حلال سوي شي (حيوان) خوراک نه دی روا او دغه شکريه نه بلل کيږي، بلکه شکريه به حلالوي او د حلالوونکي څخه پرته د بل چا ويل او نه ويل هيڅ اعتبار نه لري.(۱)

که قارن يا متمتع د شکريې د رانيولو قدرت نه درلودی نو بيا دي لس (۱۰) روژې ونيسي، درې (۳) روژې دي د ذو الحجې د لسم تاريخ څخه مخکې ونيسي خو ښه دا دی چې د لوی اختر د مياشتې په (۷، ۸،۹) ورځ يې ونيسي پاته (۷) روژی به د حج تر افعالو او د تشريق تر ورځو وروسته ونيسي او کور ته تر راتلو وروسته ښه دي، که يې بل ځای ونيسي هم روا دي، د دغه روژو پرله پسې نيول لازم نه دي او د دغه لسو (۱۰) روژو

---

(۱) و المستحب أن يقول بسم الله والله اكبر، ولو قال بسم الله الرحمن الرحيم فهو حسن، غنية الناسک: ص ۳۶۲/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۱ وص ۱۸۹/ البحر: ج ۸ ص ۳۰۵ وص ۳۰۸. وتشترط التسمية من الذابح حال الذبح، الدر مع الشامي: ج ۵ ص ۲۱۲/ البدائع: ج ۲ ص ۱۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



نیت به د شپې څخه کوي چې د قران یا د تمتع روژه نیسم، که داسي نیت ونه کړي روژه د شکریې له پاره نه صحیح کیږي.(۱)

په متمتع حاجي باندي د حج تمتع په وجه شکریة واجب ده، که یو چا دغه شکریة حلاله نه کړه ورڅخه پاته سوه او کور ته راغلی، په دغه صورت کي پر ده باندي دوه دمه لازمیږي او دواړه به د حرم په حدودو کي حلالوي، که یې په خپله حلالوي او که دوکیل په ذریعه.(۲)

د شکریې د حیوان د غوښو صدقه کول لازم نه دي خپله یې هم خوړل مستحب دي او د نذر او د دم د حیوان د غوښو څخه خوراک نه سي کولای.(۳)

---

(۱) اللباب: ص ۲۹۱ وص ۲۹۵/ الموسوعة الفقهیة: ج ۳ ص ۱۲/ البدائع: ج ۲ ص ۳۸۶/ غنیة الناسک: ص ۲۰۹/ مجامع المناسک: ص ۳۲۳/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۹/ البحر: ج ۲ ص ۴۵۷/ الهندیة: ج ۱ ص ۲۳۹.

(۲) البحر الرائق: ج ۲ ص ٦٣٤.

(۳) غنیة الناسك: ص ۲۰۶/ اللباب مع الشرح: ۲۹۰/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



## (د طواف زيارت مسائل)

کله چي د جمرة العقبة (غټ شيطان) د ويشتلو، شکرېي او سر خرپيلو يا کوچني کولو څخه فارغ سي بيا به د بيت الله شريفي طواف وکړي، طواف زيارت په اتفاق سره رکن او فرض دی، همدغه طواف ته طواف افاضه، طواف حج او فرضي طواف هم وايي. که چيري طواف زيارت تر پورتنيو درو (۳) اعمالو مخکي اداء سي فرض يې اداء کيږي خو د سنت خلاف کار دی.(۱)

د حج طواف زيارت د اختر په اوله ورځ يا شپه کي ښه دی، بيا په دوهمه ورځ يا شپه بيا د دريمي ورځي د مازديګر تر لمر لوېدو پوري يې وخت دی که د دريمي ورځي تر لمر لوېدو مخکي يې اداء نه کړي ورڅخه وځنډيږي طواف زيارت يې

(۱) وأما طواف الإفاضة أو الزيارة فهو ركن باتفاق الفقها، لا يتم الحج إلا به: لقول الله عز وجل:﴿وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾، سورة الحج ۲۹/ الفقه الاسلامي و أدلته: ج ۳ ص ۲۲۰۵ البدائع: ج ۲ ص ۳۰۷ الدر المختار: ج ۳ ص ٦٤٨/ ارشاد الساري ص ۲۵٦/ الهداية: ج ۱ ص ۳۳۱/ المسوط: ج ٤ ص ۲۳.

ketabton.com - The Digital Library



صحیح دی خو د تاخیر دم (پسه) پر لازم دی یعني طواف زیارت اداء کول د اختر په درو (۳) ورځو او دوو (۲) شپو کې واجب دي، که څوک طواف زیارت د مریضي په وجه د اختر تر درو ورځو وځنډوي دم نه پر لازمیږي.(۱)

د طواف زیارت څلور (۴) شوطونه فرض دي او درې (۳) واجب دي، د طواف زیارت د صحت اول وخت هغه وخت دی چې د لسم د اختر د سهار د وهمي سپیدې راپورته سي تر دغه مخکې نه دی جائز او نه صحیح کیږي.(۲)

طواف زیارت د حج رکن دی په هیڅ حالت کې نه فوتیږي، اخیر وخت یې پای نه لري، هر څو کلونه وروسته چې یې اداء کړي

---

(۱) والأفضل هو الطواف في أول أيام النحر، البدائع: ج ۲ ص ۳۱۵/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۰۸/ الدر المختار: ج ۳ ص ٦٤٨. ولكن يجب فعله في أيام النحر أي ولياليها عند الإمام، لباب المناسک: ص ۲۵۷ وص ۳۶۸ وص ۳۹۷/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۹ وص ۲۲۷/ الموسوعة الفقهية: ج ۱۷ ص ۵۲/ اعلاء السنن: ج ۷ ص ۳۱۶۰.

(۲) والفرض منه أربعة أشواط وما زاد فواجب، لباب المناسک: ص ۲۵۶/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۰۸ الدر المختار مع الشامي: ج ۲ ص ۱۹۸/ البدائع: ج ۲ ص ۳۱۴/ فتح القدير: ج ۲ ص ۳۸۹/ الهداية: ج ۱ ص ۳۳۱ وص ۳۳۲/ المبسوط: ج ٤ ص ۲۳.

ketabton.com - The Digital Library



صحت لري؛ لیکن واجب کېدل یې د اختر په ورځو یا شپو کې د امام صاحب په مذهب بلکې د علماوو په اجماع سره دي، او که یو سړی طواف زیارت په یو سبب د اسبابو اداء نه کړي د خپلو حلالو ښځو سره نژدېکت، مچول او نور داسې اعمال نه سي کولای او ورته روا نه دي؛ ځکه دغه سړی د ښځو په حق کې محرم بلل کیږي او همدغه شان دغه ښځه د خپل خاوند په حق کې محرمه بلل کیږي، د طواف کولو تر وخته پوري ټول ورته حرام دي، که څه هم ډېر کلونه تېر سي خو د طواف څخه وروسته روا کیږي.(۱)

هر کله چې محرم د اختر په ورځ د شیطان ویشتلو او شکریه حلالولو او د سر خرییلو څخه فارغ سي نو ښه دا ده چې په دغه اوله ورځ باندې طواف زیارت وکړي نو که دغه سړي تر اختر مخکې له طواف قدوم سره د صفا او مروا سعي کړې وي نو په دغه طواف کې به رمل د اوږو ښورول نه کوي او وروسته تر طواف زیارت به سعي نه کوي او که یې مخکې تر طواف

(۱) الشامي: ج ۲ ص ۱۹۹/ الهندیة: ج ۱ ص ۲۳۲/ غنیة الناسک: ص ۱۷۷.

ketabton.com - The Digital Library



زيارت د صفا او مروا سعي نه وي کړې نو د دغه طواف په درې (۳) اولو شوطونو کې به رمل وکړي خو اوږه لوڅول نه سته او د طواف زيارت تر دوو رکعتو لمانځه وروسته به د صفا او مروا سعي وکړي.(۱)

طواف زيارت په احرام او کالو دواړو کې کيږي که طواف زيارت تر شکرېې حلالولو او سر خرېيلو مخکې کوي نو په احرام کې به يې کوي او که طواف زيارت تر شکرېې حلالولو او سر خرېيلو وروسته کوي نو په کالو کې به يې وکړي، که طواف زيارت تر سر خرېيلو مخکې وکړي هيڅ شی نه دی ورته روا نه ښځه او نه د احرام نور منع کارونه.(۲)

که طواف زيارت يا نور طوافونه؛ که فرضي وي يا نفلي په ناپاکه جامه يا ناپاکه بدن باندې وکړي او دغه مرداري تر

(۱) اللباب مع الشرح: ص ۲۵۶/ غنية الناسک: ص ۱۷۶/ الشامي: ج ۲ ص ۱۹۸/ الهداية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۸۸.

(۲) سرکار دو عالم ﷺ کا طريقه حج و عمره: ص ۴۱۱/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۰۹/ لباب المناسک ص ۲۵۴/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۲.

ketabton.com - The Digital Library



درهم زياته وي نو مکروه کار دی؛ ځکه هغه سنت پاته سو چي د جامې او بدن پاکوالی دی، د ظاهري مرداري په وجه پر دغه سړي باندي دم او صدقه نه لازميږي.(۱)

که د اختر په ورځو کي طواف زيارت د نفلي طواف په نيت يا په هر نيت باندي چي وکړي د طواف زيارت له پاره کار کوي.(۲)

که يو څوک طواف زيارت پر پښو ونه کړي؛ بلکي پر څکېدو، يا د بل پر شا يا په سپرتيا سره يې وکړي که د عذر په وجه وي نو هيڅ شی نه لازميږي او که بې له عذره څخه وي نو د طواف راګرځول پر واجب دي او که يې نه راوګرځوي دم پر لازم دی.(۳)

---

(۱) لباب المناسک: ص ۳۹۲/ الشامي: ج ۲ ص ۱۶۲/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۳۲.

(۲) لوکان أي طوافه في يوم النحر ونوی نفلا أو وداعاً أو أطلقه وقع للزيارة، لباب المناسک: ص ۱۶۱/ البدائع: ج ۲ ص ۳۰۸/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۶.

(۳) غنية الناسك: ص ۱۱٤/ لباب المناسک: ص ۱۶۸.

ketabton.com - The Digital Library



طواف زيارت په اوداسه سره کول واجب دي که طواف زيارت ټول يا ډېر شوطونه په بې اودسي سره وکړي دم پر لازم دي او راګرځول يې مستحب دي، دغه طواف زيارت چي په بې اودسۍ سره يې کړی دی که يې دوهم ځلي په پاکي سره د اختر په ورځو کي راوګرځوي يا وروسته هغه بيا له هغه دم څخه خلاصيږي او د طواف زيارت د ځنډېدلو په وجه دلته شی نه لازميږي، نه دم نه صدقه.(١)

که طواف زيارت تر څلورو کم يو يا دوه يا درې شوطونه په بې اودسي سره وکړي که يې بېرته نه راوګرځوي نو د هر شوط له پاره نيمه کاسه د غنمو صدقه پر واجبه ده.(٢)

(١) ولو طاف للزيارة كله أو أكثره محدثا فعليه شاة وعليه الإعادة استحبابا، لباب المناسک: ص ٣٨/ غنية الناسك: ص ٢٧٢/ الهداية: ج ١ ص ٢٥٣. وقيد بذلك لأنه لو كان طاف محدثا وأعاده سقط عنه الدم سواء أعاده في أيام النحر أو بعدها، ولا شيء عليه للتاخير، منحة الخالق على البحر: ج ٣ ص ٣٣/ الشامي: ج ٢ ص ٢٢٢.

(٢) البحر الرائق: ج ٣ ص ٣٢/ الشامي: ج ٢ ص ٢٢٢/ الفتاوي الهندية: ج ١ ص ٢٤٦/ غنية الناسک: ص ٢٧٢.

ketabton.com - The Digital Library



که د طواف زيارت ټول يا ډېر شوطونه د جنابت يا حيض يا نفاس په حالت کي وکړي نو دا پر لازمه ده چي دغه طواف بيرته د پاکۍ په حالت کې راوګرځوي، که دغه طواف بېرته نه راوګرځوي بدنة (اوښ يا غويې) پر لازمه ده او په دغه طواف سره خپله ښځه ورته روا کيږي او په دغه طريقه سره طواف کول ګناه ده، که د طواف زيارت تر څلورو کم شوطونه د جنابت يا حيض يا نفاس په حالت کي وکړي که يې بېرته نه راوګرځوي دم پر لازم دی، که يې را وګرځوي بيا د هر شوط له پاره نيمه کاسه د غنمو صدقه پر لازمه ده.(۱)

که پر محرم اوښه لازمه سي د دغه اوښي پر ځای اوه پسونه حلالول د اوښي ځای نه نيسي.(۲)

(۱) غنية الناسك: ص ۲۷۲/ لباب المناسک: ص ۳۸۱/ الدر المختار على هامش الشامي: ج ۲ ص ۲۲۲/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۳۲.

(۲) فتاوى الاسعدية: ج ۱ ص ۴۸/ فتاوى رحيميه: ج ۸ ص ۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



که یو چا ته د طواف زیارت په شوطونو کې شک پیدا سي هغه د شک شوطونه دې راوګرځوي او پر خپل غالب ګمان دې عمل نه کوي.(۱)

که محرم تر طواف زیارت مخکې او تر عرفات وروسته وفات سي که دغه محرم وصیت کړی وي چې په ما پسې حج پوره کړئ نو د طواف زیارت په وجه بدنه (اوښ یا غویی) لازمه ده او حج یې صحیح دی او د مزدلفې شریفې د درېدو او شیطانانو ویشتلو او د صفا او مروا د سعي په وجه شی نه سته.(۲)

(۱) ولو شك في عدد الأشواط في طواف الركن أعاده ولا يبنى على غالب ظنه بخلاف الصلوة، الشامي: ج ۲ ص ۱۸۲/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۲۵/ لباب المناسک: ص ۱۸۴/ غنية الناسک: ص ۱۰۵.

(۲) ولاشيء لغير طواف الزيارة من الوقوف بمزدلفة ورمي الجمار والسعي لأن واجبات الحج تسقط بالعذر، غنية الناسك: ص ۱۷۸ منحة الخالق على البحر: ج ۲ ص ۶۰۸/ لباب المناسک ص ۲۵۸.

ketabton.com - The Digital Library



تر طواف زیارت وروسته باید له مکي شریفي څخه د منی شریفي پر لور روان سي او سنت طریقه دا ده چې د شیطانانو د ویشتلو شپې ټولي په منی شریفه کي تېري کړل سي، په منی کي دي خپل د اوسېدلو ځای ته ځان ورسوي، په مکه شریفه کي دي یې نه تېروي او نه پر لاري بل ځای او که یې تېري کړې دغه عمل مکروه دی؛ خو دم یا نور څه نه پر واجبېږي.

## (مسجد خیف او غار مرسلات)

د منی په مسجد خیف شریف کي په جماعت سره باید لمونځونه وکړي مسجد خیف په منی کي د اول شیطان سره نژدې تر ټولو لوی (غټ) او مشهور مسجد دی چي په یوه وخت کي تر لسو زرو زیات کسان لمونځ په کښې اداء کولای سي (خیف) د غره لمن ته وایي دا مسجد خو تر غره لاندي دی ځکه د دې نوم مسجد خیف دی، د دې مسجد په منځ کي یوه گنبده ده، په حجة الوداع کي پر دې ځای د حضرت رسول الله ﷺ خیمه درول سوې وه او نبي کریم ﷺ دلته پنځه (۵) وخته لمونځ د ذوالحجې په اتمه د ماپښین، مازدیگر، ماښام او

ketabton.com - The Digital Library



ماخستن لمونځ اداء کړی دی او د ذوالحجې په نهمه یې د سهار لمونځ اداء کړی دی بیا عرفات ته روان سو.

او غار مرسلات دا هغه غار دی چې نبي کريم ﷺ دي غار ته تشريف يووړ چې د المرسلات سورة په کښې نازل سويدی نو همدغه غار د غار مرسلات په نامه مشهور سوی دی، دا غار په منی کې د مسجد خيف په جنوب طرف کې د جبل الصابح په لمن کې واقع و، دغه غار اوس نه سته د دغه نزدې محلې د کلي نوم المرسلات دی.

په دغه مسجد خيف شريف کی اويا (۷۰) تنو انبياوو او رسول الله ﷺ لمونځونه کړي دي، زموږ علماء کرامو هم د لمونځو توصيه کړې ده نو کوښښ بايد وسي چې په دغه مسجد خيف کې لمونځ وکړل سي.(۱)

---

(۱) مناسك الملا علي القاري: ص ۱۹۶/ تاريخ مكة المكرمة: ص ۱۰۹/ مكة المكرمة تاريخ ومعالم: ص ۸۲/ د حج او عمرې مسئلې: ص ۴۲۷ مؤلف مولانا محمد رفعت قاسمي.

ketabton.com - The Digital Library



## (د طواف وداع «د رخصتي د طواف» مسائل)

طواف وداع چې طواف صدر هم ورته وايي (د خدای په امانۍ طواف) پر هغه چا واجب دی چې د میقات څخه دباندي اوسيږي دا د حج اخیرنی طواف دی چې له درو قسمو څخه هر قسم حج چې وي (مفرد، تمتع، قارن) باندي واجب دی، د دې طواف همداسي طریقه ده کومه چې د نفلي طواف طریقه ده، هغه طریقه دا ده چي لومړی به د طواف نیت وکړي بیا به د حجر اسود مسه یا استلام په اشاره وکړي، پر کعبه شریفه باندي به اوه شوطونه طواف وکړي، تر هغه ورسته به پر ملتزم دعاء وکړي، بیا به مقام ابراهیم ته راسي د طواف دوه رکعته واجب لمونځ به اداء کړي، بیا به زم زم اوبه وچیښي، دعاء به وکړي، دا د نفلي طواف طریقه ده په نفلي طواف او په طواف وداع کي نه احرام سته نه اضطباع (راسته اوږه لوڅول)، نه رمل (اوږې ښورول) په کښي سته او نه سعي (د صفا او مروا په منځ کې تګ راتګ)، د دغه طریقي مطابق باید طواف وکړي، کله چي وطن ته د کعبې شریفي څخه د روانېدو اراده وکړي نو لومړی دي طواف وداع اداء کړي، بیا دي دوه رکعته د طواف لمونځ

ketabton.com - The Digital Library



وکړي، وروسته دي د زمزم او به ښه ډېري وڅيښي او يو څه دي پر سر مخ او بدن باندي هم واچوي، بيا دي ملتزم شريف ته راسي د کعبې شريفې پوښ به په راسته لاس ونيسي او د کعبې شريفي د دېوال سره به خپله سينه او راسته باړخو ولګوي، ډېره عاجزي به وکړي او د ملتزم پر مقام باندي دي ښه دعاوي وکړي، د خپلو ګناهونو بخښنه دي د الله تعالى ﷻ څخه وغواړي او خپل مور او پلار، اولاد او هغه چا ته دعاوي وکړئ چې ستاسو څخه يې د دعاء غوښتنه کړې وي او د ټولو مسلمانانو په حق کي دي دعاوي وکړي، يا الله دغه حاضري مو اخيري حاضري مه ګرځوه. آمين يارب العالمين.(۱)

---

(۱) أما الأول فطواف الصدر واجب عندنا، البدائع: ج ۲ ص ۳۳۲/ الموسوعة الفقهية: ج ۲۹ ص ۱۲۲ الهداية: ج ۱ ص ۲۲۷/ ارشاد الساري ص ۲۸۲،۲۸۱ ، ۲۸۳ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۷۲. وهو واجب على الحاج الأفاقي، الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ۱ ص ۴۹۷/ شرح النقاية للقاري ج ۲ ص ۲۶۹. وهو واجب على كل حاج أفاق مفرد، أو قارن او متمتع الخ، غنية الناسك: ص ۱۹۰/الشامي: ج ۲ ص ۲۰۲/ لباب المناسک ص ۲۷۹. و إذا-----

ketabton.com - The Digital Library



د طواف وداع اول وخت تر طواف زيارت وروسته دی او آخر وخت نه لري تر څو چي په کعبه شريفه کي وي که يو کال وروسته يې وکړي هم اداء بلل کيږي قضاء نه دی.(۱)

طواف وداع د مکې مکرمې او د ميقات په حدودو کي چي دننه اوسيږي پر هغو باندي مستحب دی او پر عمره کوونکو باندي طواف وداع نه سته او د يو چا څخه چي حج قضا سي طواف وداع نسته.(۲)

په طواف وداع کي رمل نه سته او تر طواف وداع وروسته د صفا او مروا سعي نه سته او تر طواف وداع وروسته پر شا تګ

---

----- أراد السفر من مكة دخل المسجد فبدأ بالحجر الأسود وطاف للصدر سبعاً بلا رمل، وسعي الخ، غنية الناسك: ص ۱۹۲/ لباب المناسک: ص ۲۸۱/ الهندية: ج ۱ ص ۲۳۵.

(۱) البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۱۴/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۲/ الهندية: ج ۲ ص ۲۳۴/ غنية الناسک: ص ۱۹۰.

(۲) وليس على فائت الحج طواف الصدر، المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص ۲۰۰/ الهندية : ج ۱ ص ۲٥٦.

ketabton.com - The Digital Library



مستحب دی او که نورو خلکو ته ضرر رسیدی بیا پر شا تګ نه دی روا.(۱)

که تر طواف زیارت وروسته هر نفلي طواف په نیت د طواف وکړي او طواف وداع ونه کړي نو دغه مخکنی طواف یې د طواف وداع پرځای دریږي.(۲)

که طواف وداع د جنابت یا حیض یا نفاس په حالت کي وکړي دم پر لازم دي او که طواف وداع د بې اودسي په حالت کي

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ج ۲ ص ۲۰۲/ غنية الناسك: ص ۱۹۰. وليس على المعتمر طواف الصدر، فتح القدير: ج ۲ ص ۳۹۷/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۱۷۲ وص ۲۰۶/ الزيلعي: ج ۲ ص ۳۱۸. ثم يدخل مكة ويطوف للصدر سبعة أشواط ولا رمل فيه، الهندية: ج ۱ ص ۲۳۴/ الهندية مع الفتح: ج ۲ ص ۳۹۶. ثم إذا أراد السفر طاف للصدر أى للوداع سبعة أشواط بلا رمل وسعي، الدر المختار مع الشامي: ج ۲ ص ۲۰۲/ شرح النقاية: ج ۲ ص ۲۶۹/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۱۵. وإنما استحسنهما مشائخنا تعظيما للبيت المعظم، غنية الناسك: ص ۱۹۳/ زبدة المناسك مع عمدة المناسك: ص ۲۳۱/ الشامي: ج ۲ ص ۲۰۳/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۱۶.

(۲) فلو طاف بعد طواف الزيارة دون أن يعين شيئا أو نوى تطوعا الخ، الفقه الاسلامي وأدلته: ج۳ ص ۲۲۰۸/ لباب المناسک: ص ۱۶۱/ البحر الرائق: ج ۲ ص ۶۱۳.

ketabton.com - The Digital Library



وکړي د هر شوط په بدله کي نیمه کاسه د غنمو صدقه لازمه ده او که طواف وداع د جنابت په حال کي وسي راګرځول یې واجب دي او که طواف وداع د بې اودسي په حال کي وسي را ګرځول یې مستحب دي.(۱)

که یو څوک نفلي طواف په بې اودسي وکړي د هر شوط په بدل کي نیمه کاسه د غنمو صدقه پر لازمه ده او که یې په جنابت سره وکړي دم پر لازم دی.(۲)

هغه طواف وداع چي په جنابت یا په بې اودسي سره سوی وي که یې دوهم ځلي په پاکي سره راوګرځوي د دم او صدقې څخه خلاصیږي.(۳)

---

(۱) ولو طاف للصدر جنباً فعليه شاة، غنية الناسك: ص ۲۷۵/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۳۴/ البدائع: ج ۲ ص ۳۳۳. وإن طافه محدثاً فعليه لكل شوط صدقة، غنية الناسك: ص ۲۷۵/ لباب المناسک: ص ۳۸۸/ الهندية: ج ۱ ص ۲٤٦/ الشامي: ج ۲ ص ۲۲۳.

(۲) الشامي: ج۲ ص ۲۲۲/ الزيلعي: ج۲ ص ۳۶۹.

(۳) فإن أعاد فلا شيء عليه فإنه متى طاف أي طواف مع أي حدث الخ، الشامي: ج ۲ ص ۲۲۲/ غنية الناسک: ص ۲۷۷.

ketabton.com - The Digital Library



که له یو چا څخه د هرډول عذر په وجه طواف وداع پاتـه سي نه یې وکړي کوم شی نه پر لازمیږي.(۱)

که څوک له مکې شریفي څخه بې له طواف وداع روان سو که تر میقات نه وي تېر سوی پر ده باندي واجب ده چي بېرته مکې مکرمې ته راوګرځي او طواف وداع وکړي، احرام ته ضرورت نه سته، تر څو چي تر میقات نه وي تېر سوی او که نه راوګرځېدی نو دم پر واجب دي او که تر میقات ووتی بیا اختیار لري که دم وراستوي حلالوي یې؛ البته دا ښه کار دی او که چیري راوګرځېدی نو بیا د دم څخه خلاصیږي، خو د دغه راګرځېدلو له پاره چي تر میقات تېر سوی وي یو ځل دي د عمرې احرام وتړي مکې مکرمې ته دي ولاړ سي، بې له احرامه مکي شریفي ته ورتلل منع دي، لومړی دي عمره

---

(۱) وأما ترک شيء من الواجبات بعذر فإنه لا شيء فيه الخ، الشامي: ج ۲ ص ۲۲۷/ لباب المناسک: ص ۳۶۸ وص ۳۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



وکړي وروسته دي طواف وداع وکړي بیا دي خپل ځای ته روان سي، په دې ځنډېدو سره نه دم او نه صدقه واجبېږي.(١)

که یو څوک طواف وداع وکړي او بیا بیرته یو څه وخت په کعبه شریفه کي پاته سو دوهم ځل طواف وداع کول مستحب دي واجب نه دي.(٢)

## (د عبادت ډولونه)

عبادت درې ډوله دی:

١- مالي عبادت، لکه: زکات، سرسایه او داسي نور. دا د وکیل په ذریعه اداء کېدای سي.

٢- بدني عبادت، لکه: لمونځ، روژه او جهاد دا په هیڅ ډول د وکیل په ذریعه اداء کېدلای نه سي.

---

(١) فإن جاوزه لم يجب الرجوع ويجب الدم وإن عاد فعليه الإحرام بعمرة أو حج، فإن رجع بدأ بطواف العمرة، ثم بالصدر، ولاشيء عليه بالتاخيرالخ، لباب المناسک: ص ٢٨٠/ غنية الناسک: ص ٢٧٥/ مجامع المناسک: ص ٣٠٣/ البدائع : ج ٢ ص ٣٣٤.

(٢) الدر المختار مع الشامي: ج ٢ ص ٢٠٢/ زبدة المناسك مع عمدة المناسك: ص ٢٢٧.

ketabton.com - The Digital Library



۳- بدني او مالي عبادت، لکه: حج؛ دا د وکیل په ذریعه هلته اداء کېدلای سي چي پر چا حج فرض وي خو هغه يې په خپله پر اداء کولو قادر نه وي، که يې په خپله د اداء کولو طاقت ولري بيا يې د وکيل په ذريعه اداء کولی نه سي.(۱)

## (د حج بدل «د بل له پاره حج کول» اړوند مسائل)

که یو چا د بل له پاره حج کاوه نو د بل په حق کي ښه حج افراد، يا حج قران دی او تمتع صحت نه لري. په دغه مسئله کي د علماء کرامو ترمنځ اختلاف دی ځيني فقهاء کرام تمتع حج صحيح بولي او ځيني فقهاء يې صحيح نه بولي او حضرت مولانا رشيد احمد صاحب (ګنګوهي) په زبدة المناسک کي د تمتع د حج عدم جواز غوره کړی دی. د محققينو رايه دا ده چي د تمتع حج کوونکي ته د حج بدل ليږونکي په اجازه هم تمتع حج جواز نه لري، د غنية الناسک: مؤلف چي د لباب او

(۱) معلم الحجاج: ص ۲۵۹.

ketabton.com - The Digital Library



ملا علي قاري له شرحي څخه يې يو مختصر کتاب ليکلی دی د تمتع حج يې جائز نه دی بللی او الشيخ ملا عبد الغني آخند په خپل مناسک کي ليکلي دي: د تمتع حج هيڅ صحت نه لري مګر د هغه چا د طرفه صحت لري چي په خپلو پيسو نفلي حج کوي او فرضي تمتع حج د بل له پاره صحت نه لري، نو ځکه په دې مسئله کي احتياط په کار دی نو ښه خبره دا ده چي د حج ليږونکي په اجازه دي د تمتع حج پر ځای حج افراد يا حج قران وکړي چي هغه دواړه په اتفاق سره صحيح دي او تمتع حج دي نه کوي.(۱)

څوک چې د بل پر ځای فرضي يا نذري يا قضايي حج کوي فقهاوو د هغه له پاره شل (۲۰) شرطونه ليکلي دي، که دغه

---

(۱) معلم الحجاج پښتو: ص ۲٦٦/ غنية الناسک: ص ۳۴۵/ شرح اللباب: ص ۵۰۴/ الشامي: ج ۲ ص ۲٦۰. ولا يخفى أن هذا سهو منه لأن الميت لو أمره بالتمتع فتمتع المأمور صح، ارشاد الساري ص ۵۰۳/ البحر: ج ۳ ص ۱۱۵/ اللباب: ص ۵۰۴/ مناسك الحج الجديد: ص ٦۹.

ketabton.com - The Digital Library



شرطونه ټول په کښې موجود وي نو دغه حج بدل صحيح دی که بې له دې شرطونو يو څوک د چا له پاره حج وکړي حج يې نه دی اداء سوی:

١- هغه څوک چي حج په بل کوي پر هغه سړي به حج فرض سوی وي.

٢- خپله به حج نه سي کولای له حج کولو څخه به عاجز او معذور وي، که څوک په خپله حج کولای سي د ده له خوا د بل چا حج نه دی جايز.

٣- که د دغه سړي عذر د مرګ تر مهاله پوري وي، که د ده پر ځای بل څوک حج وکړي او وروسته که د چا عذر تر مرګ دمخه ليري سو او په خپله پر حج قدرت پيدا کړي، نو خپله به حج بېرته کوي، مخکنی حج يې نفلي سو او که داسي عذر وي چي د ليري کېدو اميد يې نه وي، لکه ړندېدل، فلج مرض، اوس نو که د دغه سړي پرځای بل چا حج وکړئ او همدغه سړی بيرته جوړ سي نو پر ده باندي د حج را ګرځول نه دي لازم.

ketabton.com - The Digital Library



۴- معذور به بل ته د خپل ځان له پاره د حج کولو اجازه کوي، که مړ کېدی او د حج وصيت يې وکړئ بيا د وصي له خوا څخه حج کوونکي ته د حج بدل حکم ضروري دی.

۵- د حج بدل ټول يا ډېر مصارف به د مړه يا معذور د مال څخه وي.

۶- د حج بدل له پاره به حج کوونکی د احرام تړلو پر مهال او يا تر احرام تړلو وروسته او د حج تر اعمالو کولو مخکي به د دغه معذور د حج نيت کوي او که يې د حج افعال شروع کړل بيا يې د آمر له خوا نيت وکړئ د آمر ليږونکي فرضي حج نه دی اداء سوی.

۷- حج کوونکی به يوائې د دغه معذور د حج په نيت احرام تړي، که يې د دوو تنو له خوا د حج احرام وتړئ د يوه حج هم نه صحيح کيږي او دغه حج د حج کونکي له پاره سو او څومره مصارف چي د هغوی د مال څخه يې کړي وي هغه پيسې به بيرته ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library



۸- د حج بدل کوونکی (مامور) به یوازې د یوه حج احرام تړي.

۹- که دغه معذور د حج له پاره معلوم شخص ټاکلی و او داسې یې ویلي وه، دغه سړی به زما پر ځای حج کوي، بل څوک به یې نه کوي، نو په دغه صورت کې به خامخا دغه سړی د ده د طرف څخه حج کوي د بل چا حج نه صحیح کیږي.

۱۰- هر چا ته چې د حج بدل امر وسي هغه به یې په خپله کوي او په بل چا به یې نه کوي.

۱۱- که د معذور دومره اندازه پیسې وي چې د نوموړي د اوسېدلو له وطن څخه حج پوره وسي نو د ده د وطن څخه به حج کوي او که پیسې لږ وي نو د کوم ځای څخه چې حج کېدای سي له هغه ځای څخه دې یو څوک واستوي.

۱۲- که پیسې وي نو دغه حاجي به پر پښو باندې حج ته نه ځي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۳- دغه حج کوونکی به دغه سفر یوازې د دغه حج له پاره کوي چې آمر يې حکم ورته کړی دی، داسې به نه کوي چې اول د دغه ځای څخه د خپلې عمرې يا د دغه آمر بې له امر څخه د آمر پر ځای د عمرې په نيت احرام وتړي او بيا هلته تر عمرې وروسته د دغه آمر په نيت حج کوي او که يې وکړي نو بيا يې دغه حج د خپل ځان له طرف څخه دی او د آمر له طرفه څخه نه دی نو د آمر حج ونه سو.

۱۴- احرام به د آمر له ميقات څخه تړي که آمر تر ميقات دباندې وي نو دغه حاجي به د ميقات څخه احرام تړي او که آمر تر ميقات دننه وي نو بيا به دغه حاجي د حل څخه احرام تړي.

۱۵-آمر چې د کوم حج ورته ويلي وي هغه که حج افراد يا حج قران وي هغه به کوي مخالفت به يې نه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۶- حج به په جنایت، لکه: تر عرفات مخکي جماع کول؛ نه فاسدوي.

۱۷- د حج یو رکن به هم نه قضا کوي، لکه د عرفات درېدل.

۱۸- دغه معذوراو حج کوونکی به دواړه مسلمانان وي.

۱۹- دواړه به عاقلان وي.

۲۰- حج کوونکی به د حج په افعالو باندي پوهیږي یعني د حج کوونکي بلوغ نه دی شرط.(۱)

نارینه د ښځې له طرفه او ښځه د نارینه له طرفه څخه حج بدل اداء کولی سي.(۲)

---

(۱) المحیط البرهاني: ج ۳ ص ٤٧٦/ غنیة الناسک: ص ۳۲۰/ معلم الحجاج: ص ۲۸۷/ الشامي: ج ۲ ص ۲۵۸.

(۲) آپ کے مسائل: ج ۴ ص ۷۵.

ketabton.com - The Digital Library



پر حج بدل کوونکي باندې دا شرط دی چې د احرام تړلو په وخت کي به په زړه کي د هغه چا له پاره د حج نیت کوي د کوم چا له پاره چې حج کوي او په خوله باندې د نیت الفاظ ویل ضروري نه دي؛ البته ښه کار دی چې دغه الفاظ ووایي، یا الله ﷻ زه د حج اراده لرم او د فلاني له خوا د حج احرام تړم ته یې راته اسانه کړې او ته یې زما او د فلاني څخه قبول کړې.(۱)

د حج بدل له پاره ښه هغه څوک دی چې د حج په احکامو باندې خبر وي د حج په مسائلو ښه پوه وي او خپل فرضي حج یې کړی وي او پر هغه چا چې خپل حج فرض وي او حج یې نه وي کړی د دغه سړي حج بدل کول د ده له پاره مکروه تحریمي دی او د هغه حج لیږونکي له پاره مکروه تنزیهي دی.(۲)

---

(۱) الفقه الحنفي في ثوبه الجدید: ج ۱ ص ۵۰۳/ غنیة الناسك: ص ۳۲۵. و یقول اللّٰهم إني أرید الحج فیسره لي وتقبله مني ومن فلان، مجامع المناسک: ص ۵۴۵.

(۲) غنیة الناسك: ص ۳۳۸/ الشامي: ج ۲ ص ۲۶۲/ البحر: ج ۳ ص ۱۲۳/ ارشاد الساري: ص ۴۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



د حنفي مذهب سره سم چا چې خپل حج نه وي کړی هغه دي د بل چا له پاره حج نه کوي، په دې حالت کې حج ته تلل په اتفاق سره مکروه تحريمي دی او پر چا چې حج نه وي فرض پر ده باندې د ځينو محققينو علماوو په نزد مکې مکرمې ته په رسېدلو سره حج فرض کېږي، نو احتياط دا دی چې دغسي څوک حج بدل ته ونه لېږل سي.(۱)

پر حج بدل باندي مزدوري اخيستل حرامه ده، اخيستل سوې مزدوري بيرته ورکول ضروري ده او د حج هر ډول مصارف پر لېږونکي (آمر) باندي دي او که چيري د حج بدل له مصرف څخه پيسې پاته سوې نو حج کوونکي (مامور) ته په کار ده چي بېرته يې حج لېږونکي ته ورکړي مګر که يې ورته ويلي وي چې هغه پاته پيسې ستا دي بيا ورکول نه غواړي يا د ثواب په نيت سره يې ورپرېښوولې نو جائزدي.(۲)

---

(۱) عمدة المناسک: ص ۲۱۰/ رد المحتار: ج ۲ ص ۲۳۱.

(۲) الدر المختار: ج ۲ ص ۶۰۰/ اللباب مع الشرح: ص ۵۰۳/ مجامع المناسک: ص ۵۶۳/ معلم الحجاج: ص ۲۶۸.

ketabton.com - The Digital Library



حج بدل کوونکی به د شکریې او دم پسه په خپلو پیسو سره رانیسي پر حج لیږونکي باندې حق نه لري، یوازې که محصر سو نو د احصار د دم (پسه) د پیسو حق پر لیږونکي (آمر) باندې لري.(۱)

حج بدل کوونکی د حج لیږونکي د مال څخه یو چا ته میلمستیا یا قرض یا صدقه ورکولای سي که د حج لیږونکي په اجازه وي او بې له اجازې څخه یې نه سي کولای.

حج بدل کوونکي له خپلو ملګرو سره په ګډه او شراکت باندې خوراک کولای سي دا ورته روا دي.(۲)

---

(۱) وإن حصر المأمور بالحج فالدم على الآمر عند أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله، التاتارخانية: ج ۲ ص ۲۲۳/ الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ٦۳٦/ المبسوط للسرخسي: ج ٤ ص.

(۲) مجامع الناسک: ص ۵۵۸/ البدائع: ج ۲ ص ۲۵۹/ المبسوط للسرخي: ج ۲ ص ۱۷۳/ فتح القدير: ج ۳ ص ٦۹/ غنية الناسك: ص ۳٤۲/ اللباب: ص ۵۰۱/ الفتاوى الولوالجية: ج ۱ ص ۲۸۲.

ketabton.com - The Digital Library



## (د احصار بیان)

احصار منع (را ګرځولو) ته وايي او د فقه په اصطلاح کي محصر هغه محرم ته ویل کیږي چي احرام وتړي تر احرام تړلو وروسته د تګ څخه منع سي او د احرام کار يې پای ته ونه رسيږي د دښمن له خوا یا د مرض له کبله یا د بندي کېدلو له امله یا د نورو عذرونو له وجهي.(۱)

که چا د حج یا عمري احرام وتړی او بیا یې د حج او عمري د اداء کولو په وړاندي د مخکنیو خنډونو په شان یو خنډ ورته جوړ سو، دغه نفر ته محصر وايي، محصر که وغواړي چي د

(۱) فالمُحْصَرُ في اللغة هو الممنوع، والإحصار هو المنع، وفي عُرْفِ الشرع هو اسم لمن أَحْرَمَ ثم مُنِعَ عن المُضيِّ في موجب الإحرام، سواء كان المنع من العدو أو المرض أو الحبس وغيرها إلخ، البدائع: ج ٢ ص ٣٩٠/ الهندية: ج ١ ص ٢٥٥/ التاتارخانية: ج ٢ ص ٢١٤.

ketabton.com - The Digital Library



احرام څخه ځان حلال کړي نو پر ده باندي لازمه ده چي و حرم ته هدي یعني قرباني ولیږي، د هدي له پاره پسه یا بزه او یا د اوښ یا غوايي په اومه حصه کي هم برخه اخیستلای سي ځو په حرم کي د ده وکیل د ده په استازیتوب قرباني وکړي او د هدي د حلالولو ورځ دي ورسره معلومه کړي او بیا دي هغه نفر دغه هدي د ده د طرف څخه په دغه ټاکلې ورځ په حرم کي حلاله کړي، نو هر کله چي هدي حلاله سوه محصر د احرام څخه ځان ایستلای سي او بې له حلالیدو د هدي د احرام څخه نه وزي، محرم چي محصر سو د احرام څخه وتل او په احرام کي پاتیدل دواړه ورته روا دي.(۱)

د احصار د هدي حلالول د حرم شریف په حدودو کي دننه حلالیږي بل ځای نه صحیح کیږي، د احصار قربانی به پر

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۲۰۶ او ۲۰۹/ الهندية: ج ۱ ص ۲۵۵ غنية الناسك:/ ص ۳۱۱/الشامي: ج ۲ ص ۲۵۳/ البدائع: ج ۲ ص ۳۹۴.

ketabton.com - The Digital Library



مسکینانو ویشل کیږي او د احصار د هدي حلالول هر وخت صحیح دی د اختر تر ورځو پورې تخصیص نه لري.(۱)

محصر چې ځان د احصار څخه باسي د سر خریل پر لازم نه دي، په هدي حلالولو هم د احرام څخه وزي او که سر وخریي ښه کار دی، ولې د حدیبیې د صلح د تړون تر لاسلیک وروسته رسول الله ﷺ او ورسره ملګرو یې قربانۍ وکړې او د قربانۍ وروسته چا د سر په خریلو او چا د سر په کوچني کولو د احرام څخه ځانونه حلال کړه.(۲)

---

(۱) وأما مكان ذبح الهدي فالحرم عندنا، البدائع: ج ۲ ص ۳۹۸ اوص ۴۰۰/ الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۲۱۰ اوص ۲۱۱/ التاتارخانية: ج ۲ ص ۲۱۵/ المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۸۵.

(۲) وأما الحلق فليس بشرط للتحلل ويحل المحصر بالذبح بدون الحلق في قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله وإن حلق فحسن، البدائع: ج ۲ ص ۳۹۹/ البحر الرائق: ج ۳ ص ۹۷/ غنية الناسك: ص ۳۱۳.

ketabton.com - The Digital Library



محصر چي د حکومت د طرفه بندي سي يا يي د تګ څخه منع کړي په دواړه حالته کي محصر بلل کيږي.(١)

که محرم پر عرفات ودريږي او وروسته بيا د مزدلفي د دريدلو څخه منع سو او د شيطانانو د ويشتلو وخت هم تير سو او ايام التشريق يعني د اختر ورځي هم تيري سوي وروسته منع ليري سوه، نو څلور دمونه پر لازم دي: (١) يو د مزدلفي د پريښودلو په وجه (٢) د شيطانانو د نه ويشتلو په وجه (٣) د سر خرپيلو د ځنډولو په وجه (۴) د طواف زيارت د ځنډولو د اختر تر ورځو.(٢)

---

(١) لباب المناسک: ص ۴۵۳/ الموسوعة الفقهية: ج ٢ ص ٢٠٢/ غنية الناسك: ص ٣١٠.

(٢) ثم إن دم الإحصار حتى مضت أيام التشريق فعليه لترك الوقوف بالمُزْدَلِفَة دم، لترك الجمار دم، لتأخير الحلق دم، لتأخير الطواف دم، في قول أبي حنيفة رحمه الله، البحر الرائق: ج ٣ ص ١٠٠/ لباب المناسک: ص ۴۵٧/ الهندية: ج ١ ص ٢۵۶.

ketabton.com - The Digital Library



د عمري محصر هغه دی چي د عمري د طواف څخه منع سي، د عمري محصر د احرام څخه د هدي په حلالولو وزي په بله لاره نه سي وتلای بلکه همیشه محرم بلل کیږي.(۱)

محصر که د حج افراد وي نو پر ده باندي د ځان حلالولو وروسته په راروان کال کي د یوه حج او یوي عمري قضا سته.(۲)

قارن که محصر سو دوي هدي به حلالوي، د دواړو د حلالیدو وروسته د احرام څخه وزي او راروان کال به د دوو عمرو او یوه حج قضا راوړي. قارن محصر چي دغه دوي هدي حلالوي

---

(۱) الموسوعة الفقهية: ج ۲ ص ۱۹۶ او ص ۲۱۰ او ص ۲۱۲/ الفقه الحنفي في ثوب الجديد: ج ۱ ص ۴۵۸. وإذ محرما بعمرة فأحصر يتحلل بالهدي، المبسوط للسرخسي: ج ۲ ص ۱۲۱ او ۱۲۴/ لباب المناسک: ص ۴۵۸ ، الهندية: ج ۱ ص ۲۵۵.

(۲) ثم إذا تحلل المحصر بالهدي وكان مفردا بالحج فعليه حجة وعمرة من قابل، الهندية: ج ۱ ص ۲۵۵/ المحيط البرهاني: ج ۳ ص ۷۵/ الفقه على المذاهب الاربعة: ج ۱ ص ۶۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



دغه ټا کل نه غواړي چي دغه يوه د حج ده او دغه بله د عمرې ده.(١)

پر هغه چا چي حج فرض وي وصيت يې نه وي کړی او بل څوک د ده پر ځای حج وکړي؛ اميد سته چي غاړي به يې په خلاصي سي. امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي: زه اميد لرم چي لوی الله جَلَّ جَلَالُهُ به د ده حج قبول کړي خو که مړي وصيت کړی وو بيا د وارث بې له اجازې د مړي فرض حج نه روا کيږي.(٢)

تر نفلي حج، حج بدل کول ښه دي؛ ځکه د هغه ګټه بل ته هم رسيږي، د يوه حج ثواب د هغه له پاره دی د اوو (٧) حجونو ثواب د ده له پاره دی، که څوک د خپل مور او پلار پر ځای حج بدل وکړي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به دغه سړي ته د لسو حجونو ثواب

---

(١) وإن كان قارنا فإنما يتحلل بذبح هديين وعليه عمرتان وحجة، التاتارخانية: ج ٢ ص ٢١٦/ المبسوط للسرخسي: ج ۴ ص ١٢١/ الولو الجية: ج ١ ص ٢٩٨.

(٢) الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ج ١ ص ٥٠٢/ غنية الناسك: ص ٣٢٢/ مجامع المناسک ص ٥٣٧.

ketabton.com - The Digital Library



ورکړي، دغه حج به له ده څخه او د ده له مور او پلار څخه قبول کړي او د الله ﷻ له طرف څخه به دغه سړی له مور او پلار سره نیکي کوونکی ولیکل سي.(۱)

د حج د هر عمل جلا جلا فضیلت او ثواب دی، لکه په دې حدیث شریف کې چې راغلي دي؛ رسول الله ﷺ فرمایي: هر کله چې له کوره څخه د حج په اراده ووځې چې ستا سپرلۍ چې کوم قدم ږدي یا یې پورته کوي الله تعالی ﷻ ستا له پاره یوه نیکي لیکي او ستا یوه ګناه معاف کوي او د طواف د دوو رکعتونو ثواب داسې دی لکه یو عربي مریی چې آزاد کړې او د صفا او مروا ثواب دومره دی لکه او یا (۷۰) مریان چې ازاد کړې او د عرفات درېدل چې دی الله تعالی ﷻ پر عرفات درېدونکې سره پر ملائکو باندې فخر کوي او وایي زما بندګان خواره واره وربښتان له لیري لیري ځایونو څخه

(۱) عن جابر أنه علیه السلام قال: ﴿من حج عن أبیه وأمه فقد قضی عنه حجته وکان له فضل عشر حجج﴾ سنن الدار قطني واللفظ له: ج ۲ ص ۲۵۹ و ۲۶۰/ الشامي: ج ۲ ص ۲۶۶/ ارشاد الساري: ص ۴۹۳/ غنیة الناسك: ص ۳۳۷.

ketabton.com - The Digital Library



راغلي، زما د جنت امید کوي که څیرې ستاسې ګناه د ریګ د ذرو، د باران د څاڅکو یا د سمندر د ځګو برابر وي بیا هم ما معاف کړي یاست او بخښنه مې درته کړې ده، ولاړ سئ په داسې حال کې چې تاسو ته بخښنه سوې ده او چې د چا شفاعت او سفارش تاسو کړی دی هغه مو هم بخښلي دي او بیا نبي کریم ﷺ وویل: د شیطان د ویشتلو پر هره ډبره یوه غټه هلاکوونکې ګناه معافیږي او شکریه د الله جل جلاله سره ذخیره ده.

د سر خرییلو ثواب د هر خرییل سوي وېښته په بدله کې یوه نیکي ده، یوه ګناه معافیږي او طواف زیارت په داسې حال کې کیږي چې پر تا باندې به هیڅ ګناه پاته نه وي او یوه ملائکه راځي ستا د اوږو په منځ کې خپل لاسونه ږدي او وایي: په راروان وخت کې له سره عمل کوه، ستا تېر ګناهونه ټول وبخښل سول.(۱)

---

(۱) رواه الطبراني في الكبير: رقم الحديث ١٣٥٦٦ و مسند البزار واللفظ له، وقال وقد روي هذا الحديث من وجوه ولا تعلم له أحسن من هذا الطريق، الترغيب والترهيب: ج ٢ ص ١١٠/ فضائل الحج مولانا زكريا ص ٣٠.

ketabton.com - The Digital Library



هر مسلمان د رسول الله ﷺ له پاره نفلي حج یا عمره کولای سي ځکه د رسول الله ﷺ په واسطه باندی موږ د ګمراهي څخه خلاص سوي یو.(۱)

د مکې مکرمې په غرونو کې ځیني تاریخي سپېڅلي ځایونه سته چې د زیارت او لیدو وړ دي او مذهبي ارزښت لري، موږ په لنډه توګه دغه دوه (۲) غرونه درپېژنو:

## (اول جبل ثور «غارثور»)

دا هغه مبارک غار دی چې رسول الله ﷺ او ابو بکر رضی الله تعالی عنه چې کله له مکې مکرمې څخه د هجرت اراده وکړه او روان سول په قرآن کریم راځي چې په دغه غار کې یې درې (۳) ورځې پناه اخستې وه او په دغه غار کې یې درې (۳) شپې وکړې.(۲)

---

(۱) الشامي: ج ۱ ص ٦٦٦.

(۲) ﴿ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ﴾، سورة التوبه (٤٠).

ketabton.com - The Digital Library



او بیا مدینې منورې ته روان سول د غه غار د بیت الله شریفي په حدودو کي جنوب طرف ته پر (۴) کیلو متره لیري پروت دی او په جبل ثور کي واقع دی دغه غار د ځمکي د سطحي څخه (۴۵۸) متره لوړ دی، د دې غره په سر کي یو غار دی چي غار ثور ورته ویل کیږي، د دې غار لوړوالی د ننه له خوا څخه یو متر او پنځه ویشت سانتي دی (۱/۲۵) او طول او عرض یې درې نیم متره دی. دغه غار دوي (۲) لاري یا دروازې لري چي یوه یې لویدیځ طرف کي زړه لار ده چي پر دغه باندي رسول الله ﷺ داخل سوی دی او بله یې نوې لار د ختیځ لور ته ده او تقریبا (۷۷۰) متره لوړی دی او (۱۰) کیلو متره مربع مساحت لري. په ټوله نړۍ کي له هغو شیانو څخه چي د حضرت محمد ﷺ د مبارک بدن د لمس عزت یې تر لاسه کړی دی دوه شیان دي چي تر اوسه لاشتون لري: (۱) حجر اسود (۲) غار ثور. پر حجر اسود باندي د رسول الله ﷺ مبارک شونډان لګېدلي

ketabton.com - The Digital Library



دي او د ثور غار ترا وسه لا هماغه ډبره ده چي د نبي کريم ﷺ د مبارک بدن سره منبلېدلې ده.(۱)

## (دوهم غار حراء)

غار حراء چي په جبل النور سره مشهور دی د حرم په حدودو کي د مکې مکرمي شمال شرق لور ته واقع دی، دغه غر د مسجد الحرام څخه څلور (۴) کيلو متره ليري دی، دا يو ډېر لوړ او جګ غر دی چي د ځمکي د سطحي څخه تقريباً (۶۳۸) متره لوړ دی او (۵) کيلو متره مربع مځکه يې نيولې ده، د غره د څوکي څخه لږ لاندي غار حراء شتون لري د دغه غار اوږدوالی درې (۳) متره او بر يې تقريباً يو نيم (۱،۵) متر دی، لوړوالی يې د ميانه قد انسان په اندازه باندي دی، د غار د دروازې لار د شمال په طرف کي ده، دغه حراء غار ته حضرت رسول الله ﷺ تر بعثت (نبوت) مخکي د عبادت له پاره ورتلی، تر څو لو دمخه په همدې غار کي د الله تعالی ﷻ د قرآن کريم اولني آيتونه د جبرئيل امين عليه السلام په واسطه

---

(۱) تاريخ مكة المكرمة: ص ۱۲۸.

ketabton.com - The Digital Library



لو مړی ځل هم په دغه مبارک غار کي پر نبي کریم ﷺ نازل کړل.(۱)

جبل ثور، ثور غار، جبل نور او حراء غار ته ختل د حج د مناسکو څخه نه دي، که څوک په فارغ وخت کي ورسي زیات د برکت ځایونه دي.

## (د مقبرة المعلی بیان)

جنة المعلی د مکې معظمې یوه ستره مشهوره هدیره ده، دغه هدیره له جنت البقیع هدیرې پرته د نړۍ تر ټولو هدیرو افضله ده او زیارت یې مستحب دی د مسجد حرام د شمال په طرف کي ختیځ لور ته اووه سوه (۷۰۰) متره لیري په حجون علاقه کي شتون لري د دغه هدیرې په منځ کی سړک تېر سوی دی؛ ځکه نو دا هدیره پر دوو برخو بېله سوې ده، په هغه زړه برخه کي چي زړه هدیره ورته وایي ام المؤمنین حضرت خدیجه الکبری رضی الله تعالی عنها، د رسول الله ﷺ نیکه عبد

---

(۱) مکة المکرمة تاریخ و معالم: ص ۱۰۶.

ketabton.com - The Digital Library



المطلب، د هغه ﷺ اکا ابو طالب، د رسول الله ﷺ زامن: قاسم، طاهر او طيب، نور د غټې مرتبې اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم، ډېر تابعين او بې شمېره اولياء کرام په کي دفن دي، زما سيد نور الله آغا (مدني) ور نيکه پير طريقت او شريعت سيد محمد يار آتش نفس رحمه الله تعالی هم د جنت المعلی په هغه زړه برخه کي خاورو ته سپارل سوی دی، روح دي ښاد وي.

کله چې دغې هديرې ته ځئ نو د صحابه کرامو، تابعينو او صلحاوو د زيارت نيت وکړئ په دې طريقه سره به سلام ووايا ست:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالىَ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ، وَنَسْأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَّةَ.

ژباړه: اې د دې کور مؤمنو او سيدونکو سلام پر تاسو مونږ هم تاسي ته په دې نژدې وخت کي درتلونکي يو او له لويه ښتنه څخه د ځان او تاسو له پاره د عافيت دعاء کوو.

ketabton.com - The Digital Library



## (تکبیرات التشریق)

**اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.**

په نهم د ذوالحجي د عرفات د ورځي د سهار د لمانځه څخه د اختر د څلورمي ورځي ذو الحجة (۱۳) د مازدیګر تر لمانځه پوري پر هر نارینه او ښځینه باندي د هر لمانځه وروسته یو ځل ویل واجب دي چي ټول (۲۳) لمونځونه کیږي، نارینه به یي په لوړ میانه اواز او ښځینه به یي کرار وایي چي خپله یي واوري او په بل به یي نه اوري.(۱)

## (د ذوالحجي د لسو ورځو بیان)

په څلورو مذهب وکي د ذو الحجي په لسو ورځو یعني د لوی اختر د میاشتي په اولو لسو ورځو کي د نوکانو او وریښتانو پریکولو حکم دا دی:

فقه حنفي: د ذو الحجي په لسو ورځو کي د نوکانو او وریښتانو پریکول مباح او جائز دي.

---

(۱) الهندية: ج ۱ ص ۱۵۲ او ص ۲۳۵/ الهداية: ج ۱ ص ۱۵۷/ الزيلعي: ج ۲ ص ۳۲۳.

ketabton.com - The Digital Library



فقه حنبلي: د ذو الحجي په لسو ورځو کي د نوکانو او وريښتانو پريکول حرام دي.

فقه شافعي او فقه مالکي: د ذوالحجي په لسو ورځو کي د نوکانو او وريښتانو پريکول مکروه تنزيهي دي.(١)

## (عجوه خورما)

په تاريخ کبير کي وايي چي په مدينة منورة کي (٢٣) ډوله خورما پيدا کيږي چي يو ډول يې همدغه عجوه خورما ده. د سعد بن وقاص رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په کومه ورځ د سهار په وخت کې اوه (٧) دانې عجوه خرماوي وخوري په هغه ورځ زهر او جادو نقصان نه سي وررسولای.(٢)

(١) الفقه الاسلامي وادلته الزحيلي: ج ٣ ص ٦٢٤/ رد المحتار على الدر المختار: ج ٢ ص ١٨١ كتاب الصلاة باب الكسوف مطلب في إزالة الشعر والظفر في عشر ذي الحجة.

(٢) رواه البخاري: رقم الحديث (٥٧٧٩)، قال رسول الله: ﴿من اصطبح بسبع تمرات عجوة لم يضره ذلك اليوم سم ولا سحر.﴾

ketabton.com - The Digital Library



له حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی: رسول الله ﷺ وفرمايل: عجوه خرما د جنت ميوه ده او په دې کې د زهرو څخه شفاء ده.(١)

په بل حديث شريف کې راځي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک چې سهار په نهاره خالي نس سره اوه (٧) دانې د مدينې منورې عجوه خرماوې وخورې تر ماښام پورې هيڅ شي نقصان نسي وررسولای او که ماښام يې وخورې تر سهاره پورې هيڅ شی تاوان نسي وررسولای.(٢)

---

(١) رواه الترمذي: رقم الحديث (٢٠٦٦).

(٢) مسند احمد: رقم الحديث (١٤٤٢).

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې او حج له پاره مکمل لارښود)

دا کتاب پر دوو برخو باندي مشتمل دی:

په اوله برخه کي د عمرې احکام او طریقه په تفصل سره لیکل سوې ده.

په دوهمه برخه کي د حج احکام او طریقه، فقهي مسائل او تاریخي مقامات په تفصیل سره لیکل سوي دي.

ښه خبره دا ده چي کله د عمرې یا د حج د سفر اراده وکړئ نو مخکي دا کتاب ښه په غور سره څو ځلي مطالعه کړئ بیا چي کله هلته ورسیږی نو د هر ځای احکام د فهرست په مرسته معلوم کړئ.

د ټولو مسلمانانو وروڼو څخه احترامانه هیله کیږي چي د همدغه کتاب په حفاظت او ساتنه وکړي چي په راتلونکي کي به ستاسو یا د یو بل مسلمان ورور په کار ورسي نو د مهربانی له مخي د دي کتاب ښه ساتنه وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library



## (خبرتیا)

ما تر خپله وسه کوښښ کړی چې د ټولو مسائلو په اړه مکمل او مدلل معلومات د عمرې او حج بنیادي زده کړه د حضرت محمد ﷺ زیارت او د مدینې منورې په اړه مکمل بیان وکړم.

البته ځینې کسان وایي چې سید نورالله ناقل دی، هو زه یې منم چې زه ناقل یم مجتهد نه یم او نقل یا د معلوماتو راټولول عیب نه دی بلکې د دین مدار پر نقل دی د رسول الله ﷺ د زمانې څخه بیا تر نن ورځې پورې هر څوک دې تکړه سي له کتابونو دې صحیح نقل د دین د پر مختګ په موخه وکړي تر څو د الله جل جلاله د رضاء سبب وګرځي.

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ».(١)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل د حسد څخه ځانونه وساتئ، ځکه حسد نيکی داسي خوري لکه وچ لرګي چي اور خوري.

قال ابن الجوزي رحمه الله: مَنْ أَحَبَّ أَنْ لَّا يَنْقَطِعَ عَمَلُهُ بَعْدَ مَوْتِهِ فَلْيَنْشُرِ الْعِلْمَ.(٢)

ژباړه: ابن جوزي رحمه الله وفرمايل: څوک چي دا خوښوي چي ښېګڼې يې تر مرګ وروسته هم قطعه او پرې نسي نو علم دي نشر او خپور کړي.

قَالَ ابْنُ الْمُبارَكِ رَحِمَهُ اللّٰهُ: لَا أَعْلَمُ بَعْدَ النَّبُوَّةِ دَرَجَةً أَفْضَلَ مِنْ بَثِّ الْعِلْمِ.(٣)

---

١ رواه ابوداؤد: رقم الحديث ٤٩٥٣.

٢ التذكرة: ص ٥٥.

٣ تهذيب الكمال: ١٦ و ص ٢٠.

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: ابن مبارک رحمه الله وفرمایل: د نبوت څخه راوروسته د علم تر خپرولو په بله غوره درجه نه یم خبر.

(لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ)

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ

وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَأَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ketabton.com - The Digital Library



**الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰالَمِينَ، نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمَ؛ أما بعد!**

دغه تالیف خاصاً باحکام العمرة والحج یعني د عمرې او حج مکمل لارښود به مو ان شاء الله د استفادې وړ وي له یوه اړخه مختصر کوتاه او له بله اړخه عمده، مدلل په تفصیلي ډول احکام او مسائل په اسانه او مروجه پښتو ژبه او د حنفي فقهي د معتبرو مصادرو، متونو، شروحو او فتاواوو څخه اخستل سوي او ما د دي کتاب په لیکلو د نورو کتابونو څخه هم استفاده کړې ده چې د حنفي مذهب مطابق لیکل سوي دي.
الله جَلَّ جَلَالُهُ دي اخلاص را نصیب کړي او د ریا او آفاتو څخه دي مو الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل حفظ او امان کي وساتي آمین.

الحمد لله په پښتو ژبه دا د عمرې او حج مکمل لارښود په هکله زه خپلو پښتنو حنفي مذهبو وروڼو ته دا مشوره ورکوم چي دغه د عمرې او حج مکمل لارښود د عمرې او حج د اداء کولو په وخت کي د یو ښه ملګري په توګه له ځان سره ولري د ده د ستونزو او ضرورت په وخت کي ډېر ښه مرسته ورسره

ketabton.com - The Digital Library



کوي، ښه لاره يې دا ده چي لومړی ټول لارښود يو ځل مطالعه سي.

او د خطا او نسيان احتمال به په کښي وي د هر مطالعه کوونکي څخه زموږ هيله دا ده چي موږ ته دي د غلطۍ په هکله خبر راکړي او دا د هر مسلمان دنده ده الله ﷻ به ډېر ثواب ورکړي څو په راتلونکي چاپ کي هغه غلطي اصلاح سي او هغه چا چي په دغه مکمل لارښود کي يې تعاون کړی وي الله تعالی ﷻ دي په دنيا او آخرت کي اجر او ثواب د دغه صدقه جاريه ورکړي آمين!

په اخر کي بايد دا خبره وکړم چي د عمرې او حج مکمل لارښود د مسائلو او د ماخذونو په راټولولو کي زياته مرسته او کومک زما مشر زوی الشيخ الحافظ السيد محمد آغا صاحب (مدني) کړی دی؛ الله ﷻ دې د ده سعي قبوله کړي. آمين

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې او حج د مکمل لارښود مراجع او ماخذونه):

| شمیره | د کتاب نوم | شمیره | د کتاب نوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | قرآن کریم<br>تَنْزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ | ۷ | سنن ابن ماجه للإمام محمد بن یزید |
| ۲ | صحیح البخاری للإمام محمد بن إسماعیل البخاري | ۸ | کتاب الأصل: للإمام محمد بن الحسن الشیباني، المتوفی سنة ۱۸۹ هـ |
| ۳ | صحیح مسلم للإمام بن الحجاج القشیري النیسابوري | ۹ | سنن دار قطني للإمام علي بن عمر البغدادي، المتوفی سنة ۳۸۵ هـ |
| ۴ | جامع الترمذي للإمام محمد بن عیسی الترمذي | ۱۰ | الفتاوی الولواجیة، للإمام الفقیه أبي الفتح ظهیرالدین عبدالرشید بن أبي حنیفه بن عبدالرزاق الوالوالجي، المتوفی سنة ۵۳۰ هـ |
| ۵ | سنن أبي داود للإمام أبي داود سلیمان بن الأشعث إسحاق بن بشیر الأزدي السجستاني | ۱۱ | سنن الکبری، للإمام أحمد بن محمد الحسن الخراساني البیهقي، المتوفی سنة ۴۵۸ هـ |
| ۶ | سنن النسائي للإمام أحمد بن شعیب الخراساني النسائي | ۱۲ | المبسوط، للإمام محمد بن أحمد السرخسي التونسي المتوفی سنة ۴۸۳ هـ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٣ | بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، للإمام أبي بكر بن مسعود الكاساني، المتوفى سنة ٥٨٧ هـ | ١٩ | الحاوي القدسي، تأليف القاضي جمال الدين أحمد بن محمود بن سعيد القابسي الغزنوي الحلبي الحنفي، المتوفى في حلب سنة ٥٩٣هـ |
| ١٤ | فتاوى قاضي خان في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة، للإمام الحسن بن منصور قاضيخان الفرغاني، المتوفى سنة ٥٩٢ هـ | ٢٠ | الفتاوى التاتارخانية، للشيخ فريد الدين عالم بن العلاء الهندي المتوفى سنة ٧٨٦ هـ |
| ١٥ | الهداية في شرح البداية، للإمام علي بن أبي بكر المرغيناني، المتوفى سنة ٥٩٣ هـ | ٢١ | الوجوه النيرة شرح مختصر القدوري للإمام أبي بكر بن علي الزبيدي، المتوفى سنة ٨٠٠ هـ |
| ١٦ | عمدة الفقه، للإمام عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي، المتوفى سنة ٦٢٠ هـ | ٢٢ | فتح القدير، للإمام محمد بن عبد الواحد بن الهمام، المتوفى سنة ٨٦١ هـ |
| ١٧ | تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق، للإمام عثمان بن علي الزيلعي، المتوفى سنة ٧٤٣ هـ | ٢٣ | البحر الرائق شرح كنز الدقائق، للإمام زين الدين بن نجيم المصري، المتوفى سنة ٩٧٠ هـ |
| ١٨ | وفاء الوفا بأخبار دار المصطفى، تأليف نور الدين علي بن أحمد المصري السمهودي نزل دارالهجرة، المتوفى سنة ٩١١ هـ | ٢٤ | كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، للعلامة علي بن عبد الملك الهندي، المتوفى سنة ٩٧٥ هـ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢٥ | مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح، للشيخ حسن بن عمار الشرنبلالي، المتوفى سنة ١٠٦٩ هـ | ٣١ | الموسوعة الفقهية الكويتية، تأليف هيئة كبار علماء الإسلام، مجلد ٤٥ |
| ٢٦ | مجمع الأنهر في ملتقى الأبحر، لعبد الرحمن بن محمد شيخي زاده، المتوفى سنة ١٠٨٨ هـ | ٣٢ | شرح لباب المناسك، للإمام علي القاري، المتوفى سنة ١٠١٤ هـ |
| ٢٧ | الدر المختار شرح تنوير الأبصار، للإمام محمد بن علي الحنفي الصفكي، المتوفى سنة ١٠٨٨ هـ | ٣٣ | النهر الفائق شرح كنز الدقائق، لعمر بن إبراهيم الحنفي، المتوفى سنة ١٠٠٥هـ |
| ٢٨ | حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح، للإمام ابن محمد الطحطاوي، المتوفى سنة ١٢٣١ هـ | ٣٤ | الفتاوى الأسعدية في فقه الحنفية، مولانا السيد اسعد بن أبي بكر المدني الحسيني، المتوفى سنة ١١١٦ هـ |
| ٢٩ | حاشية ابن عابدين رد المحتار على الدر المختار، لمحمد أمين بن عمر الشهير بابن عابدين، ولد بدمشق سنة ١١٩٨ هـ وتوفي سنة ١٢٥٢ هـ | ٣٥ | إرشاد الساري إلى مناسك الملا علي القاري، لحسين بن محمد سعيد المكي |
| ٣٠ | الفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، تأليف لجنة علماء برئاسة الشيخ نظام الدين البلخي | ٣٦ | اللباب في شرح الكتاب، لعبد الغني بن طالب الميداني، المتوفى سنة ١٢٩٨ هـ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ٣٧ | الفقه الإسلامي وأدلته، للدكتور وهبة الزحيلي، المتوفى سنة ١٤٣٦ هـ | ٤٤ | حصن الحصين، تأليف علامة محمد بن محمد جزري، المتوفى سنة ٨٣٣ هـ |
| ٣٨ | فتاوى دار العلوم ديوبند، تأليف مفتي عزيز الرحمن عثماني | ٤٥ | تقريرات الرافعي على حاشية ابن عابدين مفتي الديار المصرية عبدالقادر الرافعي سنة ١٣٢٣ هـ) |
| ٣٩ | منحة الخالق على البحر الرائق، للعلامة الشيخ محمد أمين عابدين بن عمر عابدين الدمشقي الحنفي، المتوفى سنة ١٢٥٢هـ | ٤٦ | فتاوى رحيمية، لمولانا الحافظ مفتي سيد عبدالرحيم صاحب لاجپوري، دارالاشاعت كراچي |
| ٤٠ | كنز الدقائق في فروع الحنفية، للشيخ الإمام أبي البركات عبدالله بن أحمد بن محمود المعروف بحافظ الدين النسفي، المتوفى سنة ٧١٠ هـ | ٤٧ | غنية الناسك في بيعة المناسك، لمحمد حسن شاه سواتي، المتوفى سنة ١٣٦١ هـ) |
| ٤١ | الفتاوى البزازية، للأمام حافظ الدين بن محمد بن محمد بن شهاب المعروف بابن البزاز الكردي، المتوفى سنة ٨٢٧ هـ | ٤٨ | المحيط البرهاني في الفقه النعماني،للإمام محمود بن احمد بن مازة البخاري، المتوفى سنة ٦١٦ هـ |
| ٤٢ | فتاوى محمودية، تأليف مولانا مفتي محمود حسن گنگوهي | ٤٩ | فتاوى النابلسي، لعبد الغني إسماعيل النابلسي، المتوفى سنة ١١٤٣هـ |
| ٤٣ | الفقه على مذاهب الأربعة، لعبد الرحمن الجزيري | ٥٠ | الترغيب والترهيب، تصنيف إمام أبو محمد زكي الدين عبد العظيم منذري المتوفى سنة ٦٥٦ هـ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ٥١ | احكام الحج، تأليف حضرت مولانا مفتى محمد شفيع صاحب، دار الاشاعت، كراچي | ٥٧ | العلاج في أمراض الحجاج، للعبد الأحقر محمد سرور |
| ٥٢ | النقاية، للإمام عبيد الله بن مسعود المحبوبي، المتوفي سنة ٧٤٧ هـ | ٥٨ | قاموس الفقه، تأليف مولانا خالد سيف الله رحماني |
| ٥٣ | الفقه الحنفي في ثوبه الجديد صياغة جديدة وميسرة للأحكام الشرعية على مذهب الإمام أبي حنيفة، تأليف عبدالحميد محمود طهاز | ٥٩ | زبدة المناسک مع عمدة المناسک، تأليف حضرت مولانا رشيد أحمد گنگوهي |
| ٥٤ | منهاج السنن شرح جامع السنن، تأليف للعلامة الشيخ والمفتي محمد فريد | ٦٠ | السنن الصغرىٰ للإمام أحمد بن الحسين الخراساني البيهقي |
| ٥٥ | مكة المكرمة تاريخ ومعالم | ٦١ | فتح باب العناية بشرح النقاية للإمام الفقيه المحدث نور الدين أبي الحسن علي بن سلطان محمد |
| ٥٦ | المنجد في اللغة للويس معلوف القاموس الفقهي لغة واصطلاحا، للدكتور سعدي ابوحبيب | ٦٢ | جذب القلوب الى ديار المحبوب، للإمام عبد الحق دهلوي كانپوري |

ketabton.com - The Digital Library





| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٣ | سرکار دو عالم صلی الله علیه وسلم کا طریقه حج وعمره تالیف مولانا مفتي محمد ارشاد القاسمي | ٦٧ | تاريخ مسجد نبوی شريف، محمد الياس عبد الغنى، المدينة المنورة |
| ٦٤ | تاريخ مكة المكرمة، محمد الياس عبدالغني المدينة المنورة | ٦٨ | فضائل الحج، تألیف حضرت مولانا الحافظ محدث محمد زکریا صاحب، دارالاشاعت، کراچي |
| ٦٥ | آپ کی مسائل اور ان کا حل، تألیف مولانا محمد یوسف لدهیانوی | ٦٩ | تاريخ مدينة المنورة، محمد إلياس عبدالغني المدينة المنورة |
| ٦٦ | المدينة المنورة تاريخ و معالم | | |

ketabton.com - The Digital Library



## (يادونه)

ډېر د قدر وړ محترمو او معززو لوستونکو!

لله الحمد د الله جَلَّ جَلَالُهُ په مرسته او کومک سره د عمرې او حج مکمل لارښود پای ته ورسيدی هيله لرم چي ستاسو به د استفادې وړ وګرځي، د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په مهربانۍ او فضل سره مو وکولی شول چي دا کتاب د دري ژبو هېوادوالو لپاره په دري ژبه هم وژباړو. څرنګه چي د پښتو او دري تر منځ هيڅ توپير نسته دغه دواړي ژبي د يوې وني څانګي دي نو د خپلو دري ويونکو ورونو د اړتيا د پوره کولو له پاره مو دا خدمت هم تر سره کړ. په راتلونکي کي إن شاء الله دا سي پلان لرم چي د عمرې او حج همدغه مکمل لارښود اردو او انګليسي ژبو ته هم وژباړم. نو ستاسو د ټولو ورونو څخه مي داغوښتنه ده چي ما ابو محمد مدني په خصوصي دعاوو کي ياد کړئ چي الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د حج او عمرې همدغه مکمل لارښود په دې ژبو کي د ترتيبولو توفيق راکړي. آمين

(أخوكم في الله أبو محمد السيّد (مدني) غفر له الباري)

ketabton.com - The Digital Library



## (د مساجدو د آبادولو فضیلت)

الله تبارک و تعالی په خپل مقدس کتاب قرآن مجید کې د مساجدو د جوړوونکو او آبادوونکو کسانو فضیلت او ثواب ذکر کړی دی چې الله ﷻ به ورته هدایت کوي الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ﴾

ژباړه: د الله د مسجدونو ودانوونکي خو هماغه خلک کېدای شي چې الله او د آخرت ورځ ومني او لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي او له الله پرته له بل هیچا څخه ونه ویرېږي، له هماغوی څخه دا توقع ده چې په سمه لاره به لاړ شي.

رسول الله ﷺ د مساجدو د جوړولو او آبادولو په هکله زيات ترغیب صحابه کرامو ته ورکړی دی، رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې د الله تعالی د رضا له پاره مسجد جوړ کړي الله تعالی به د ده له پاره په جنت کې یوه ماڼۍ تیاره کړي.

ketabton.com - The Digital Library



او الله تعالی مکة مکرمة او مدینة منورة غوره ځایونه بللي دي، دوی ته یې شرف او عزت ورکړی دی او په خاصه توګه حرمینو شریفینو ته یې لوړ مقام او منزلت ورکړی دی چې ټولو مسلمانانو ته دا څرګنده او معلومه ده.

نو له همدې امله د اسلامي زمانې په اوږدو کې واکمنانو په خپله زمانه کې په حرمینو شریفینو کې ډول ډول پراخوالی تر سره کړه.

لکه څرنګه چې لومړی پراخوالی خلفاء راشدینو تر سره کړ، وروسته اُموییانو، بیا عباسینو، بیا عثمانیینو چې همدا د حرمینو شریفینو د خدمت سلسه اوس د آل سعود کورنۍ تر سره کوي. نوموړي کورنۍ په حرمینو شریفینو کې یې ډیر زیات خدمتونه کړي دي او د عمره کوونکو او حجاجو له پاره یې زیات سهولتونه برابر کړي دي، البته دوی چې کوم د حرمینو خدمتونه کړي دي، دا خدمتونه هغه چا ته معلومیږي کوم څوک چې په مکة مکرمة یا مدینة منورة کې او سیږي او یا د عمرې یا حج په سفر باندې تللی وي الله تعالی دې د دوی

ketabton.com - The Digital Library



څخه ټول خدمتونه قبول کړي، الله تعالی دي د دوی څخه راضي سي او الله تعالی دي دوی ته اجر عظیم ورکړي چي دوی دا ستر خدمت تر سره کوي او الله تعالی دي دوی ته نور هم توفیق ورکړي چي د حرمینو شریفینو خدمت ته نوره هم توجه وکړي. آمین

ketabton.com - The Digital Library



## (د عمرې او حج مکمل لارښود د ترتیب کوونکي لنډه پېژندنه)

الحاج سید نور الله آغا (مدني) د علمي شخصیت شیخ سید محب الله آغا صاحب رحمه الله زوي او د فخرالعارفین، خادم دین مبین حضرت سید خیرالدین آغا صاحب چې په (خلوتي آغا) سره شهرت لري لمسی دي.

نوموړی په سنه ۱۳۷۸هجري قمري د جمادي الثاني میاشتي په لومړی نېټه چې له ۱۹۵۸میلادي کال سره سمون خوري د کندهار ښار د پنځمي ناحیې د ده خواجه په کلي کي په یوې متدینې او روحاني کورنۍ کي دنیا ته سترګې غړولي دي.

د سید خلوتي آغا صاحب خاندان د اجدادو او نیکونو د تاریخ په باب اسناد او مدارک موجود دي چي د واحد لایزال الله جل جلاله په فضل او احسان سره پکي نسل په نسل مدرسین، عالمان، مصنفین، متصوفین، شاعران او د قلم خښتنان پکي تیر سوي دي.

ketabton.com - The Digital Library



حاجي آغا صاحب (مدني) حفظه الله د کورنۍ او نسب لړۍ د بني هاشمو مبارکي کورنۍ سيدنا خليفة الرابع علي مرتضی رضي الله عنه وکرم الله وجهه ته په مستنده توګه رسيږي. (کذا في مخزن الأفغانية وتاريخ خورشيد جهان)

د حاجي آغا صاحب خاندان روحاني کورنۍ، د جامعې خدمتګاران دي او کوم علمي او فرهنګي خدمتونه چې هغوی کړي دي ټول ملت يې مديون دی.

کله چي په افغانستان کي د خلقيانو نظام راغی نو حاجي آغا صاحب د حکومت د فشار له امله مجبور سو چي هجرت وکړي او په سنه ۱۳۵۹هجري شمسي و حرمين شريفينو ته مهاجر سو چي تقريبا ۴۵ کاله کيږي هلته له خپل فاميل سره يو ځای په مدينه منوره کي ميشت او مقيم وګرځيد.

د پاک رب العلمين شکر ګذار دی او هلته يې د خپلو هيوادوالو او خصوصاً د ټولو علماوو، مجاهدينو او دوستانو په ښه اخلاص خدمتونه کړي دي، الله جل جلاله دې

ketabton.com - The Digital Library



يې پخپل عالي دربار کي مقبول وګرځوي.آمين يا رب العالمين

نو موړی په مدينه منوره کې تجارت هم کوي چي تر نن ورځې پورې همالته بوخت او مقيم دی.

د حاجي آغا صاحب يوازينۍ آرزو د لوی څښتن تعالی رضاء ده چي د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د خپلو افغانانو عمره کوونکو او حاجيانو مبارکانو د يوه خادم په حيث خدمت وکړي. نوموړي دا کتاب د دې لپاره وليکه چي محترم عمره کوونکي او حاجيان صاحبان که چېري عمل په وکي نو په صحيح توګه به عمره او حج ادا کړای شي.

موږ د الله جل جلاله له دربار څخه ټولو حاجيانو صاحبانو او عمره کوونکو ته د مبرور او مقبول حج او عمرې غوښتونکي يو او د دې کتاب مؤلف ته دعاء کوو چي الله سبحانه و تعالی يې دغه عرق ريزۍ او محنت ته د قبوليت مقام ورکړي. آمين يا رب العالمين.

ketabton.com - The Digital Library



## (د دې کتاب د چاپ د لګښت په اړه یادونه)

څرنګه چي دا کتاب یوه غوره تحفه او ښه خیر جاري دی نو یو ښاغلي فاعل خیر د الله ﷻ د رضا له پاره د دې کتاب د چاپولو او خپرولو لګښت پر خپله غاړه واخیست الله تعالی دي د فاعل خیر ښه نیت قبول کړي. آمین

یادونه: ټولو مسلمانانو وروڼو ته خبر ورکول کیږي چي دغه د عمرې او حج مکمل لاربنود د خرڅېدلو له پاره نه دی دا هر عمره او حج کونکي ته مجاناً مفت او بې پیسو ورکول کیږي، لهذا د ټولو چاپي مطبعو او کتاب پلورنځیو څخه دا غوښتنه کیږي چي دغه کتاب ونه پلوري.

قد تم الکتاب بعون الله تعالی وتوفیقه

ورځ پنج شنبه ۱۵/ محرم/ ۱۴۴۲ هجري قمري الموافق ۲۰۲۰/۹/۳ میلادي


إعداد و ترتیب:

## (الحاج سیّد نور الله آغا) (مدني)

خپروونکی سید محمود آغا (مدني) و سید حامد آغا (مدني)


(یُوَزَّعُ مَجَانًا وَلَا یُبَاعُ)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*